# نوی
# ژوندون

GLOBAL UNIVERSITY

# نوی ژوندون

GLOBAL UNVERSITY

# نوی ژوندون

ليکونکئ :
لوئيس جيټرواکس

*Global University*
*P. O. Box 5749*
*Nicosia, Cyprus*

# ((نوی ژوندون))

لومړۍ چاپ        ۲۰۰٤

© 2004 All Rights Reserved

*Pashto " Your New Life" 2004*

*Global University*
*P. O. Box 5749*
*Nicosia, Cyprus*

# دعنوانونو فهرست


| دلوست عنوان | | | د پاڼې نمبر |
|---|---|---|---|
| دکتاب په اړوند څو خبرې | | | ۱ |
| لومړی لوست | : | دنوي ژوندون پيل | ۳ |
| دوهم لوست | : | لومړني ګامونه | ۱۹ |
| دريم لوست | : | دآسماني پلار سره راز او نياز | ۳۷ |
| څلورم لوست | : | روحاني وده | ۵۳ |
| پنځم لوست | : | نوي فعاليتونه | ۶۷ |
| شپږم لوست | : | نوي قوانين | ۸۹ |
| اووم لوست | : | ستاسو مؤنس او مددګار | ۱۰۱ |
| اتم لوست | : | د نوي ژوند رڼا | ۱۱۳ |
| نهم لوست | : | د کورنۍ ماحول | ۱۳۱ |
| لسم لوست | : | آزادي | ۱۴۵ |

## کتاب په اړوند يو څو خبرې

کوم کتاب چې اوس ستاسو په لاس کې دی، ليک او تصنيف ئې په داسې يوې ځانګړې طريقې شوی چې لوستل، او په موضوعاتو ئې پوهيدل آسان دي. تاسو هرچيرته چې اوسی، اوهر څومره وخت چې لرئ، کولای شی دا کتاب په ډيره مينه ولولی.

د دې کتاب د خپرولو څخه زموږ هدف او مقصد، تاسوته د مسيحی ژوندون در پيژندنه، او د دې تګ لارې ښودنه ده. او زموږ ستره هيله داده چې درانه لوستونکی، هغه موضوعات چې پدې کتاب کې لولی بايد د خدای په مرستی سره په خپل ژوند کې عملی، اوترې کار واخلی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

د صحيح ځواب مخی ته نښه ورکړی.

١- داکتاب په کومه طريقه ليکل شوئ دئ؟

الف) په يوې خاصی او ځانګړی طريقی.

ب) په يوې خاصې او ساده طريقې.

٢- دايو داسې کتاب دی.

الف) چې په درسی صنف کې تدريسيږی.

ب) ستاسو دپاره دی، هر چير ته اوسی.

دا کتاب ديو ښوونکی په توګه تاسوته ښوونه کوی چې کوم ځواب صحيح دی. په لومړی پوښتنه کې صحيح ځواب ((الف)) او په دوهمه پوښتنه کې صحيح ځواب ((ب)) دی.

هغه سوالونه چه دلوست په دوران کې طرحه او ليکل شوي دی:

نه پريږدي چې ستاسو افکار ګډوډ شي.

ستاسو پوهه دهغه څه په باره کې مو چې لوستلی ده، امتحانوی.

دهر لوست مهم ټکی ستاسو حافظې ته سپاری.

د سوالونو ځوابونه به دهر لوست په آخر کې وګورى .مهربانى وکړى، تر ځو چې پخپله مو ځوابونه نه وى ورکړى دغى برخى ته کتنه مه کوى. کله مو چې پخپله دلوست سوالونه حل کړل، بیانو خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړى .

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

د پوره کوونکى ځواب مخى ته نښه وکړى

٣- دغه سوالونه او ځوابونه تا سو سره مرسته کوى ځو...

الف ) خپله پوهه دهغه څه به اړوند چې مولوستلى دى وازمائى.

ب ) باید چې د موضوع نه په پوره توګه خبر ولرى.

کله کله کتاب له تاسو څخه غواړى چې دپوښتنو د ځوابونو څخه بغیر ځه کارونه سرته ورسوى.داتمرینونه تاسو سره مرسته کوى چې لوست په ښه توګه زده کړى. نو بیا باید چې ټول په پوره ډول حل کړى .دغه کتاب ستاسو ، او ستاسو د مسیحى ژوندون په هکله بحث کوى، او کیداى شى چې ستاسو له پاره یولوى برکت او ستره مرسته وى. په زرګونو زده کوونکو د دې کتاب څخه ګټوره ګټه پورته کړې ده. خو هغه څه چې زده کوى، یوازى هغه وخت به نتیجه ولرى، چې هغى ته عملى بڼه ورکړئ.نو بیا هر هغه څه چې زده کوى سمدستى ئې عملى او کار ترې واخلى.

## خپل ځوابونه مقایسه کړى

٣- الف ) خپله پوهه دهغه څه به اړوند چې مولوستلى دى معلومه او وآزمایى.

# نوی ژوندون

**آیا غواړۍ چې:**

- د حقیقي ژوندون په خوند پوه شۍ ؟
- د خدای آواز واورئ چې تاسو سره خبرې کوي ؟
- خپلو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړۍ ؟

که چیرې ستاسو ځواب مثبت وي، باید وویل شي چې دغه کتاب به ستاسو لپاره ډیر ګټور وي. ډیرو زیاتو خلکو ددې کتاب د لوستلو څخه ګټه اخیستې ده او ډیر په هوسایني او آسانۍ سره یې د دې موضوعات زده کړي دي. دیرو مسیحي ښوونکو په ټوله نړۍ کې ددې کتاب په لوستلو باندې ټینګار کړي دۍ.

دا کتاب دیو زړه پورې خو دآموزه اسلوب څخه برخمند دۍ چې یادول ئې آسانه کړیدي. یوازې همدابس دی چې لارښونې یې عملي کړۍ او خپل ځان وآزمایئ

# دنوی ژوندون پیل

## هغه څه چې تاسو به ئې په دې لوست کښې ولولئ

- د نوی ژوند څرنګوالی
- دنوی ژوند دندی او وظیفی
- پلار په نوی کورنی کښې
- مشر ورور په نوی کورنی کښې
- روح القدس په نوی کورنی کښې
- مسیحیان په نوی‌کورنی کښې .

## دنوی ژوند څرنګوالی

دهغه وخت څخه را پدی خوا چې عیسی مسیح مو د خپل ژغورونکی په توګه منلی دی نو نوی ژوند په تاسو کښې خپلی غوټۍ سپړلی دی. عیسی مسیح ددې ژوند بخښونکی او ډالی ورکوونکی دی. داسی یوی بی ساری او لوړ ژوند ورکوونکی چې تلپاتی نیکمرغی او بی زواله خوشحالی ورسره ملګری ده.

تا سو خپل ژوند د ټولو ګناهانو، او ماتو سره هغه ته ورکړی دی او ددې په بدله کښې هغه تاسو ته خپل سپیڅلی ژوندون وبخښلو. په همدې اساس اوس تاسو د خدای زامن ، او د دې مقام د عالی نیکمرغیو او امتیازونو څخه برخه مند یی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

د صحیح ځواب په غوره کولو سره د هغې مخې ته نښه کیږدی.

۱- ستاسو د نوی ژوند سرچینه څه شی دی ؟

الف ) د مسیحیت لورته هڅه کول.

ب ) عیسی مسیح .

ج - د کلیسا سره پیوستون .

هغه نوی اوتازه ژوند چې په تا سو کښې په لومړی ځل شروع شوی دی ستاسو ژوندون ته د عیسی مسیح دراتګ ښکارندوی دی. د خدای کلام یعنی مقدس کتاب داسې فرمائی:" خدای پاکانوته ظاهرول غوښتل چې دا بې حده شاندار او قیمتی راز د غیر یهودیانو د پاره هم دی، او هغه راز دا دی چې مسیح په تاسوکښې اوسیږی او هم هغه د راتلونکی جلال امید دی." (کولوسیان ۱ : ۲۷)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

د صحیح ځواب مخی ته نښه ورکړئ .

۲ – د کومه ځایه ځخه پدي پوهیږی چې په عیسی مسیح کښې نوی ژوندون نغښتی دی ؟

الف ) د مقدس کتاب ځخه.

ب ) د ساینسی علومو ځخه.

ج ) د مختلفو مذهبونو ځخه.

حقیقی مسیحی هغه څوک دئ چې عیسی مسیح په هغه کښې ژوندوکړی. او د هغه روح په هغه کښې ځای ونیسی. ځینی خلک دا فکر کوی چې مسیحیت یو بی معنیٰ او ستړی کوونکې لاره او مذهب دی. دا څومره لویه غلطی اوتیروتنه ده.

مسیحیت د نوی ژوند نوم او نوی ژوندون دی، چې د حقیقی نیکمرغی او د نعمتونو د پراختیا ځخه ډک او برخمند دی. مسیحیت یوه ځلانده او با مقصده انجام ته رسیدونکی ژوند دی. چې مسیحی شخصیت په هغی کښې خپل روښانه او با تدبیره ژوندون ترلاسه کوی او ونډه اخلی او فکری آزادی بیامومی .

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسویې سرته ورسوئ

۳- د خپل ژغورونکی په صفت د عیسیٰ مسیح په منلو سره مو

الف ) غم لاپسی زیات شوئ دئ.

ب ) خوښی مو څو برابره شوی ده .

ج ) په قید او بند کښې پریوتی یې.

"عیسی مسیح فرمائیلې دي .... زه دی له راغلی یم چې خلک ژوندون و مومی او ډیر ئی و مومي. (یوحنا ۱۰ : ۱۰ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۴- په ( یوحنا ۱۰ : ۱۰ ) آیت کښې د عیسیٰ مسیح وینا لهٔ یاده زده کړی

۵- عیسیٰ مسیح د نیا ته راغی څو...

الف) مونږ محکوم کړی .

ب) مونږ ته د نعمتونو څخه ډک ژوندون راکړی.

ستاسو نظر او هدف د دی ژوندون په پیل سره د تغیر او بدلون او د خوشحالی زیری ګرځی. نور نود ګناه د بار کوم تاثیر نشته، ځکه ستاسو ګناهونه بخښل شوي دي. زړه مو د داسې نوی ظاهریدونکی مینې او محبت څخه، چې د خدای او نورو سره به ئی لری ډکیږی، کوم چې خوښی او یو عجیبه ډول آرامتیا ستاسو په برخه ګرځوی او تاسو به په خپل زړه کښې د دې نوو بخشیشونو لپاره د خوښی او قدردانی احساس کوی. د خدای حضور او ظاهریدل، قدرت او ښیګڼه به په پوره توګه تاسوته محسوسیږی او پرې به پوهیږی. د خدای د رضا د لاس ته راوړلو لپاره او د نورو سره د مرستی کولو په خاطر به یوه عجیبه علاقه او مینه پیدا کړی. او

دغه مینه او علاقه به ستاسو د ژوند په کارونو باندی ژوره آغیزه ولری.

د وریښمو د چینجی د بدلون څرنګوالی په یو کامل پتنګ باندې، د هغه تغیر او تحول سره بې مشابهته او بی ورته ندی، چې روح القدس ئې په تاسو کښې منځ ته راوړی.

په دې توګه نور نو د دې څخه وروسته لکه د چینجی په څیر په سینه تګ نه کوئ او زحمت به نه تیروئ ځکه چه عیسی مسیح ستاسو د ژوندون بڼه او شخصیت په یو نوی شخص بدل کړ او ستاسو روح ته ئې وزرونه وبخښل څو په آزاده توګه والوزی او یوه نوی زیږیدنه موترلاسه

کړه، نور نو د پخوا په شان ګناه ګار نه یاست، بلکه د خدای زامن جوړشوی یی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۶- په نوی ژوند کښې به د کوم شي څخه برخمند شی؟

الف) ارمان او نوی فکری کړنلاره.

ب) ډیر مال دولت.

ج) ډیر شهرت.

۷- کله چې په مسیح کښې نوې زیږیدنه تر لاسه کوی، نو ستاسو ژوندون ...

الف) د ستونزواو کړاونوڅخه خلاصون مومي .

ب ) د خدای او نورو سره په مینه کولو باندې به ماړه او معمور شی.

ج ) د شخصی عمل د آزادی څخه به برخمند شی.

## دنوی ژ وندون دندې او وظیفی

خدای تاسو د کورنی د یوکوچنی ماشوم په څیر د خپلې مینی او پالنی لاندې نیسی او ځارنه موکوی. مګر د دې سره سره باید دهغه قوانین اولاز دودونه چې ستاسو د سلامتیا او قوت مندی لپاره ئې ټاکلی دي هم قبول کړئ.

خدای تاسوته تراوتازه طبیعیت درکړی دی، اوس نو د هغی پالنه او پراخوالی او همدارنګه د هغه لویوالی، خاص ستاسو په لاسو نو کښې دی.

دغه درسونه به تاسو سره د نوې طبیعت په پالنه او ودې کښې مرسته وکړی. د دې لوستونو د مطالعی په ترځ کښې به ښائی دې ته پاملرنه وکړی، چې د کومو امتیازاتو او مسئولیتونو څخه برخمند هستی، او تر هغه وخته پورې چې په دې دنیا کښې ژوندکوی ترې استفاده وکړی. نو بیا به ښائی مسیح تاسو خپل آسمانی کورته بوځی. داسې یوځای ته چې به زرګونو ځلی د دنیا هر شی څخه اوچت او بهتر دی.

# ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو يې سرته ورسوئ

۸- دا درس د کوم مطلب او موضوع په هکله دی ؟

الف) د کلیسا د غړو د ژوند د لارښودنو په هکله.

ب) د هغه ثانوی او دوهم طبیعت په هکله کوم چې خدای تاسوته درکړی دی.

ج ) دهغه لارښونو په باره کښې چې مسیحیان باید د هغو څخه پیروی وکړي.

۹- دا درسونه د دي دپاره مطالعه کوئ ترڅو......

الف) بری لیک ترلاسه کړی او شهادت نامه واخلی.

ب ) د دین په باره کښې بحث او مباحثه وکړی .

ج ) د خدای د زوی ګلوی ځانګړ تیاوی او امتیازونه تر لاسه کړی.

د دې ژوندون ډير غوره بنسټ او د کامیابی راز، همیشه د عیسی مسیح سره په یوالی کښې پاتی کیدل دي. مقدس انجیل وائی: "په ما کښې اوسی لکه زه چې په تاسو کښې اوسم ... تاسو هم تر هغې میوه نه شی نیولی ترڅو چې تاسو په ما کښې نه اوسی." (یوحنا ۱۵: ۴ او ۵ )

نو دکومی ورځی څخه موچې عیسی مسیح د خپل ژغورونکی خدای په صفت منلی دی، تراوسه پورې، او د همیشه لپاره د هغه سره په اتحاد او یووالی کښې ژوند وکړی. او لکه څنګه چې مو هغه

ورځ هغه خپل خلاصونکی خدای منلی دی همدارنګه اوس هم د تل لپاره د هغه سره په يووالی کښې ژوند وکړی  په نوې  لوظنامې کښې ليکل شوي دي: "نو تاسو چې مسيح عيسی په طور دخپل مالک قبول کړو، هم هغه شان د هغه په يووالی کي ژوندون تيروئ او په هغه کي د ونو په شان بيخ ولرئ او د مانۍ په شان په هغه بنياد ولرئ، او څه رنګ چې تاسو تعليم اخستی دی، هم هغه شان په ايمان کښې مضبوط اوسئ ، او د خدای ډير شکر کوئ."

(کولوسيان ۲: ۶ او ۷)

نو په عيسی مسيح کښې خپلی ريښی کلکی کړی او څرنګه چې درته ښودنه شوی د خدای په ستاينه کښې د نورو لپاره يوه په زړه پورې نمونه شی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې بايدتاسوپې سرته ورسوئ

۱۰- که غواړی چې طاقتور او قوی مسيحيا ن جوړ شی بايد...

الف) په يووالی کښې د عيسی مسيح سره ژوند وکړی.

ب) زيار و باسی څو د عيسی  مسيح  په شان شی.

ج) د نورو مسيحيانو په څير ژوند وکړی.

## پلار په نوې کورنۍ کښې

قادر مطلق خدای چې د کائیناتو پیدا کونکی دی او دغه هستۍئې منځ ته راوړی ده، نو اوس ستاسو پلار دی. داسې فکر مه کوی چې خدای ستاسو نه لیری دی، هغه تاسو سره نږدی دی، او دې ته لیواله دی او هم ئی خوښه ده چې ستاسو په ټولو مشکلاتو کښې ستاسو ملګرتیا وکړی او ستونزی موحل کړی .

ستاسو آسمانی پلار خدای تا سوڅخه د دې انتظار کوی چې په پوره هوساینی او بالکل په ښکاره توګه، د یو داسې زوی په ځیرچې د خیل پوه او مهربانه پلار سره خبری کوی، د هغه سره خبری اتری وکړی. او هره ورځ په دعاکښې د همدغه خدای سره راز او نیاز وکړی، خپل د ژوند مسائل او ستونزی هغه ته وړاندې، او دحل لپاره یې د هغه څخه مدد وغواړی. د هغه د برکتونو اورحمتونو په سبب د هغه شکریه ادا کړی. خدای ستاسو سره مینه لري او هر څه چې ستاسو په ژوندون کښې وجود لری د هغه د پاملرنی لاندی ده. د هغه سره د خبرو لپاره ضروری نه ده چې په موزونو الفاظو، قافیه او ردیف پسی وګرځی. او یا دعاوی منظمی کړی، بلکه هر څه مو چې په زړه کښې وی هغه ته ئی ووائی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱۱- په نوی ژوند کښې، خدای

الف) یو وجود دی چې د لاس ته رسیدنی څخه لیری دی

ب) ستاسو مهربانه پلار دی

۱۲-ددعاپه وخت کښې باید .......................

الف) دعا لومړۍ حفظ او بیا یي تکرار کړو.

ب) باید د خدای سره په صفا الفاظو، ښکاره او آزاده توګه خبری وکړو.

ج) معنی داری کلمی او د دعا ځانګړی اوخاص اصطلاحات و کارو و.

## مشر ورور په نوی کورنۍ کښې

دخدای په کورنۍ کښې مشر ورور عیسی مسیح دی. هغه په دو مره اندازه تاسو سره مینه درلوده چې دي ته تیار شو چې ستاسو د ژغورنی په لار کښې ځان قربان کړي. عیسیٰ مسیح دا خوښوی چې تاسو سره مدد او مرسته وکړی، څو خوشحاله او په ګناه بریالی ژوند ولرۍ. د هغه څخه د خپل خلاصون په خاطر او د هغې ورځنیو مرستو په خاطر چې هره ورځ ئې له تاسو سره کوي مننه وکړۍ.

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱۳- په هغه نوې ژوند کښې چې پیل کړی مودی ،عیسی مسیح

الف ) ستاسو ژغورونکی او مشر ورور دی

ب ) یو قاضی او قضاوت کونکی دی

## روح القدس په نوی کورنی کښې

روح القدس هغه څوک دی چې د نوی زیږیدنی معجزه ئې په تاسو کښې سرته ورسوله، هغه ستاسو په ګناه ککړ او ملوث خوی بدل کړ او له تاسو څخه ئې د خدای زامن جوړ کړل.

اوس هم کله چه دا ضرورت پیښ شي چې د خپل زوړ طبیعیت سره جګړه او مقاومت وکړئ، روح القدس چمتو دی ستاسو په زړونو کښې ژوند وکړی. په پوره ایمان او تابعداری دهغه سره یو ځای کاروکړی څو تاسو زده کړی چې څه باید وکړی او د هغه کار د سرته رسولو قدرت هم تاسو ته درکړی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱۴- د نوی زیږیدنی معجزه د چا په وسیله رامنځ ته کیږی ؟

الف ) د مسیحی مبشر په واسطه

ب ) د کلیسا د لارښونکو او پالونکو په وسیله

ج ) روح القدس په وسیله

**۱۵** - روح القدس ستاسو په ژوندون کښې کوم کار سرته رسوی؟

الف ) هر وخت چې غلطی وکړی هغه مو بیداروي او خبرداری در کوي.

ب ) په تاسو کښې او سیږی، ستاسو مدد کوی، څو هغه څه چې صحیح او ښه دي، تر سره کړئ.

۱۶ - څرنګه او د څه لپاره د خدای اراده سرته رسوئ؟

الف ) په خپل سر. لکه د یو خود کار ماشین په څیر.

ب ) په ایمان او تابعداری د روح القدس سره یو ځای کار کوئ.

۱۷ - څرنګه کولای شی هغه څه چې باید وکړی پرې پوه شئ او سرته ئې ورسوئ؟

الف ) د خپل فکر په وړ تیا او طاقت.

ب ) ستاسو د ارادی په قوت.

ج ) د روح القدس د مرستی په وسیله.

## مسیحان په نوې کورنۍ کښې

هر چا چې نوی زیږیدنه موندلی وی، حقیقی مسیحی او د خدای زوی دی.

په دې خاطر چې خدای زموږ پلار دی نو مونږ ټول مسیحان هم یود بل خویندی او ورونه یو.

هغه کسان چې مخکی له تاسونه مسیحیان شوي دي ، ستاسو د راتلو ډیر درناوی او قدر کوي، او خوشحاله دی چې د خدای په کورنی کښې یونوی غړی راغلی دی، او دی ته لیواله دی چې تاسو سره دوستی وکړی ځوپه روحاني لحاظ وده وکړی او یو پوره او قوی مسیحی له تاسو څخه جوړ شی .

هر کله چې دیوې ستونزی سره مخامخ کیږی هغه د کلیسا شپونکو، او یا نورو ورونو او خویندو ته وړاندی کړی، او په دې باور ولری چې د هغوی مرستی او دعاوی به ډیرې ګټورې وي .

## ستاسو کار

## هغه څه چې بایدتاسو یې سرته ورسوئ

۱۸- ټول هغه واقعي مسیحیانو چې په رښتیا سره ئې نوی زیږیدنه ترلاسه کړی وی ...

الف ) په مسیح کښې یودبل خویندی او ورونه دی .

ب) د یو ښکاره او معین سازمان غړی دی .

ج ) یو د بل ښه ملګری دي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱- ب ) عیسی مسیح

۲- الف) د مقدس کتاب څخه

۳- ب ) خوښی مو څو برابره  شوې ده

۵ - ب) د نعمتونو څخه ډک ژوندون راکړی

۶-  الف ) آرمان او نوی فکری کړنلاره.

۷-  ب ) د خدای او د نورو سره په مینه کولو به مالامال شی.

۸- ب ) د هغه ثانوی او دوهم طبیعت په باره کښې کوم چې خدای تاسوته در کړی.

۹- ج ) د خدای دځوی ګلوی ځانګرتیاوی او امتیازات تر لاسه کړی.

۱۰- الف ) په یووالی کښې د عیسی مسیح سره ژوند وکړئ.

۱۱- ب ) ستاسو مهربانه پلار دی.

۱۲- ب ) باید د خدای سره په صفا الفاظو، ښکاره او آزاده توګه خبری وکړو.

۱۳-الف ) ستاسو ژغورونکی او مشر لارښود ورور دی .

۱۴-ج ) روح القدس .

۱۵- ج ) په تاسو کښې او سیږی، ستاسو مدد کوی څو هغه څه چې نیک، او ښه دی هغه تاسو تر سره کړی.

۱۶-ج ) ځکه چې په پوره ایمان او تابعداری د روح القدس سره یوځای کار کوی.

۱۷ – ج ) د روح القدس د مرستی او کمک په وسیله .

۱۸ – الف ) په عیسی مسیح کښې یو د بل خویندی او ورونه دي.

# یاداشت

# لومړني ګامونه

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولی

- خپل لاس د خدای په لاس کښې کيږدی
- شیطان هلی ځلی کوی چې تاسو په زمکه را وغورځوی
- آیا د عیسی مسیح په خاطر ستونزې او کړاوونه تیروۍ؟
- آیا ناامیده او شکمن هستۍ ؟
- ستاسو پلارله تاسوسره مینه لری.
- شک او نا امیدی د خپل ځان څخه لري کړی
- توبه وکړۍ
- په انجیل ایمان راوړی: په عیسی مسیح ایمان راوړی

## خپل لاس د خدای په لاس کښې کيږدی

مور او پلار څومره خوشحالیږی کله چې ددوی کوچنی بچی د لومړی ځل لپاره قدم واخلی او په لاره تلل پیل کړی او څومره زیاته خوښی به ستاسو آسمانی پلار ښکاره کوی کله چې په خپل نوی ژوند کښې تاسو قدم اخستل شروع، او په لاره تلل پیل کړۍ.

دلویدلو څخه مه ویریږی، همدا بس ده چې خپل لاس د خپل پلار په لاس کښې کیږدی او هغه ونیسی. سهار چې کله د خوب څخه پاڅیږۍ د هغه نه وغوړای چې په هغه کارونو کښې تاسو سره مرسته وکړی، کوم چې در په غاړه دي.

## ستاسو کار

## هغه څه چې بایدتاسو یې سرته ورسوئ

۱- په دې درس کښې د یو مسیحی شخصیت په څه ډول ستایل شوي دي ؟

الف ) هغه سړی چې په خپل طاقت په لاره تګ کوی.

ب ) هغه کوچنی ماشوم چې په لاره د تګ توان نه لري.

ج ) هغه سړی چې خدای سره لاس په لاره ځی.

## شیطان هلی ځلی کوی چې تاسو په زمکه را وغورځوی

شیطان د خدای او مسیحیانو دښمن دی . هغه کوشش کوی چې په هر ډول کیږی ستاسو د غورځولو باعث شی.

ستونزی، تکلیفونه، کړاوونه،ملنډی، دزړه بدوالی او وسوسی هغه لاری چاری دی چې شیطان ئی په کار اچوی او دهغی په وسیله تاسو د خپل خلاصون په اړه په شک او تردد کښې اچوي . هغه همیشه د مسیحیانو په مقابل کښې جنګیږی او هڅه کوی چې

دوی د خدای څخه جلا کړي. شیطان نه غواړي چې تاسو د خدای سره په لاره تلل زده کړئ.

په همدې اساس هر وخت دلومړیو قدمونو په پورته کولو کښې دسختو لاسوهنو، او خنډونو سره چې مخامخ کیږی مه حیرانیږی . ماشوم چې کله د کرسۍ لور ته ځی، کیدای شی چې خپل ځان ته ضرر ورسوی، او یا خپله موازنه له لاسه ورکړی او په مځکه پریوځی. مګر داسې یوه پیښه هم نشي کولای چه هغه د خپلې هڅې څخه ودروي . هغه خپل کوشش ته دوام ورکوی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۲- کله موچې په عیسی مسیح ایمان راوړ ...

الف) ستونزی مو هواریږي .

ب) شیطان هڅه کوی څو تاسو ته ماتې درکړی.

ج-: همیشه به غمجن، سرګردانه او پریشانه شې.

۳- شیطان ډیری هلی ځلی کوی او زیار باسی څو نوی مسیحیان

...........................................

الف ) دژغورنی دخوښی څخه برخمند کړی.

ب ) د خدای د موجودیت په هکله ئې شکمن کړی.

ج ) د ژغورنی په رښتینوالی کښې ئې د شک په جال کښې ښکیل کړی.

همدومره کافی ده چې په یاد مووی چې ستاسو آسمانی پلار د شیطان څخه ډیر زیات قوی او طاقتور دی. او حاضر دی چې ستاسو لاس په خپل لاس کښې ونیسی. دیوحنا په انجیل کښې عیسیٰ مسیح وائی: " زه هغوی له دتل ژوندورکوم او هغوی به هیڅ کله هم هلاک نه شی او هیڅوک به ئې هم زما نه و نه شوکوی."
( یوحنا ۱۰: ۲۸ )

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۴- د عیسی مسیح ویناوی دیوحنا په انجیل (۱۰: ۲۸) کښې په یاد زده کړی.

### آیا د مسیح په خاطر ستونزی او کړاونه تیروی؟

مه حیرانیږی ! که د کورنی وګړی، او یا ستاسو دوستان په دې خاطر چې عیسی مسیح موقبول کړی دی، ستاسو سپکاوی وکړی. او یا مو ورټیی، کیدای شی خبره دې حد ته ورسیږی چې شکنجی او عذابونه هم در کړی. ربړیدل او تکلیف تیرول د هغه چا په خاطر چې خپل ځان ئی زمونږ لپاره د سولی پرسر نذرانه کړ، د افتخار او ویاړ ځای دی. مونږ د خپل صلیب په پورته کولو سره د هغه پیروی کوو. څو دنیاوالوته وښیو چې د هغه د تکلیفونو درناوی کوو.

سر بیره پردې مالک خدای د هغه کسانو سره چې دهغه په خاطر کړاونه ګالی وعده کړې ده، چې انعام او بدله به ورکوی. نو

ټولو ته ئی بیاو فرمائیل : "که څوک زما مریدی خوښوی، نو هغه دې خپل خواهشات شاته وغورزوی او هره ورځ دې خپله سولۍ یورته کوی، او په ما پسی دې راځی." ( لوقا۹: ۲۳)

"بختور دي هغوی چې د خدای د رضا دپاره ربړولی کیږی، د آسمان بادشاهی د هغوی ده. تاسو بختور یې چې زما دپاره په ځان ملامتی، سختی زحمتی تیروی، او د خلقو قسم قسم دروغژنی بدی خبری زغمی، دا هر څه تاسو په خوشحالی او روڼ تندی و زغمی ځکه چې په آسمان کښې ستاسو د پاره لوی اجر دی، ځکه چې تاسو نه وړاندی هم دغه رنګ دوی نبیان ربړولی دی "

( متی ۵: ۱۰ – ۱۲)

## ستاسو کار

## هغه څه چې بایدتاسو یې سرته ورسوئ

**۵**- کله چې د عیسی مسیح په خاطر سختۍ، او ربړول زغمی، څه احساس کوئ:

الف ) خواشینی او نا امیدی

ب ) سرکشی، غصه او د انتقام اخستلو موقعه لټول.

ج ) د هغی بدلی او انعام په خاطر خوښي چې په جنت کښې ئی لری.

## آیا نا امیده او شکمن هستئ؟

که د حق او عدالت په پر ځای کولو کښې که په ځینو بندیزونو او نیوکوسره مخامخ شوئ، تاسو مه نا امیده کیږئ. که څه هم چې څوک نوی زیږیدنه بیامومی او د خدای په ځوی ګلوی منل کیږی خو بیاهم داکس دې ته اړتیا لری چې په لاره تلل زده کړی. کله چې کومه غلطی او یا خطا کوی، شیطان زیار باسی چې تاسو مایوسه زړه رټلی او خفه کړي او دا قسم خیالونه او فکرونه ستاسو ذهن ته وړاندې کوی چې " زه خو د خدای زوی نه یم ! او که چیرې د خدای زوی وای، نو داسې کارونه به مې نه کول."

ځینی نوی مسیحیان چه په تشویش او سوچ اخته دي، شک ته د خپل زړه په لور لار ورکوی او د ځان سره وایي"زه نشم کولای چې د مسیح په خیر ژوندوکړم، دا ډیره ګرانه ده، ممکن ده چې یوځل بیا خپل پخوانی ژوند کښې پاتی شم، او بیرته ور وګرځم او د خدای خدمت پریږدم زه بیخی هغه بدلون چې مسیحیان ئې خبری کوی په ځان کښې نه وینم او د هغې اندازه نه محسوسوم. د ژغورنی د خوښی څخه برخه نه لرم. نه! هیڅکله نه ! زه فکر نه کوم چې خلاصون به مې موندلی وی."

څه را منځ ته شوی چې داډول د شک او تردید څخه ډکو خیالونو او سوچونو پر ضد مقابله وکړی؟ په یادولری چې دا ټول د یو دښمن هغه وسلې دی چې زیار باسی، ستاسو په نا امیده کولو سره تاسوته ماتی در کړی.

ځينې خلک ممکن د ژغورنې په وخت کښې ډير زيات خوشحاله شي، او ځينې نور ممکن ډيره لږه خوښي احساس کړي. نو په همدې اساس خپلو احساساتو ته ډيره توجه مه کوی. کله چې د خدای د برکتونو په خاطر د هغه شکر ادا کوی ستاسو خوشحالی به ښائی زياته شي.

په ياد ولری چې ستاسو خلاصون او ژغورنه ستاسو د احساس پوری کوم تړاو نه لري، بلکه د هغه خدای د وفا داری سره تړاولری، چې خپل ژوند او روح مو هغه ته سپارلی دی .

که غورځيدلی اوسی نو دا فکر مه کوی چې نور نو نشی کولای چې پورته شی او په لاره ګډ شی. هره غلطی او خطا مو چې ستاسو د پريوتو باعث او سبب شوی وی دخدای په مخ کښې پرې اقراروکړی، ځو ستاسو په بخښلو سره يوځل بيا تاسو په خپلو پښو پورته کړی .

هغه بدلون او تحول چې په تاسو کښې ئی ځای نيولی، او هغه ليوالتيا چې ستاسو په زړونو کښې د خدای لپاره راپيدا شوې ده، اوهغه دا چې د خپلو غلطيو د پښيمانی احساس کوی، دا ټولی د دې نښی دي چې تاسو په رښتيا نوی زيږيدنه لاس ته راوړی ده. له همدې کبله هيڅ وخت مه خپه کيږی او غم مه کوی . په ياد ولری چې هغه ستونزی چې ماشومان د لومړی ځل لپاره د ګرځيدو او په لاره تلو په وخت کښې ورسره مخ کيږي، يو شان او يو اندازه نه دي.

## ستاسو کار

## هغه څه چې بايدتاسو يې سرته ورسوئ

۶- د خواشینۍ او خفګان په وختونو کښې باید په یادولری چې:

الف ) حقیقی او رښتونی مسیحیان د همیشه لپاره خوشحاله دي.

ب ) ټول هغه کسان چې مسیح قبلوی د یو رنګ برابری خوښی څخه برخه مند دي.

ج ) هر څومره چې د خدای شکر ادا کوی په هماغه اندازه به زیاته خوښی لاس ته راوړی.

۷- ستاسو خلاصون تړاو لری د

الف) ستاسو په احساساتو پوری.

ج ) ستاسو په نیکی او ښو اعمالو پورې.

## ستاسو پلارله تاسو سره مینه لري

تاسو فکر کوی چې مهربانه موراو پلار، خپل هغه کوچنی ماشومان چې نوی په لاره تلل او قدم اخستل زده کوی، پرځمکی د پریوتو په سبب رټی او یا سزا ورکوی؟ او یا کله چې خپل ځان ته کوم ضرر او تکلیف ورسوی هغه په هماغه وضعه او حالت پریږدی؟ نه! هیڅکله نه، بلکه د هغه په بیرته راپورته کولو سره به هغه ته تسلی او زړورتیا ورکوی او هغه هڅوي چې خپل تمرین ته دوام ورکړی، او په پوره ډول په لاره تلل او قدم وهل زده کړی .

اوس نوتاسو دخدای په هکله څه فکر کوی؟ آیا هغه به د خپل هغه زوی سره چې نوی په لاره تللو کښې پریوتی دی، دې نه بغیر بل سلوک وکړی؟ نو د دعا په ترڅ کښې هغه ته ووایی : " ستا شکر ګذار یم پلاره چې تا زه د لاسه نیولی یم او په لاره تلل راښیې،

زه کمزوری یم، خو پوهیږم چې ته به ماسره تر آخره په هغه څه کښې چې زه ئې سرته رسوم، یاری او مرسته وکړې."

په دې پوه شئ چې خدای د روح القدس او خپل کلام یعنی مقدس کتاب په واسطه تاسوته ستاسو په ژوند کښې لارښودنه کوی، نو هره ورځ مقدس کتاب ولولی، او دعا وکړی چې د شک او په کړو لارو تللو او راپرځیدلو څخه خوندي پاتې شئ.

## ستاسو کار

## هغه څه چې بایدتاسو یې سرته ورسوی

۸- کله چې یوه غلطی وکړی د خدای د طرفه د کوم غبرګون انتظار کوی ؟

الف ) په غصه او قهر سره به تاسو د خپل کور څخه وشړي.

ب ) تاسو به وبخښی او مرسته به مو وکړی.

ج) تاسو به پریږدی.

۹- روح القدس به تاسو ته لارښودنه درکړی چې

الف) هره ورځ مقدس کتاب ولولی او دعا وکړی.

ب ) فال ونیسی.

ج ) د دوستانو خبرو او نصیحتونو ته غوږ ونیسی.

## شک او نااميدي د خپل ځان څخه ليرې کړئ

ښايي چه خپل ځان نه مو پوښتلی وی چې "آيا د ګناه څخه د خلاصون لپاره می خپله ونډه سرته رسولی ده؟" رښتيا ! په ژغورنې کښې د بشر ونډه څه وي؟

خدای له تاسو څخه غواړی چې دا دوه کارونه سر ته ورسوی څو خلاصون و مومی. لمړی د خپلو ګناهونو څخه توبه وکړی او دوهم بيا په انجيل ايمان راوړی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې بايدتاسو يې سرته ورسوئ

۱۰- د خلاصون او نجات موندلولپاره ضروری ده چې

الف) د ګناهونو څخه توبه وکړو او په انجيل ايمان راوړو.

ب) د يوې کليسا غړيتوب تر لاسه کړو.

ج) دنيکی او ثواب کارونه وکړو، څو زمونږ ګناهونه له منځه يوسی.

## توبه وکړئ

مقدس کتاب په نوې لوظنامې کښې عيسی مسيح فرمايلی دی: "... توبه ګار شی او په زيري (انجيل) ايمان راوړی."

(مرقس ۱: ۱۵)

له دې کبله چې د خدای تابعداری مو نده کړې ، پښیمانه شوی نه یاست؟ غواړې چې د ټولو ګناهونو څخه خلاص او آزاد شی؟ او یا مو خوښه ده چې ځینی ئې وساتې؟ او یا غواړې چې د خپلو لارو ته تغیر ورکړې او هغه پریږدی، او د دې ساعت نه وروسته هرڅه چې خدای ئې وغواړی په هغه عمل وکړې او سر ته ئې و رسوې؟

## ستاسوکار

## هغه څه چه تاسو ئې باید سر ته ورسوئ

۱۱- د مرقس په انجیل ( ۱: ۱۵ ) کښې د مسیح خبری په یاد زده کړې.

۱۲- توبه عبارت ده د .....

الف) ګناهونو نه پښیمانی او هغه ته شاه اړول.

ب) د دیني رهنما او لارښود پر وړاندې په خپلو ګناهونو اقرار کول .

ج) د بخښنی غوښتنه او د بیا ګناهونو د سرته رسولو هڅه کول.

تاسو نه غواړې چې یو څوک چه له تاسو سره یې بد سلوک کړې وي، هغه وبخښې؟ د غصی او نفرت ګناه دومره خطرناکه ده چې د ځینو خلکو جنت ته د تګ په لارکښې خنډ واقع کیږي . خدای مینه ده، او نشی کولای چې په هغه زړه کښې ژوند وکړی چې د غصی او نفرت څخه ډک وی. که د کوم کس نه مو په خپل حق کښې کومه غلطی، بد سلوک او قصور لیدلی وی، همدا اوس هغه ته معافی ورکړی او هغه وبخښی. د خدای نه وغواړی څو تاسو سره

مرسته وکړي، چې هغه کسان وبخښي چاچې تاسو سره بد سلوک ، زياتې اوتيرې کړيدې. عيسى مسيح ويلي دي: "خو که چيرې تاسو نور نه معاف کوئ، نو ستاسو قصورونه به هم ستاسو آسماني پلار معاف نه کړي." ( متى۲: ۱۵ )

که چيرې اوس هم مطمئين او ډاډمن نه يې چې په پوره ډول موتوبه کړي ده، کولای شی چې په دې وسيله باور او ډاډ حاصل کړې، د خپلو ټولو ګناهونو څخه راوګرځئ. خپله پخوانۍ لاره او تګ لاره پريږدئ، څو خدای خپله تګ لاره ستاسو په ژوند کښې وکاروی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې بايد تاسو يې سرته ورسوئ

۱۳) که چيرې يوکس ستاسو د زورولو او نا آرامی باعث شی بايد...

الف) کومه کينه چې د هغه سره لرئ پټه ئې کړئ .

ب) هغه په هماغه ساعت کښې يې معاف کړئ.

ج ) د هغه پسې بد ووايئ.

## په انجيل ايمان راوړئ: په عيسى مسيح ايمان راوړئ

انجيل يعني د خوشحالي خبر او د خوښۍ زيری . د خوشحالي د خبر څخه مقصد هغه ژغورنه ده چې عيسى مسيح يې ورکوی.

لاندې مطالب د مقدس کتاب څخه اخستل شوي دي هر یو چې تاسوته د منلو وړ وی د هغې سره په خالی کرښه کښې د"هو" کلمه ولیکی.

× خدای په هغه اندازه تاسو سره مینه وکړه چې خپل زوی عیسی مسیح ئې راولیږه څو ستاسو د ګناهونو باراو سزا په خپل ځان واخلی ..........................

× عیسی مسیح ستاسو د ګناهونو په خاطر مړ شو. که چیرې هغه د ژغورونکی او مالک خدای په صفت قبول کړی، هغه به تاسو آزاد کړي.

× عیسی مسیح د مرګ نه وروسته بیاژوندی شوي دي او آسمان

(جنت) ته بیرته تللی دی. هغه تاسوته دعا کوی، او تاسوته ځای تیاروی ..........................

× کله چې تاسو عیسی مسیح دخپل ژغورنکی خدای په صفت ومنی، د خدای زامن جوړیږی. او نوی ژوند پیل کوی ..........................

× عیسی مسیح د خپلو پیروانو لپاره بیرته راځی او هغوی ابدی‌کورته چې په جنت کښې دی بیایی .

ټول دغه موضوعات مومنلی دی؟.................. عیسی مسیح مو د ژغورونکی خدای په صفت منلی دی؟..... .........او که چیرې همداسې وی نو په هغه اعتبار او توکل وکړی، او په ژمنو ئې ایمان ولری .

مقدس کتاب په نوې لوظنامې کښې راغلي دي " هغوی ووئیل : چې په مالک عیسی مسیح باندې ایمان راوړه، او ته، او ستاکورنی به خلاصون و مومی." (اعمال د رسولانو ۱۲ : ۳۱) "هغه ګواهی داده چې خدای مونږ ته تلپاتی ژوندون راکړی دی ، او دا ژوندون د هغه په زوی کښې دی، څوک چې د خدای زوی لری، هغه ژوندون هم لری او څوک چې د خدای زوی نه لري هغه ژوندون هم نه لري." (اول یوحنا ۵: ۱۱ او ۱۲)

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

**۱۴- انجیل یعنی ...**

الف ) د خوشحالی او ژغورنی زیری د عیسی مسیح په واسطه.

ب ) موعظه او پند ورکول.

ج ) د کلیسا عقید وی پانه ( اعتقادنامه )

**۱۵- اعمال د رسولانو ۱۲ : ۳۱ او اول یوحنا ۵: ۱۱-۱۲ په یاد زده کړی.**

په عیسی مسیح ایمان راوړل یعنې په هغې باورکول . عیسی مسیح په تاسو پوهیږی او تاسو پیژنی او تاسو سره مینه لری. هغه ستاسو لپاره د خدای په حضور کښې دعا کوي. مسیح د خدای د لوری ستاسو سفیر او منځګړی مقرر شوی دی . نوې لوظنامه وائی: "ځکه چې یو خدای دی او دخدای او انسان په مینځ کښې

مینځګړی هم یو یعنی مسیح عیسی چه انسان دی. "
(اول تیموتیوس۲: ۵)

ځکه یو خدای او یوه واسطه د خدای او انسان ترمنځ شته چې هغه د عیسی مسیح شخصیت دی.

"د بل هیچاپه وسیله خلاصون نشته، ځکه چې په ټوله دنیا کښې بل نوم هیچا ته نه دی ورکړی شوی چې په هغې مونږ خلاصون ومومو." (اعمال د رسولانو ۴: ۱۲)

عیسیٰ مسیح ویلی دی. " زه لاریم" د خدای لورته بله یوه لارهم نشته، او تاسو هم نشی کولای په یو وخت کښې په دوو بیلو لارو تګ وکړی. د عیسی مسیح د پیروی لپاره یعنی د حقیقت یوازینی لاری لپاره، هره احتمالی او شکمنی لاری باید پریږدی، باید خپل ټول باوراو اعتماد هغه ته ورکړی او پرې یقین وکړی.

که په رښتیا موتوبه ویستلی وی او د خدای په وعدو او ژمنو ایمان لری، او عیسی مسیح خپل د یوازینی ژغورنکی خدای په صفت پیژنی نو باور ولری چې خلاصون مو موندلی دی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

۱۲- مقدس کتاب داسې زده کړه او تعلیم ورکوی چې ...

الف) عیسی یوازینی هغه لاره ده چې مونږ خدای ته رسوی .

ب) د مختلفو لارو څخه مونږ کولای شو چې خدای ته ورسیږو.

غواړې چې زیات اطمینان او ډاډ حاصل او په لاس راوړې چې عیسی مسیح تاسوته خلاصون درکونکی دی؟ غواړې چې خپل ژوند خدای ته وقف کړې او مطمئن او ډاډمن اوسې چې د هغه په لاره، او هم هغې سره په لاره ځې؟ که چیرې همداسې وی نو پدې دعایه الفاظو د خدای سره خبری وکړی.

## دعا

خدایه ستا شکر ادا کوم چې ماته دې نوی ژوند راکړ. او عیسی مسیح دې راولیږلو څو زما پرځای مړشی، هغه د خپل مالک او ژغورنکی خدای په صفت منم.

ستا ډیر شکر ګذاریم چې ګناهونه می بخښی، او ما، لکه د خپل زوی په څیرقبلوی، ما سره مرسته وکړه څو ستا تا بعدار شم، او به هر کار کښې تا خوشحاله کړم. خپل ځان تا ته سپارم، زما سره مرسته وکړه چې خپل پاتې ژوندون له تا سره تیر کړم. امین.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ - ج ) هغه سړی چې خدای سره لاس په لاس په لاره ځی.

۲ - ب ) شیطان زیار باسی څوتاسو ته ماتې درکړي.

۳ - ج ) د ژغورنی په ربنتینولی کښې ئې د شک په جال کښې ښکیل کړی.

۵ - ج ) خوښی د هغې بدلی او انعام په خاطر چې په جنت کښې ئې لری.

۶ - ج ) هر څومره چې د خدای شکر ادا کوی په هماغه اندازه زیاته خوښی لاس ته راوړی .

۷ - الف ) د خدای وفا داری .

۸ - ب ) تاسو به وبخښی او مرسته به مو وکړی .

۹ - الف ) هره ورځ مقدس کتاب ولولی او دعا وکړی .

۱۰ - الف ) د ګناهونو څخه توبه و کړی او په انجیل ایمان راوړی .

۱۲ - الف ) په ګناه پښیمانی ښکاره کول او هغی ته شا وراړول.

۱۳ - ب ) هغه په هماغه ساعت کښې معاف کړی .

۱۴ - الف ) د خوشحالی او ژغورنی ښه خبر د عیسی مسیح په وسیله.

**۱۲ - الف ) عیسی مسیح یوازینی هغه لارده چې مونږ خدای ته رسوی.**

## یاداشت

# د آسمانی پلار سره راز او نیاز

## هغه څه چې تاسو به ئې په دې لوست کښې ولولئ.

- خدای غواړی چې تاسو سره خبری وکړي
- خدای په بیلابیلو طریقو خبری کوی.
- مقدس کتاب څرنګه ولیکل شو؟
- مقدس کتاب ته د مراجعی طریقه
- څرنګه کولای شو چې د خدای آواز واورو.

## خدای غواړی چې تاسوسره خبری وکړی

کوم پلار دی، چې د خپل بچی د خبرو نه خوند نه اخلی، که څه هم بچی به ئې نوی زیږیدلی هم وی او په ځواب کښې یوازی په شونډو موسکا کوی؟ ستاسو آسمانی پلار هم خوښ دی، چې خپلو ځامنو سره خبری وکړی، هغه محبت چې دوی سره ئې لری ورته ئې ښکاره کړي، د هغوی ښوونه وکړی او په سختیو کښې ورسره مرسته وکړی. اوس نو آیا غواړی چې د هغه آواز واوری ؟

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

۱-خدای..........

الف) دې ته لیواله ده چې خپلو زامنو سره خبری وکړی .

ب ) په هغه اندازه سپیڅلی دی چې په هیڅ وجه مونږ سره خبری نه کوی.

ج) په دې اوسنی وخت او زمانه کښې د هیچا سره خبری نه کوی.

### خدای په بیلابیلو طریقو خبری کوی

" یه تیره زمانه کښې خدای زمونږ د پلرونواو نیکونو سره ډیر ځله په مختلفو طریقو سره، دنبیانو په معرفت خبری وکړی. خو پدې آخره زمانه کښې ئې مونږ سره د خپل زوی په معرفت کلام وکړ..."(عبرانیان ۱: ۱- ۲)

ځینی دهغه طریقو څخه چې خدای د هغوی په وسیله تاسو سره خبری کوی دا دي .

### ستاسو زړه سره مستقیماً

روح القدس د عیسی حضور تاسوته په حقیقی او ریښتینی ډول دربښیی او ربښتونی کوی، او ستاسو د ضمیر د لاری تاسو سره

خبری کوی څو هغه څه چې باید وکړي او یا ئې ونکړي ستاسو غوږو ته ورسوی. روح القدس یوه نغښتلی او مغلقه روحانی موضوع ستاسو لپاره روښانه کوی. کله نسبت هغه شی ته چې خدای ئې غواړی تاسو ئې سر ته ورسوی د لزوم ژور احساس کوي. دا ټول د خدای آوازونه دي چې تاسو سره خبري کوی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی.

۲ - څرنګه خدای په مستقیمه توګه تاسو سره خبری کوی؟

(دوه ځوابونه غوره کړی)

الف) په پوره توګه یوطبعیی او عادی آواز اوری لکه د نوروخلکو د آوازونو په څیر.

ب) د یو کار په سرته رسولو کښې یو جدی او سخت ضروری احساس تاسو ته تر لاسه کیږي.

ج) یوازی د خوب او الهام له لاری تاسو سره خبری کوی.

د) یو روحانی پیچلې او مغلقه موضوع تاسوته روښانه او ښکاره کیږی.

## د برکتونو او نعمتونو په وسیله

ډیر مسیحیان په ډاګه دا خبره ښکاره کوی چې دکله نه ئې نوی زیږیدنه موندلی ده دنیا د هغوی په نظر کښې فرق کړی دی او بدله

شوی ده. تاسوهم کله چې خپل چاپيريال ته مخ واړوۍ او په هغه فکر وکړی ممکن دغه فرق او بدلون وګورۍ. کولای شی د خدای حضور د قدرت او طبيعيت په عجائبو کښې ووينی. هغه د موسيقی او نورو هنرونو دلاری تاسوته سره خبری کوی. تاسو خدای د مسيحيانو سره توده راشه درشه او د دايمی خبرو اترو، او ناستی پاڅې له لاری هم موندلای شی. په زرګونو نعمتونه ستاسو په چاپيريال کښې د خدای د ښيګړی او مهربانی خبری کوی. هغه تاسو د دعا په قبلولو کښې هم تاسو سره خبری کوی. د ايمان په سترګو د خدای خندا وينی او په خپلو معنوی غوږونو د هغی آواز اوری چې وائی : " ای زما زويه زه تا سره مينه لرم."

## ستاسو کار

## هغه څه چې بايد تاسو يې سرته ورسوئ

۳- آيا تراوسه پورې خدای تاسو سره خبری کړی دی؟ .

۴- د خدای د ځينو هغه برکتونو نوم واخلی کوم چې تاسو سره دهغه دمينی ځلانده ښکارندوی دی.........................

## د مسيحيانو په وسيله

کله کله د کورنی لويان کوچنيانو ته وائی چه "نه ! نه ! پلار ستا پدې کارنه خوشحاليږی، او نه ئې خوښيږی " او يا ورته وائی "وګوره، پلار هم همدا کار غواړی ."

خدای هم د خپلی کورنی مشرو زامنو په وسیله د نورو ټولو کوچنیانو سره خبری کوی هغه غواړی چې ټولو مسیحیانو سره لیدنه کتنه ترسره کړو. څو دهغوی په وسیله مونږ تشویق، او وهڅوی، او زمونږ لارښوونه، او مونږ سره مینه وکړی . مقدس کتاب وائی " او د مسیح د احترام له خاطره د یو بل تابعداری کوی" (افسیان ۵: ۲۱)

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۵- آیا کله نورو مسیحیانو تاسو سره مرسته کړې ده څو د خپل ژوند لپاره د خدای په اراده پوه شی؟..........................

۶- آیا کوم چا تاسو هڅولی یئ، او یا مرسته ئې درسره کړې ده چې یو ښه مسیحی جوړ شی؟ ........................................

۷- د خدای شکر ادا کړی چې د خپلو زامنو سره خبری کوي. او د هغه نه وغواړی چې ستاسو په وسیله د نورو سره خبری وکړی، او ستاسو په واسطه خلکو ته سمه لار وښائی، او صحیح لاری ته ئې وهڅوی، څو د مالک خدای پیروی وکړي.

## د روحانی خدمتونو او ورکړو په وسیله

روح القدس کلیساګانو ته بیلابیلې روحانی ورکړی او نعمتونه ور په برخه کړی دی او د هغې په وسیله مونږ سره خبری کوی هغه د مالک خدای پیغام د کلیسا د پالونکو (شپنو)، ښوونکو، زیری

ورکونکو ( مبشرینو ) او لیکوالو په وسیله کلیسا ګانو ته ورکوي. د هغه دا خوښه ده چې د هر مسیحی څخه نورو ته په زیری ورکولو کښې کاروا خلی.

د کلیسا په غونډو کښې ګډون ستاسو لپاره د یو فوق العاده او په زړه پورې اهمیت لرونکی دی. هر ځلی چې غونډی ته ځی، نو هغه موضوع چې ستاسو آسمانی پلار ئې بیانوی ورته پوره توجه او غورکوی .

په نوی لوظنامې کی راغلي دي: " ځکه چې دوه یا درې تنه چې چیرته هم زما په نوم یوځای شی نو زه به د دوی په مینځ کښې یم."
(متی ۱۸: ۲۰)

## ستاسو کار

## چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ هغه څه

۸ - خدای اکثراً په کومه وسیله خلکو سره خبری کوی ؟

( دوه ځوابونه غوره کړی )

الف ) د کلیسا د پالونکو او زیری ورکونکو د پیغامونو په وسیله .

ب ) د یوه منځګړي په وسیله چې روحونه حاضروی .

ج ) د جادوګرانو اوفال نیونکو په وسیله .

د ) د مسیحی نشریاتو او بشارتی پاڼو له لاری .

۹ - کله چې په کلیسا کښې اوسی، نو د دې تمه لرۀ چې خدای دې له تاسو سره خبری وکړی ؟.................................

۱۰ - آیا خدای د دې درسونو د لاری تاسو سره خبری کړي دي؟

..............................................................

۱۱ - دعا وکړی چې خدای د دې درسونو د لاری تاسو سره خبری وکړی.

## د روحانی سندرو او سرودونو په وسیله

خدای زیاتره د روحانی سندریزو الفاظو د لاری تاسو سره خبری کوی هغه یوخاص پیغام چې تاسو ورته اړتیا لری د سرود او سندریزو الفاظو په قالب کښې تاسو ته دربخښی.

"او په خپلو کښې زبور، سندری او وحانی غزلی وایئ، او په خپلو زړونو کښې د مالک سندری او حمدونه وایئ."

(افسیان ۵ : ۱۹)

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱۲- د خدای څخه وغواړی چې تاسو سره د کلیساد سرودونو په یادولو کښې مرسته وکړی. په کورکښې هم دا سرودونه او روحانی غزلی ووایی.

۱۳- د سرود ویلو په وخت کښې دهغی الفاظو ته پاملرنه خپل عادت وګرځوی او د سرود په معنی ځان پوه کړی. او د خدای څخه وغواړی څو ستاسو ژوندون د هغه سرود د معنی سره برابر او په دې لارې کښې ستاسو سره مرسته وکړی.

## د مقدس کتاب په وسیله

خدای د خپل کلام او وینالہ لاری یعنی د مقدس کتاب د لاری تاسو سره خبری کوی دادهغه پیغام د پوهیدلو یوه ډیره باوري او اعتمادی وسیله ده.

د کلیسا پالونکی ښائی تل تاسو دژوند لپاره د خدای د ارادی څخه خبرتیا ونه لري تر دې چې روحانی خویندی او ورونه هم ممکن ستاسو په لارښودنه کښې دکومی غلطی او اشتباه مرتکب شی. خوب لیدل او الهام هم دومره باوری وسیله نده، او امکان لری چې ستاسو د فکر او ضمیر ناڅاپی تولید او زیږنده وی.

کله ممکن دا احساس وکړی چې دا خدای دی چې غواړی تاسو یو معین کار ترسره کړی. په داسی حال کښې چې ستاسو شخصی میلان او علاقه په دی کار کښې ګډون اولاس لری، په همدی اساس څرنګه کیدای شی چې د خدای د آواز فرق وکړی او هغه وپیژنی؟

د خدای ډیر شکردی چې د هغه پیغام په مقدس کتاب کښې موندل کیږی. هر خوی او عمل او کار باید د مقدس کتاب د وینا

سره سم وسنجوی. همدلته ده چې د مقدس کتاب د لوستلو اهمیت راڅرګندیږي .

دهمدې مطالعاتو سبب دی چې په مقدس کتاب به په ښه توګه پوه شی او دا به هم وپيژنی چې څرنګه د هغې لارښونی په خپل ژوندون کښې په کار واچوی. مقدس کتاب وائی: زما سترګی پرانیزه چې ستا د شریعت عجیبه شیان ووینم. ای خدایه ای مالکه ! ستا کلام تل ترتله په آسمانونو کښې برقرار او ابدی دی. ستا کلام زما د پښو لپاره څراغ او زما د لارو لپاره ځلانده رڼا ده. ستا د کلام ظهور او په هغې پوهیدل رڼا بخښی، اود ناپوهانو او ساده ګانو نه پوهان او هوښیاران جوړوی. ټول کلام ستا رښتونی او حقیقت دی . او ټول عدالت او برابری ستا تل ترتله ده."

( زبور ۱۹۹: ۱۸، ۸۹، ۱۰۵ ، ۱۳۰، ۱۲۰)

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱۴- د خدای د پیغام د معلومولو او پيژندلو اعتمادی او باوری لاره داده چې

الف ) مقدس کتاب ولولی.

ب) د دوستانو نصیحتونو ته غوږ ونیسی .

ج ) خپلو جذبو او احساساتو ته توجه او پاملرنه وکړی .

## مقدس کتاب څرنګه ولیکل شو؟

په مختلفو زمانو او وختونوکښې، خدای نیک او سپیڅلی شخصیتونه غوره کړل څو دهغه پیغام ولیکی، او روح القدس هغوی ته الهام ور وباخښه، او د همدې لاری هغه څه چې لیکل ئې ضروری وه، هغوی ته ووئیل. د شپاړس سوه کلونو اوږدي مودي په ترڅ کښې خدای څلویښت تنه سپیڅلی او نیک شخصیتونو په کار وګمارل، څو په شپږ شپیتو کتابونه کښې د هغه پیغام ولیکي او د یوه کتاب په توګه ئې جمع کړی چې همدې کتاب د یوه مقدس کتاب بڼه ځانله غوره کړه.

لیکل شوی کتابونه یې په پوره ډول یود بل سره ورته والی لری او سره موافق دي. او د کتاب د اصلی موضوع په څیړنه او بیان کښې د هغوی ترمنځ پوره د نظر یووالی موجود دی، که څه هم چې په مختلفو وختو کښې لیکل شوي دي. ځکه چې اصلی لیکونکی یې یو دی، او هغه په خپله خدای دی.

## ستاسوکار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱۵- دوه ځوابونه غوره کړی، هغه کسانو چې مقدس کتاب ئی لیکلی دی.....

الف) نیک او صالح شخصیتونه وه.

ب) د پاچا څخه یي پرې مزدوری او تنخوا اخیستی وه.

ج) د روح القدس څخه الهام شوی وو.

د) د ډیرو بې شماره غلطیو مرتکب شوی وو.

ډیر کلونه د مخه خدای خپل زامن را پورته کړل چې دا شپږ شپیته کتابونه په یو کتاب کښې جمع کړی. چې همدغه کتاب نن ورځ د مقدس کتاب په نوم یادیږی.

دکتاب دلومړئ برخې نهه دیرش کتابونه زمونږ د مالک عیسی مسیح د زیږیدنی نه مخکی لیکل شوي دي چې دا کتابونه د عهد عتیق یا زړی لوظنامې په نامه یادیږی. دوهمه برخه ئې د نوی لوظنامې په نوم یادیږي او وه ویشت کتابونه پکی شامل دي چې د عیسی مسیح د ظهور څخه وروسته لیکل شوی دی.

نوی لوظنامه د مسیح دهغه وعدی او لوظ په اړه ده چې دخدای او دخلکو ترمنځ ئې منځ ته راوړه .

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱۲- مقدس کتاب په دوه برخو ویشل شوی دی چې نومونه ئې دا دی ......

الف ) زړه لوظنامه او آپوکریفا

ب ) نوی لوظنامه او زړه لوظنامه .

ج ) شریعت او درسولانو رسالې.

۱۷- په مقدس کتاب کښې څوکتابونه موجود دي؟

الف ) نهه دیرش کتابونه په زړه لوظنامه کښې او وه ویشت په نوي لوظنامه کښې چې جمله ( ۲۲ ) کتابونه دي.

ب ) وه دیرش په زړه او نهه ویشت په نوي لوظنامې کښې چې ټول شپږشپیته کتابونه کیږي .

دزړې لوظنامې اصلی نسخه په عبرانی ژبه، او د نوی لوظنامی اصلی نسخه په یونانی ژبه کښې ده. خدای غواړی چې ټول هغه ولولی. مقدس کتاب د دیارلس سوه څخه په زیاتو ژبو ترجمه شوی دی. او په ځنی ژبو کښې د یوی څخه زیات ترجمی پیداکیږی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱۸- مقدس کتاب په کومو کومو ژبو لیکل شوي دي ؟

الف) عبرانی او لاتیني.

ب ) اسپانوی او یونانی.

ج- فرانسوی او انګلیسی .

د) عبرانی او یونانی.

۱۹- مقدس کتاب ...

الف) یوکتاب دی د ټولو خلکو لپاره .

ب ) یوازی د تعلیم یافته خلکو لپاره دی .

ج ) یو کتاب دی یوازی د کشیشیانو اودینی لاربنونکو لپاره او بس!

## مقدس کتاب ته دمراجعی طریقه

د مقدس کتاب، کتابونه په فصلونو او بابونو ویشل شوي دي او هر فصل او باب په څو ایتونو ویشل شوي دي . بابونه او آیتونه په نمره ورکولو سره په نښه شوي دي څو د مقدس کتاب موضوعاتو موندل آسان کړی . دیوی موضوع دځای په ښودلو کښې د مقدس کتاب څخه لمړی د کتاب نوم لیکی، بیا د باب نمبر او (: ) علامه، او په آخر کښې د ایت نمره ذکر کړی.

دمثال په توګه: (یوحنا ۳: ۱۲) اشاره ده دیوحنا انجیل کتاب دریم باب او شپاړسم آیت ته. لاندی مثالونو ته په غور سره وګوری.

(یوحنا ۳: ۱۲ او ۱۷او ۲۰ ) یعنی د یوحنا د انجیل د دریم باب څخه۱۲ ، ۱۷ او ۲۰ آیتونه .

یوحنا ۳: ۱۲ او ۲: ۲۲ یعنی د یوحنا انجیل دریم باب شپاړسم آیت . اود یوحنا دانجیل شپږم باب دوه ویشتم آیت .

## څرنګه کولای شو چه د خدای آواز واورو؟

د رادیویي څپو د موندلو لپاره لومړی باید د پیچ یا ګوټک په وسیله ستنه د هغه مخصوص ځای سره برابر کړو چه د څپې اوږدوالی پکښې لیکل شوی دی. دې نه پس کولای شو چه آواز په صفا توګه واورو.

آیا کولای شوچې د ګوتېک او روحی ستنی په ګرځولو سره خپل روح د خدای آواز سره برابر کړو، څو دهغه آواز واورو؟ هو، د لاندې لاربنودنو په کارولو سره .

× هره ورځ مقدس کتاب ولولی.

× هغه څه ته چې په مقدس کتاب کښې ئې لولی باید فکر وکړی څو د خدای دکلام په مفهوم ځان وپوهوی .

دکتاب څوڅو ځله لوستل خپل عادت جوړکړی او هغه آیتونو چې ځانګړی علاقه ورسره لری په یاد زده کړی . مقدس کتاب وائی: "د مقدس کتاب هره صحیفه د خدای د روح د الهام په وسیله ده او د تعلیم الزام، اصلاح او صداقت د تربیت د پاره فائده مند هم. د دې دپاره چې د خدای بنده کامل شی. او د هر نیک کار دپاره بالکل تیار شی. (دوهم تیموتیوس۳: ۱۶ او ۱۷)

که چیری هغه موده لنډه وی چې د مقدس کتاب دلوستلو لپاره مو ټاکلې ده، نو ښه به داوی چې لمړی دنوی لوظنامی په لوستلو شروع وکړئ. خدای د عیسی مسیح د تعلیماتو او دژوندون د پیښنوله لاری په ښکاره واضحه ډول کیدای شی له تاسو سره خبری وکړی، او د خدای د نوی وعدی څخه چې انسان سره ئې کړي ده تاسو سره خبری و کړی. نوی لوظنامه وائی: " په تیره زمانه کښې خدای زمونږ د پلارانو، نیکونو سره، ډیر ځله په مختلفو طریقو سره د نبیانو په معرفت خبری وکړی. خو پدې آخره زمانه کښې ئې مونږ سره د خپل ځوی په معرفت کلام وکړو..."( عبرانیان ۱:۱او۲)

× کلیسا ته په منظمه توګه لاړ شی، او هلته انتظار کوی چې خدای تاسو سره خبری وکړی .

× هره ورځ دعا کوئ. او وغواړئ چې خدای تاسو سره خبرې وکړي. تاسو کولای شی چې د دعا په وخت کښې خپلې سترګې پټې کړئ ځو حواس موبل ځای ته لاړنشی، او زړه موغافله نشی، د دعا ټول وخت د خپلو مطالبو په ویلو مه تیروئ، بلکه اجازه ورکړی چې خدای هم تاسو سره خبری وکړی.

× روحانی سندری او ترانی ووایی، او په الفاظو ئې ژور فکر وکړی.

× کوښښ وکړی چې دخدای ښیګړی، نیکی، قدرت او محبت چې تاسو نه چاپیره دی، وپیژنی او ځان پرې پوه کړی.

× مسیحی کتابونه ولولی، او هغه مسیحی خپرونی چې د رادیو د لاری خپریږی ورته د زړه په مینه غوږ کیږدی.

× هر هغه څه چې خدای وائی هغه عملی او سرته ورسوی. په یاد ولری، که چیرې غواړی چې هغه تاسو ته لار وښیی او رهبری موکړی، باید تاسو هم دا چمتووالی ولرئ چه دهغه نه پیروي وکړئ.

× د دې کتاب مکلفیتونه او تعلیماتی لارښونی، او د نورو ټولو مسیحی کتابونو غوښتنی په رښتینولی سره سر ته ورسوی. او د خدای څخه وغواړی چې د دې کتاب په وسیله تاسو سره خبری وکړی .

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۲۰ - هغه څلور طریقې بیان کړی چې خدای د هغې په وسیله تاسو سره خبری کوی؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

## خپل ځوابونه مقایسه کړی

۱- (الف) دې ته مایل دی چې خپلو زامنو سره خبری وکړی.

۲- (ب) دیو کار په سرته رسولو کښې یوجدی او سخت ضروری احساس تاسو ته لاس درکوی.

(د) یوه روحانی پیچلې او مغلقه موضوع تاسو ته روښانه او ښکاره کیږی.

۸ - (الف) د کلیسا د پالونکو (شپنو) او زیری ورکونکو د پیغامونو په وسیله.

(د) د مسیحی خپرونو او نشراتی پاڼو له لاری.

۱۴- (الف) مقدس کتاب ولولی.

۱۵- (الف) نیک و سپیڅلی او صالحه شخصیتونه وو.

(ج) د روح القدس څخه ئې الهام اخیستي وو.

۱۶- (ب) زړه لوظنامه او نوې لوظنامه.

۱۷- (الف) ۳۹ کتابونه په زړې لوظنامې کښې او ۲۷ په نوی لوظنامې کښې.

۱۸- (د) عبرانی او یونانی.

۱۹- (الف) کتاب دی د ټولو خلکو لپاره.

# روحانی وده

## هغه څه چې پدی لوست کښې به ئی ولولې

- خپل روح ته هره ورځ ګټهور خواړه ورکړی .
- الهي سوله او آرامتیا .
- دنارو غیو مخینوی .
- روحانی ورزش

اوس تاسو دیو کوچنی ماشوم په څیر د ودې، او لویوالی په حال کښې یئ، او روحانی نشونما ته اړتیا لری. هغه عوامل او اسباب چې د ودې او پوخوالې سبب ګرځی عبارت دي :

× صحیح او ګټهور خوراک .
× استراحت او آرام .
× د مرض د مخنیوی.
× د سپورت او ورزش .

خدای تاسو ته نوی ژوندون درکړی دی، خو د هغې وده او پالنه په تاسو پورې اړه لري . خپل روح ته خواړه ورکړی. د خدای په وعدو کښې ښه دقت وکړی . او د هر ډول ضرری خیال او فکر څخه ځان لیری وساتی. د مقدس کتاب لارښوونی د مشق او تمرین لاندی ونیسی، او په خپل ژوند کښې ئې وکاروی. هر کله موچې دغه

ځلورې لاربښونې عملی کړی نو روحانی وده به لاس ته راوړی، او هره ورځ به زیات نه زیات د هغه ژوندون څخه چې خدای خپلو زامنو ته ورکوی برخمند شی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې بایدتاسو یې سرته ورسوئ

(ځلور ځوابونه غوره کړی)

۱- هغه عوامل چې د روحانی ودې باعث ګرځی عبارت دی له:

الف) دنفس پاکوالی.

ب) روحانی ورزش او سپورت.

ج) د رادیو د خپرونو اوریدل.

د) د خدای په وعدو فکر کول.

ه) د نفس روحانی تغذیه.

و) د سختو او تکلیفی کارونو څخه ځان ساتل.

ز) په رضایت سره توبه ویستل.

## خپل روح ته هره ورځ ګټور خواړه ورکړی

د خدای سره خبری ستاسو روح تغذیه کوی. خدای د خپل کلام د لاری تاسو سره خبری کوی، او تاسو هم د دعا په وسیله خدای سره

خبری کوی؟ مقدس کتاب وائی: " بنی آدم تش په ډوډی نه پائی خو هغه په هره هغه خبره پائی چې د خدای د خولی نه وځی."( متی ۴: ۴)

" د نوو پیدا شوو بچو په شان د خالص روحانی پیو خواهشمند اوسی چې د هغو په وسیله د خلاصون موندلو د پاره لوئیږی." (اول پطروس ۲ : ۲ )

د خدای کلام روحانی شیدی دي.

که چیرې د مقدس کتاب پوهیدل تاسو لپاره ګران او ستونزمند وی مخکی دلوستلو نه ئې د خدای څخه د لارښونې غوښتونکی شئ. او هغه سوالونه چې ستاسو ذهن ته راځي هغه د کلیسا پالونکو او تجربه کارو مسیحیانو ته وړاندې کړی څو په ځواب درکولو سره ستاسو مرسته وکړی. د تعلیمی صنفونو، کلیسائې غونډو، د مقدس کتاب درسی کتابونو، د خبری رسانو او وسائلو لکه رادیو، تلویزون او نور وسیلو څخه استفاده وکړی څو دکافی روحانی خوړو څخه په پوره اندازې سره برخمند شی.

د مسیحی کتابونو لوستل چې په مختلفو وختونو کښې لیکل شوي دي هم ګټوردي .

ستاسو وده، بلوغ او لویوالی په ښوخوړو پورې تړاو لري. نو هره ورځ کم نه کم یو باب د نوي لوظنامه څخه ولولئ. دغه کتاب د مسیح په اړوند معلومات درکوی او خبری کوی، او لوستونکی ته د ژوند لاره ښیی.

په لاژمی ډول ویلی شو هغه آیتونه چې ستاسو د خوښی وړ ګرځی باید په ننبه ئې کړی.  په دې طریقه ستاسو شوق دخدای د کلام سره زیاتیږی او لیوالتیا مو ډیریږی.

" ستا کلام زما په ژبه خوږ لږیږی، او په خوله می د شاتو نه ډیره خوږه ښکاري. دا ستا شعریعت سره دومره مینه لرم چې ټوله ورځ زما د فکر او خیال مشغولتیا وی." (زبور ۱۱۹: ۱۰۳او ۹۷)

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۲- د روحانی ودې او لویوالی لپاره کوم خواړه لاژمی دی ؟

(دوه ځوابونه غوره کړئ)

الف) دینی بحثونه او څیړنی.

ب) د مقدس کتاب لوستل او دعا کول.

ج) پلو چلو او کباب خوړل.

د) د مسیحی کتابونو لوستل.

۳ - آیا خوښه موده چې داوعده او ژمنه امضا اولاسلیک کړی؟

مالکه خدایه! ستا په مرستی سره حاضر یم چې هره ورځ یوه انداز مقدس کتاب ولولم او خپل ځان ستا په کلام موړ او چاغ کړم.

لاسلیک ..............................

تاریخ ..................................

## الهي سوله او آرامتیا

شاید فکر کوی چې د خدای د اوامرو په پوره کولو کښې ډیر کمزوری یئ. پدې صورت کښې ښه داده چې پوه شی، چې د خپل زیار په وسیله او دخپلو هغه نیکو کارونو په سبب چې سرته مو رسولی دي نشی کولای چې جنت ته لاړشې. یوازې پدې خاطر آسمان ته رسیدلای شې چې د خدای زامن جوړ شوی یاست ، او آسمانی پلار ستاسو لارښودنه ، او ستاسو ساتنه کوي. په همدې اساس کافی ده چې اجازه ورکړی څو خدائې آرامتیا ستاسو د وجود څخه چاپیره شی او هغه پټ کړی.

آیا تر اوسه پوری دلاری تللو په وخت کښې په ځمکه را پریوتې یی؟

آیا کله چې په ځمکه ولویږی ،د بیاپورته کیدو د هڅې څخه لاس په سر کیږې ؟

زړه ور اوسې او ډاډګیرنه ولرې ! ځکه چې ستاسو پلار د دی نوی ژوندون بخښونکی دی، او ستاسو لاس ئی نیولی څو تاسو په خپلو پښو بیارا پورته کړی او ومودروي . نو هره ورځ خپل ځان په هغه وسپاری، د دعا په دوران کښې په خپلی کمزوری اقرا وکړې، او دهغی څخه د مرستی غوښتنه وکړې .څو دشیطان په هره وسوسه بریالی شې . مقدس کتاب وائی: " هغه کسان چې خدای ته سترګی په لار انتظار باسی، نوی قوت به بیامومی. او د بازانو په څیر به والوزی، منډی به وهی خو ستړې به نشي . خوشحالی به کوی او بې شیمې به نه شی." (اشعیا ۴۰: ۳۱)

د ژوندون ستونزی تاسو ربړوی؟ ویریږی؟ زړه موخفه دی؟ د دې علاج دا دی چې اجازه ورکړی، څوخدائی آرامی ستاسو ستړی وجود شیرازه کړی، د دې لپاره چې د زړه خفګان او ویره ستاسو د روحانی لویوالی په لار کښې خنډ نشی.

خو څرنګه کیدای شی چې دغه روحانی آرامتیا او هوسایې لاس ته راوړی؟ د ایمان د لاری ! د هغه څه نه چې مالک خدای ئې وعده کړې ده، په هغه ایمان ولری. د دې په ځای چې په خپلو ستونزو خفه شی، خپلې سترګی د مالک خدای لورته واړوی. همدغه حقیقی ایمان دی ! عسیی مسیح فرمائی: " ای تاسو چې ټول خواری کوی، او پنډ مو دروند دی، ماله راشی او زه به آرام درکړم." (متی ۱۱: ۲۸)

" نو دا اندیښنی مه کوی چې څه به وخورو؟ یا څه به وڅښو؟ یا څه به واغوندو، پدې ټولو څیزونو پسی نور قومونه زغلی ځکه چې ستاسو آسمانی پلار پوهیږی چې تاسو ته د هر څه حاجت دی. تاسو د هر څه نه اول دخدای د پادشاهی او د هغه دربښتینوالئ لټون کوی. نو نور هر څه به تاسوته پخپله حاصل شی. ځکه د صبا غم مه کوی. صبا به خپل غم پخپله کوی د نن دپاره ننني غم کافی دی."

(متی۶: ۳۱_۳۳)

د مقدس کتاب لوستل او دعا، خدائی سوله، آستراحت او آرمتیا ستاسو لپاره برابروی. کله چې دعا کوئ هر قسم ستونزې د خدای حضور ته وړاندې کړی او ایمان ولری چې هغه به ئې د حل لپاره ډیره ښه لاره وکاروی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې بایدتاسو یې سرته ورسوئ

۴ - اشعیا ۴۰: ۳۱ له یاده زده کړئ.

۵ - متی ۱۱: ۲۵ ، ۲۸ او متی ۲: ۳۱-۳۳ دری ځله په غورولولی.

۲ - دخدای څخه فکری سکون او آرامی وغواړی چې تاسو ته یی درکړی.

## د ناروغیو مخنیوی

### (۱) خپل ځان مه پلیتوی

لکه څنګه چې مور د خپل کوچنی دپالنی خوراک او پاکوالی نظارت کوی خدای هم همدارنګه غواړی چې تاسو د هغه شیانو څخه لیری وساتی کوم چې روحانی مرِضونه پیدا کوی. د کله نه مو چې نوی ژوند موندلی، په هم هغه وخت خدای ستاسو ګناهونه پریمنځلی دي او نوی صفا زړه ئې تاسو ته درکړی دی. که چیرې غواړی چې د روح د سالمتیا څخه ګټه پورته کړئ باید خپل زړه پاک وساتی.

اجازه ورکړی ! چې خدای تاسو سره یوځای په لاره لاړشی، او ستاسو لاربنود شی، د عیاشیو، بي ځایه ساعتیریو، ناجایزه خوښیو او فاسد ژوند څخه ځانونه لیرې وساتی. خپل افکار، ویناوی او کردار پاک او سپیڅلی وساتی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې بایدتاسو یې سرته ورسوئ

۷ - مسیحیانوته نه ښایي چه په ناوړه او غیر اخلاقي پروګرامونو کښې ګډون وکړي ځکه .......( دوه ځوابونه خوښ کړی )

الف - خدای نه غواړی چې هغوی دی خوشحاله اوسی .

ب - خدای غواړی چې هغوی خپل نفس پاک اوسپیڅلی وساتي .

ج - خدای غواړی چې دوی دې نیک رفتار،کردار او ښه بیان ولري.

مقدس انجیل وائی: " بختور دی هغوی چې زړونه ئی پاک دی هغوی به د خدای دیدن وکړی." (متی ۵: ۸)

که چیرې خپل ذهن او فکر د پلیدو او فاسدو خیالونو ډک کړی، نو دا به ستاسو روح ناقرا ره او ارادی به مو سستی کړی. او تاسو به د ګناه کولو لور ته بیرته و لیږدوي.

څرنګه کیدای شی چی خپل فکر د بدو خیالونو د پلیدیدو څخه لیری وساتو؟ له دې لاری چې خپل ذهنونه دنیکو خیالونو ډک او مالامال کړو. مقدس کتاب د همیش لپاره ولولو، او دهغه په ویناوو کښې ژور فکر وکړو. او د خدای څخه د دعا په وسیله وغواړو چې مونږ سره مرسته وکړی څو وکولای شو دشرارتی خیالونو څخه ځانونه ګوښه کړو .

" ای خدایه ! ما په امتحان کښې مه اچوه او پرما آرمایښت مه کوه بلکه د شریر او شرارت څخه راته آزادی راکړه ".

که چیری غواړی چې پاک افکار او نیک خیالونه ولری. د وسوسه اچونکو کارونو څخه لاس واخلی، فاسد کتابونه مه لولی، بې لارې کوونکې تصویرونو مه ګوری او ناوړه قصو او داستانونو ته غوږ مه نیسی.

" ای مالکه خدایه ! دژبی خبری او دزړه خیالونه می دی ستاد څارنی لاندی وی. ای مالکه خدایه ! ته زما دژغورنی مضبوط کمر یی. او زما خلاصونکی یې. " (زبور ۱۹: ۱۴)

## ستاسو کار

## هغه څه د چې تاسوئی پاید سرته ورسوی

۸ - آیا انسان کولائی شی خپل ځان د ناوړو افکارو څخه لیري وساتی؟

الف - هو! د خدای په مرسته.

ب - نه ! هغه مجبور دی چې په ناوړه خیالیونو کښې ډوب شي.

ج - هر سړی کولای شی د ناوړه افکارو څخه ځان لیری وساتی.

۹ - آیا تراوسه پوری مود شیطانی افکارو او پلیتو خیالونو سره مبارزه کړي ده ؟

۱۰ - زبور ۱۹: ۱۴ په یاد زده کړی او په دعا ګانو کښې تری کار واخلی.

ښه داده چې خپل ځان په پوره ډول او تمامه معنیٰ خپل مالک خدای ته وسپاری، د دی څخه چې په دوه زړه توب سره دهغی خدمت وکړی.

د ګناه سره لوبی مه کوی او هر هغه شی چې ستاسو په ژوند کښې د ناروغی باعث کیږی د هغه څخه ډډه وکړی. مقدس انجیل وائی: " خوکه مونږ په نور کښې ګرځو لکه څنګه چې خپله په نور کښې دی نوبیا مونږ په خپلو کښې شراکت لرو. او دهغه دزوی عسییٰ مسیح وینه مونږ د هر یوی ګناه نه پاکوی. که مونږ د خپلو ګناهونو اقرا کوو نو هغه وفادار او صادق دی او هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړی او د هر قسم بدو نه به موپاک کړی." (اول یوحنا ۱: ۷ او ۹)

د عیسیٰ مسیح وینه مونږ د بدو او په ګناه ککړو کارونو ، ناوړه او پلیتو خیالونو څخه پریمینځی، او پاکوی.

## (۲) د زهرجن خوراک څخه ځان وساتی

ځینی افکار او خیالونه دبدن لپاره او همدارنګه د روح لپاره د وژونکي زهرو حیثیت لری. سرکشی، غصه، کینه، نفرت، بدګومانی، ویره، زورونه او بی حوصلی توب، ممکن یوکس په بدهضمی، د معدی په زخم، د زړه په نا آرامی اوداسی نورو بیماریو اخته کړی. دغه زهرونه روحانی ژوند له بیخه وباسی، او هر قسم نا آرامی راتوکوی.

لویی، کبر، ځان ځانی، بی ایمانی، چور او چپاول هم نور روحی زهرونه دی چې د یو مسیحی خوشحالی له منځه وړی، او دهغی روح مړزواندی، سست او غمجن کوی. هره ورځ د خدای څخه دا پوښتنه وکړی چې تاسو د دی زهرو د شر څخه په امان کښې وساتی.

هر کله موچې د کمزوری او یا روحانی مرض احساس وکړ، نو په یاد راوړی، چې عیسیٰ مسیح روحانی ستر طبیب دی. په پوره اخلاص او ډاډه زړه هغه ته ورشی. هغه به تاسوته د فکر او بدن روغتیا د ډالی په توګه در کړي.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

(دوه ځوابونه په نښه کړی)

۱۱ - بغض، کینه او غصه .........

الف - کله کله مرض پیدا کوی.

ب - په هیڅ ډول هم د انسان دزړه څخه بهرنه وځی.

ج - د روح او بدن لپاره زیانمن دی.

د - زمونږ د پاره لاژم دی.

## روحانی ورزش

بدن په ورزش سره قوی کیږی اودخدای روح په خدمت سره. هر څومره چې لویږی او روحی وده کوی او دخدای کلام زده کوی،

مالک خدای د خپل کار لپاره تاسوته زیات نه زیات فرصتونه او موقې، دندی او مسولیتونه د ډالی په توګه درکوی. او په تاسو خپل فضل کوی.

ځینی روحانی ورزشونه عبارت دی: د ګواهی ورکولو، هغه کسانوته دعا کول چې ګواهی ته غوږنسی. او کلیسائی غونډوته دهغوی دګډون بلنه، د کلیسا په دندو او کارونو کښې برخه اخیستل، د ګناه سره ضدیت او داسی نور. دغه د روحی ودی ورزشونه به تاسو غښتلی کړی او روحی ژوند به موهوسا کړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۱۲ - روحانی ورزش کښې کوم شیان شامل دی؟

(دوه ځوابونه غوره کړی)

الف - نوروته ګواهی ورکول.

ب - هغه کسانو سره بحث کول چې انجیل باندی ملنډی وهی.

ج - د کلیسا غونډوته د خلکو رابلل.

د - سل متره منډه وهل.

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړی

۱- (الف) – د نفس پاکوالی.

(ب) - روحانی ورزش.

(د) - د خدای په وعدو فکر کول.

(ه) - د نفس روحانی تغذیه.

۲ – (ب) – دمقدس کتاب لوستل او دعا کول.

(د) - د مسیحی کتابونو ویل.

۷ – (ب) - غواړی چې خپل نفس پاک او سپیڅلی وساتی.

(ج) - خدای غواړی چې دوی دی نیک رفتار، کردار او ښه بیان ولری.

۸- (الف) هو ! د خدای په مرسته.

۱۱- (ب) - کله کله مرض منځ ته راوړي.

(ج) - د روح او بدن لپاره مضر دی.

۱۲ – (الف) - نوروته ګواهی ورکول.

(ج) دکلیساغونډوته د خلکو را بلل.

# یاداشت

# نوی فعالیتونه

## هغه څه چې پدی لوست کښې به ئې ولولې

- خپل وخت څرنګه تیروی؟
- هغه زمانه او دور چې ستاسو هیلې او غوښتنې بدلیږي.
- ستاسو نوې غوښتنې .
- د کلیسا په غونډو کښې ګډون.
- د مقدس کتاب لوستل.
- دعا: څه وخت باید دعا وکړو؟
- دعا: څرنګه باید دعا وکړو؟
- د ګواهۍ ورکول.
- دمالک لپاره روحانی سندری او سرودونه ووایئی.
- د انجیل شریف موعظه.
- دخدای لپاره خدمت.
- د کلیسا په پروګرامونو کښې ګډون.

## خپل وخت څرنګه تیروی؟

ښکاره خبره ده چې هره ورځ څو ساعته د خپل وخت څخه په کار، آرام او خوراک کښې تیروی. مګر باقی وخت څنګه تیروی؟ هغه کارونه چې د فراغت په وخت کښې ئی یوسړی سرته رسوی، د هغه او د هغه د کورنی هیله او علاقمندي ښکاره کوي. ځینی خلک ټول عمر کار کوی، او ځینی نور لوبی کوی. او ځینی نور هم د دی ډول کارونو د کړو وخت نه لري.

ښائی د هغه کارونو لپاره چې خوښ مودی پوره وخت ونه لری. مګر د هغه شیانو لپاره چې د ټولو شیانو څخه زیاته دلچسپي ورته لری، په هره طریقه چې وی وخت ورته پیدا کوی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۱ - هغه کارونه چې د فراغت په وخت کښې ئی سرته رسوی، ښکاره کوی چې:

الف - څه شی سره ډیره مینه او علاقه لری.

ب - د کومی کورنی او طبقی څخه هستیٔ.

ج – ترکومی اندازی پوری د نورو نصیحتونو ته پاملرنه لری.

## هغه زمانه او دور چې ستاسو هیلې او غوښتنې بدلیږي

کله چې پوره بالغ او رسیدلی سړی شيء، نورنو د کوچنیوالی د دوری دلوبو سره مینه او علاقه نلری، ځکه چې د داسی کارونو په سرته رسولو کښې بوخت یئ چې اوس مو ورسره هیله او خواهش دی. کله چه ستاسو هیلې او غوښتنې بدلیږي نو ستاسو فعالیتونه هم بدلون مومي.

وختي چې ستاسو پخواني ملګري ددی څخه په تعجب کښې شی چې نور نو هغه کارونو ته چې مخکی مو د هغی سرته رسولو سره مینه درلوده، دلچسپي نلری، نو ډیر تعجب به وکړي. خو هغوی پدی نه پوهیږی چې تاسو په خوشحاله، ارزښناکه او خوښی بخونکی ژوند ترلاسه کړی دی.

آیا دا لاژمه ده چې بیرته د هغی کارونو په لټه کښې شی کوم چې تاسو یی نه قانع کولی او پری خوشحاله نه وی؟

که چیری یو فقیر چې خپل ځان د خوړو په هغه پاتی شونو مړوی چې خلک ئی د ګندو او کثافاتو په سطلونو کښې غورځوی هغه ته بلنه ورکړی شی چې هر ورځ دی په شاهانه دستر خوان کښې د خوراک لپاره کښینی. آیا تاسو فکر کوی چې هغه به په دی راضی شی چې یو ځل بیاد هغه مردار خوراک خوړلو ته لاړ شي؟

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۲ - آیا د هغه وخت څخه راپدی خوا چې په مسیح مو ایمان راوړی دی ستاسو په هیلو او غوښتنو کې کوم بدلون راغلی دی؟

..........................................................................

۳- ایا ستاسو فعالیتونو او سرګرمیو کوم تغیر موندلی دی؟

..........................................

## ستاسو نوی غوښتنې

د خدای زامن د نویو ارزوګانو او غوښتنو څخه برخمند دی. دغه غوښتنې او نوې هیلې تاسو د اجتماعی فعالیتونه او شخصی مسولیتونو لورته رهبری کوی.

دا یو فطری کار دی چې انسان دی هغه چاسره وی، او یادی هغه چا سره ګډ ژوندون اختیار کړی، څوک ئی چه خوښ شی. اوس نوچې خدای خپل دوست بولی او هغه سره مینه لری، نو دامنل شوی خبره ده چې ستاسو هیله به دا وی چې خپل وخت د هغه سره تیر کړی. او هغه خوشحاله کړی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۴ - د خدای د ځوی اصلي علاقمندي باید څه وي ؟

الف - مالداره او بډای کیدل..

ب - خوشحالی او خوشحاله ژوند تیرول.

ج - د آسمانی پلار سره ژوند تیرول، د هغی سره خبری کول او د هغی اراده سرته رسول.

ډیر زیات خواهش او شوق د خپل پلارهغه پادشاهۍ ته لرم چې ډیر ژر به د ځمکی پرمخ برقراره شی. خدای زمونږ د هر یو لپاره یوکار په نظر کښې نیولی دی. باید خپل ځانونه هغی ورځی ته تیار کړو کومه چې د مسیح دراتلو ورځ ده. هغه راځی څو د دنیا په ټولو هیوادونو باندې په سولې او برابرۍ سره حکومت او پادشاهی وکړی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

**۵** - د دی څخه چې خدای تاسو د مسیح د بیاراتګ لپاره په فعالیت کولو غوره کړی یئ ، کوم احساس درته په لاس درځی؟

الف - د دی قسم ویاړ او امتیاز د لرلو څخه خوشحاله یې.

ب - د دی څخه چې باید د خدای لپاره کوم کار سرته ورسوی نا آرامه یې.

۶ - که چیری ستاسو ځواب په پنځم سوال کښې د (الف) برخه وی نو د خدای شکر اداء کړی او که چیری د (ب) برخه وی نو بیا خواهش کوم چې د هغی په هکله دعا وکړی.

دغه شوق او لیوالتیا چې تاسوئی د خدای د پاچاهۍ سره لری تاسو خوشحال او سرګرمه ساتی. دا دی اوس ستاسو په څو نویو فعالیتونو بحث کوو.

## د کلیسا په غونډو کښې ګډون

کلیسا د خدای د ځامنو په وسیله جوړیږی کلیسا د مسیحیانو د تولیدو ځای دی څو هغوی وکولای شی هلته د خدای ستاینه او عبادت وکړې. او یو د بل ستونزو څخه خپل ځانونه خبرکړی او یو د بل مشکلاتو ته ځانونه ورسوی. او بالاخره هغه خدمت چې دوی ته سپارل شوی دی، هغه په ډیره ښه طریقه سرته ورسوی.

روحانی غونډی باید په هغه کورونو او یا هغه عمارتونو کښې دایرې شی چې خدای لپاره وقف شوی وی . په ډیره لیوالتا او مینه پدی غونډو کښې ګډون وکړی. او خپل دوستان او ملګری هم د انجیل د پیغام د اورولو لپاره راوبولۍ.

کلیسا ته تلل د دی سبب کیږی چې خپلو مسیحی خویندو او ورونو سره لیدنه کتنه وکړئ، او په خاصه توګه د خدای حضور نه چې هلته یی لري او ګټه پورته کړۍ .

دکلیسایو تکړه غړئ شۍ. دهغه کلیسا چې د مالک خدای خدمت کوی. او د انجیل زیری ورکوي. د داسی کلیسا په پروګرامونه کښې ګډون وکړئ ، او دهغی د برکتونو او ځانګړ تیاو څخه ګټه ، فیض او برکت لاس ته راوړی. دغه درسونه به تاسوته لارښوونه وکړی، څو له تاسو څخه دکلیسا یو تکړه غړی جوړشی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۷ - که غواړی ! هغه کار چې د خدای لپاره کوی زیات تاثیر ولری، او د مسیحیانو سره د ګډ ژوندون د نعمت څخه برخمند شی نو

...............

الف - خپل ځان د کلیسا څخه لری وساتی.

ب - د کلیسا په غونډه وکښې ګډون وکړی مګر د کلیسا غړی مه جوړیږی او د هغی په پروګرامونو کښې ګډون مه کوی.

ج ـ په هغه کلیسا کی چه انجیل په پوره توګه مني، غړیتوب تر لاسه کړئ او د هغې په پروګرامونو کښې ګډون وکړئ.

که چیری کوم وخت د کلیسایو پالونکی او یا یو غړی په غلطئ سره تاسو ته څه آزار او تکلیف و رسوې .نو ستاسو غبرګون به څه وي؟ کله چې په یوی کورنئ کښې یوکوچنی د خپل خور او ورور احساسات او ضمیر زخمی کړی نو هغه د دی نا آرامی په خاطر خپل کور نه پریږدی او تیښته نه کوی. کله چې د غه پیښه په کلیسا کښې منځ ته راځی وائی: " فلانی سړی زه خپه کړم، نور به کلیسا کښې قدم نه ږدم. خپل خدای عبادت به په خپل کور کښې کوم."

خبردار اوسی! چې د غه رنګ فیصلی د شیطان دحیلو او چلونو څخه دی چې پری غواړی مسیحیان کمزوری، او د خدای څخه لیرې کړی .

خدای دی ته لیواله دی چې په خپل کور یعنی کلیسا کښې د خپلو ځامنو سره ملاقات وکړی. ښايي چه د کلیسا ودانۍ یا هغه سلوک چه د کلیسا غړو غوره کړې دې ستاسو خوښ نشي خو پرې نږدې چه دغه سوچ ددې باعث شي چه تاسو د خپلو خویندو او ورونو سره د یوه دسترخوان پر سر د کیناستو نه ډډه وکړې او هغه خوارړو څخه چه ستاسو روح ته برابر شوي دي انکار وکړې. مقدس انجیل وائی: "او دیو بل سره عبادت لپاره جمع کیدو نه منع نه شو لکه څنګه چې د ځینو خلکو دستور دی، بلکه یوبل ته نصیحت وکړو، او هرڅو مره چې هغه ورځ په رانږدې کیدو وینی ، هغه هو مره یي زیات کوی" (عبرانیان ۱۰: ۲۵)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید ترسره کړی

۸ - که چیری د شپنو یعنی د کلیساپالونکو خبری ستاسو د نارضایتې سبب شی نو څه ډول غبرګون به ښکاره کوی؟

الف - نور به کلیسا ته نه ځی.

ب - بلی کلیسا ته به ځی.

ج - هغه به معاف کړی او په غونډو کښې ګډون ته به دوام ورکړې.

۹ - د عبرانیانو په نوم خط ۱۰: ۲۵ په یاده زده کړې.

## د مقدس کتاب لوستل

په تیرو درسونو کښې موولوستل چې د مقدس کتاب لوستل څومره ضروری ده او څومره ګټه لری.

آیا کولای شی چې دخپلی کورنۍ ټول وګړی سره یوځای راټول کړی څو هره ورځ یو د بله سره مقدس کتاب ولولی او دعا وکړی؟ دغه کار کورنی قربانی او یا کورنی عبادت نومیږي. کورنی عبادت ستاسو په کور کښې د حقیقی برکت د پیدا کیدو سبب ګرځی. د خدای کلام تاسو د هغی ورځی لپاره چې په تاسو راتلونکې ده تیاره وی اوستاسو لارښوونه کوی چې کورنی عبادت کښې دهر غړی د ضروریاتو او ستونزو د حل لپاره دعا وکړی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱۰ - کورنی مذبح ( دقر بانۍ ځای ) یا کورنی عبادت څه معنی لری؟

الف - هغه کلیسائی غونډی چې یوازی د کورنیو څخه جوړې شوی وي.

ب - دیوی کورنی د غړو راټولیدل د دعا او مقدس کتاب دلوستلو لپاره.

# دعا

## څه وخت باید دعا وکړو؟

دعا یو مهم کار دی چې یومسیحی کولای شی سرته ئی ورسوی. کله چې تاسو دعا کوی او خدای ستاسو دعا قبلوی، په حقیقت کښې یو ډول اړیکي ستاسو او د خدای ترمنځ پیدا کیږی. نوله همدی کبله دتل لپاره دعا ته وخت ورکړی.

د دعا وختونه!

× کله چې د خوب څخه راویښ شوئ، د همغی ورځی پیل د خدای په یادولو وکړی، څوورځنی مشکلاتو لپاره په روحانی، معنوی او جسمانی قدرت او طاقت سره سمبال شۍ.

× د خوړو څخه مخکی د خدای شکر اداکړی.

× هره ورځ باید کورنی عبادت ولرۍ.

× د کلیسا په غونډو کښې د وخت څخه په ګټې پورته کولو سره د غونډی په ختمیدو او یا مخکی د شروع کیدو څخه دعا وکړی. خدای فرمائی: "زما کور به د دعا دکور په نوم یاد یږی."

× خپل زړه د خدای لورته خلاص کړۍ، او دهغی د برکتونو په خاطر دهغی شکر ادا کړی او دهغی څخه د ملګرتیا او مرستی غوښتنه وکړۍ.ضروری نده چې د خپل اسماني پلار سره په خبرو کښې هروخت د الفاظو یا کلیماتو څخه کار واخلۍ. خدای ستاسو په ذهن، خیالونو او هغه څه چې په زړه کښې مو ګرځی هم خبر دی.

× مخکی له دي نه چې ویده شی د الهی پاملرنې په خاطر د خدای شکر ادا کړی. او د خپلو غلطیو معافی وغواړی. او کله چې سرپه بالښت کیږدی ، په هغه اعتبار او توکل وکړی .

## ستاسو کار

### هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی .

۱۱- د هر هغه یو پورتنی ځای مخی ته ننبه ورکړی کوم چې په حقیقی توګه یی عملی کوئ.

### څرنګه باید دعا وکړو ؟

کیدای شی چې ووائیی: " زه نه پوهیږم چې څرنګه دعا وکړم " دعا کول ډیر آسانه ده. لکه څنګه چې یو ملګری سره خبری کوی، همدغسی د خدای سره هم خبری وکړی. روح القدس به هم په دعا کښې ستاسو مرسته وکړي .

اول دهغه کارونو په باره کښې ښه فکروکړی چې خدای ستاسو د ښیګړی لپاره کړی دي بیا دهغی په خاطر د خدای شکر ادا کړی. خپلی غوښتنی او ددوستانو د خپلوانو اړتیاوی دهغی درګاه ته وړاندی کړی. او د ملتونو او خپلو ملګرو د خلاصون او نجات لپاره دعا وکړی.

د کلیساپالونکو، مسیحی خویندو او ورونو، او د مالک خدای د کار لپاره په ټوله نړی کښې، هم دعا وکړی. همدا بس ده چې شروع پری وکړی او وبه ګوری چې په تیزی سره دعا کول موزده کړل. عیسیٰ مسیح یو مثالی نمونه مونږ ته راکړي ده. ښه دا ده چې هغه په یاد زده کړی او کله کله ئی په دعا کښې وکاروی .

### د خدای لمانځنی دعا، یا ربانی دعا

" ای زمونږ پلاره چې په آسمان کښې يي، ستا نوم دی پاک او سپیڅلی وی، ستا سلطنت او پادشاهی دې راشی. ستا اراده چې څنګه په آسمان کښې ده پر ځمکه دی هم هماغسی شی. ماته همدانن دومره ډوډی او خواړه راکړه چې ماته کافی وی، او زما قصورونه وبخښه لکه څنګه چې مونږ هم خپل قصوروار معافوو، په مونږ ازموینه مه کوه، ستا پادشاهی، قوت او لوئی تل ترتله د هغی نه لوړه ده " آمین.

ددغی دعا الفاظ دمتی په انجیل کښې ذکر شوي دي.

" ای په آسمان کښې زمونږ پلاره، ستانوم دی پاک وی.

ستا بادشاهی دی راشی.

ستا مرضی دی پر ځمکه پوره شی.

څنګه چې په آسمان کښې پوره کیږی.

مونږ ته نن خپل ننی رزق راکړه.

زمونږ قصورونه معاف کړه

لکه څنګه چې مونږ خپل قصور وار معاف کړی دی.

او مونږ په آز میښت کښې مه اچوه.

خومونږ له د بدی نه امان راکړه.

ولی چې پادشاهی او قدرت

او لویی تر همیشه پوری ستادی. آمین "

(متی ۶: ۹-۱۳)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱۲- ربانی دعا له یاده زده کړی .

## د ګواهی ورکول

د ګواهی ورکولو نه غرض دادی چې هغه کارچې خدای ستاسو لپاره کړی دی .هغه نوروته induced ووایئی. داکار په هر ځای کښې سرته رسولی شی. په کلیسا ، کور، د کار په ځای کښې، او حتیٰ د خط او تلیفون په وسیله اوداسی نور.

لکه څنګه چې ستاسو نورو ورونو تاسو ته د عیسیٰ مسیح زیری او خبر درکړی دی، په تاسو هم په خپل وار لاﺯم دی چې خپل چاپیر یال کښې قومونوته د عیسیٰ مسیح په باره کښې خبری وکړی، او دهغوی لپاره دعا وکړی چې عیسیٰ مسیح د خپل ژغورونی خدای په صفت ومنی .

مقدس کتاب په ګواهی ورکولو ډیر تاکید کوی. مسیح فرمایلی دی: " تاسو زما ګواهان شی "

که په شهادت ورکولو کښې ډیری زړه ورتیا ته ضرورت لری، د خدای څخه ئی وغواړی، چې هغه به ئی تاسوته درکړی، په زرګونو مسیحیان چې د خپلی ګواهی ورکولو څخه ئی ویره درلوده، کله ئی چې په خپله ویره بریالیتوب لاس ته راوړ، نو پدی وپوهیدل چې د عیسیٰ مسیح په باره کښې ګواهی ورکول یو فوق العاده خوشحالوونکی او روح تازه کوونکی کار دی. مالک عیسیٰ

وفرمایل: " هر څوک چې د خلکو په وړاندی زما اقراروکړی زه به په آسمان کښې د خپل پلار په وړاندی د هغه اقرار وکړم. "
(متی ۱۰ : ۳۲)

" هر څوک چې ............په ما او زما په کلام شرمیږی نو ابن آدم به هم په هغه، هغه وخت وشرمیږی کله چې هغه د خپل پلار په لوئي کښې د پاکو فرینښتو سره راشی ." (مرقوس ۸ :۳۸)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسویی باید سرته ورسوی

۱۳- خدای غواړی چې ځامن ئی د هغه څه په باره کښې چې خدای د هغوی لپاره سرته وسولی ........

الف- ټولو خلکو ته څه ونه وائی .

ب- نورو ته ئی بیان کړی او ګواهی ورکړی .

## دمالک لپاره روحانی سندری او سرودونه ووایئی

هغه روحانی سندری او سرودونه چې په کور، او کلیسا کښې یي وایئ داوریدونکو د لیوالتیا او برکت سبب ګرځی، که څه هم آواز مو دومره ښه هم نوی .ځکه هغه چې مهم دی هغه ښه آو ازندی، بلکه د خدای عبادت دی چې د سندری او سرودپه نغمه او آواز کښې ستاسو د زړه څخه راپورته کیږی . مقدس انجیل وائی: " د مسیح کلام دی ستاسو په زړونو کښې ډیر ځای ومومی. او په خپلو

کښې یو بل ته تعلیم ورکوی او نصحیت کوی. او په خپلو زړونو کښې د شکر ګذاری سره د خدای ثنا، زبور، او روحانی سندری ووایئی. " (کولوسیان ۳: ۱۶)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسویی باید سرته ورسوی

۱۳- دسرود په ویلو کښې مهم مطلب دادی چې سرود ویونکې ..........

الف - باید ښه اواز ولري.

ب - په کلیسا کښې یي ووایي.

ج - دزړه له کومی د خدای لپاره سندری ووایي.

## د انجیل شریف موعظه

د عیسیٰ مسیح د انجیل بیانول د کلیسا د مهمو او اساسی دندو څخه شمیرل کیږی. ځینی کسانو چه خپل ټول وخت دی کارته ځانګړې کړې دی، خدای ورته د پالونکی او زیری ورکولو کارونه په کلیسا کښې ورسپاري.

## سوغات او ډالی ورکول

تر هغه ځایه چې د زیری د بیان کار د خدای دکورنی د ټولو و غړو پوری اړه لری. پلار هم په خپلو ځامنو کښې د هریو څخه دا امید لری چې دخپل عاید لسمه برخه دخدای دکار لګښتونوته ځانګړی کړي. دغه اندازه پیسی او دولت یعنی لسم یو یا په لسو کښې یو د عشر په نامه یادوو چې معنیٰ یی لسمه برخه ده.

نو موړی رقم د غونډو د ځایونو په کرایو، د کلیسا د ودانیو په اخیستلو او دکلیسا پالونکو په حقوقو کښې مصرفیږې، څو هغوی وکولای شی خپل ټول وخت د خدای د کار لپاره ځانګری کړي. سربیره پردی نور د مصرف ځایونو کښې هم په کاروړل کیدای شی لکه داوبو، بریښنا او دودانیۍ د جوړولو او ترمیم لګښتونه او داسی نور. هغه ډالی چې په غونډو کښې ورکو هم په همدی مصارفو لګول کیږی. په پروګرامونو کښې ددرسونو د ښکلا لپاره چاپ شوی مواد، پروګرام تیارول او مسیحی خپرونی او نشریاتو لګښت هم دهمدی لاری برابریږی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی بایدسرته ورسوی .

۱۵- د لسمې برخی یوه برخه د ډالیۍ په توګه ورکول یعنی دعشر ورکولٔ ............

الف - د خپل عاید او درآمد څخه ورکول کیږی .

ب- د ټول مال او جایئداد او سامان څخه ورکول کیږې .

ج – هر هغه مقدار چه مونږ یي غواړو ،ورکول کیږي.

د لسم یو ډالی کول ستاسو د عبادت په یوی برخه کښې شاملیږی . پدی وسیله د خدای د نعمتونو شکر ادا کوی، او په حقیقت کښې دنیا والوته د بشارت او زیری ورکولو په کار کښې د خدای سره همکاری کوی.

خدای تاسوته د کارکولو قدرت درکوی او تاسو هم د لسو ورځو مز دوری کښې دیوی ورځې مزدوری هغه ته ورکوی، ځو د کلیسا ګانو دروازی د بشارت د دندی سرته رسولو لپاره پرانیستی وساتی. په همدی اساس د لسمی برخی نه د یوی په ورکولو سره د انجیل موعظی ته دوام ورکوی .

ستاسو خیرات ورکول او سوغات بخښل ددی سبب کیږی چې لاندی برکتونه لاس ته راوړی .

× روحانی برکتونه

× رضایت او خوښی پدی باندی چې د خدای په کورنی کښې یوه برخه لری او کولای شی چې د هغی د مسولیت د بار یوه برخه په خپلو اوږو راوکاږی نو دخوشحالۍ او رضایت یو ډول احساس تاسو ته پیدا کیږي.

× موفقیت یا بریالیتوب : خدای هغه کسان د ژوند په کارونو کښې بریالی کوی ځوک چې د خپل عایدد لسمی برخي څخه یوه برخه ورکوی. په زرګونو مسیحیان دغه خبره تصدیقوی مقدس کتاب وائی: " ټول عشرونه ( لسم یو ) زما خزانو ته راوړی. ځو ځما په کور کښې خواړه وی او ځپستن تعالی وائی چې ماپدی وآزمایئی چې آیا د آسمان دروازی به تاسو ته خلاصی نه کړم؟ او دومره

برکتوته به پرتاسو را نازل کړم چې ځای به ئی نه وی "
(ملاکی ۳: ۱۰)

" او هر چاچې څومره په خپل زړه کښې مقرره کړی ده هغه به هومره ورکوی .او نه په مجبوری او نه د قرض په طور. ځکه چې خدای په خوشحالی ورکوونکی سره مینه لری."
(د کورنتیانو په نوم د پولس دوهم خط ۹: ۷)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسویې باید سرته ورسوی

۱۲ – خدای وعده کړی چې هغه کسان به بریالی کوی چې
...............

الف – راتلونکی لپاره پیسی ذخیره کوی.

ب – د خپل عاید د لسمي برخي څخه یوه برخه د عشر په توګه ورکوی.

۱۷ – ملاکی ۳: ۱۰ په یاد زده کړی.

## د خدای لپاره خدمت

هر کار چې د خدای لپاره سرته ورسوی، نو روحانی وده او پوخوالئ به موګړندئ شي. د کلیسا د جارو کولو نه نیولی تر د کورنی غونډو اداره کولو، او نوروته د مقدس کتاب د تعلیم ورکولو پوری. د خپلی کلیسا د پالونکو څخه وغواړی چې په دغه خدمتونو کښې تاسوته یو مناسب خدمت در وسپاری.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسویی باید سرته ورسوی

۱۸ – مسیحیان باید ................

الف – په خپله خوښه خپل تیاری د کلیسا د پالونکو د مرستی لپاره اعلان کړی.

ب – انتظار وکړی چې د کلیسا پالونکي د هغوی څخه د مرستی او همکاری غوښتنه وکړی.

## د کلیسا په پروګرامونو کښې ګډون

په کلیسا کښې ګڼ شمیرپروګرامونه پر مخ بیول کیږی. چې د هغی څخه یو د مقدس کتاب د ښودلو صنف دی چې د مختلفو عمرونو او کلونو لپاره وی. پدی صنفونو کښې په منظمه توګه ګډون وکړی، او د خدای کلام په صحیح طریقه زده کړی. او دا زرینه او ښه موقعه دلاسه مه ورکوی.

ځوانان، پیغلی، ښځی، کوچنیان او نوی ځوانان د خپل ځان لپاره ځانګړی او خاص پروګرامونه لری او ځانته په جلا توګه په خپلو غونډو کښې د خدای عبادت کوي، او په مختلفو پروګرامونو کښې ګډون کوي.

هر یو ددی ګروپونو او ډلو څخه چې تاسو سره مناسبه وی هغوی سره یوځای شۍ او هغوی د فعالیتونو څخه ګته واخلۍ او پکښې ګډون وکړۍ. ددی ګرپونو هدف د هغه کسانو تعلیم او مرسته ده چې احتیاج دی . ښائی یو نفر ونشی کولای چې ډیر کار سرته ورسوی. مګر کله چې خدای د یو والي په قدرت سره کار وکړی، هغه وخت به ئی ځامن هم وکولای شی چې د هغی کار ته په ټولیزه کښې پرمختګ ورکړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې تاسویی باید سرته ورسوی

۱۹ – تاسو د کومی کلیسا غړیتوب لرئ؟...................

که چیری دا توان او وس نه لرۍ چې په ټولو سپیڅلو کارونو کښې برخه واخلۍ مه خفه کیږۍ. ځکه چې خدای ستاسو په حال پوره خبر دی او تاسو سره به مرسته او ملګرتیا وکړي چې هغه څه موپه قدرت کښې وی هغه تر سره کړۍ .

پدی فعالیتونو به چې ستاسو په نوی ژوند کښې پیدا شوي دي خوشحاله شۍ. ځومره به ستاسو د خوشحالۍ سبب شی، کله چې دیوکس لپاره د ابدی هلاکت څخه همیشه ژوندون ته لارښوونکی شۍ.

هر کار چې پدی دنیا کښې د خدای لپاره سرته رسوی بی بدلې او بی انعامه به پاتی نشي.

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړی

۱ – (الف) څه شی سره ډیره مینه او علاقه لری.

۴ – (ج) د آسمانی پلار سره ژوند تیرول، د هغی سره خبری کول، او دهغی د ارادې سرته رسول.

۷ ـ ( ج ) په هغه کلیسا کښې چې انجیل په پوره توګه قبلوی او منی، غړیتوب تر لاسه کړئ، او د هغی په پروګرامونو کښې ګډون وکړی.

۸ – (ج ) هغه به معاف کړی او غوندوکښې ګډون ته به دوام ورکړی.

۱۰ – (ب ) د یوی کورنی د غړو راټولیدل د دعا ، او مقدس کتاب دلوستلو لپاره.

۱۳-( ب ) نوروته ئی بیان کړي او ګواهی ورکړي.

۱۵ – (الف ) دعاید لسمه برخه.

۱۲ – (ب ) د خپل عاید د لسمي برخي څخه یوه برخه د عشر په توګه ورکوی..

۱۸ – (الف ) په خپله خوښه خپل تیاری د کلیسا د پالونکو د مرستی لپاره اعلان کړی .

# یاداشت

# نوي قوانين

## هغه څه چې پدې لوست کښې به ئې ولولې

- قوانين څوک وضعه کوي؟
- کوم ځای کښې دغه قوانين موندلې شو؟
- څرنګه دغه قوانين عملی او اجرا کیدای شي؟
- د بریالیتوب قوانین.

## قوانين څوک وضعه کوي؟

په کور کښې موراو پلار قوانين وضعه کوي. هغوی خپلو بچوته ښيي چې څنګه رفتار باید وکړی. پلار خپلو بچوته وائی چې کوم کارونه باید وکړی او کوم کارونه باید ونه کړی.

کوچنيان ډير ژر زده کوی چې باید د دی قوانينو په عملی کولو سره ژوند وکړی کله چې هغوی قوانين د پښو لاندی کوی پلارئی هغوی تنبیه کوی.

او که چیری سر غړونه وکړی او تابعدداری ونه کړي ممکن هغوی ته اخطار هم ورکړی او خبردار یی کړی. مګر ددی سره هم کوچنيان د کورنی یو جزدی او یوازی نافرمانی د هغوی لپاره د مشکلاتو او نا آرامی سبب ګرځی.

زمونږ آسمانی پلار هم د خپلو ځامنو لپاره قوانین او دستورونه ټاکلي دی او کله کله هم خپلو ځامنوته خبرداری ورکوي او هغوی ته تنبیه کوي، څو چې هغوی ته فرمانبرداري او ادب ور زده کړي.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱- په یوی منظمی او ښه سمبال شوې کورنۍکښې څوک قوانین ټاکي؟

الف – ځا من

ب – ګاونډیان

ج – موراوپلار

۲ – زمونږ دکړو وړو او اخلاقو معیار او انداز څوک ټاکی؟

الف – زمونږ آسمانی پلار.

ب – زمونږ کلتور

ج – مونږ پخپله

## کوم ځای کښې دغه قوانین موندلی شو؟

خدای په مقدس کتاب کښې د مسیحی تګ لاری قوانین ثبت کړیدي.

ټول دغه قوانین د مقدس کتاب د کتابونو په زیرمو کښې او په ځانګړی توګه په نوی لوظنامی (انجیل شریف) کي موندلی شو.

خدای خپل ځوی عیسیٰ مسیح نړی ته راولیږه څو مونږ ته وښیي چې څرنګه باید رفتار وکړو او عملونه مو په کوم ډول وی. او نور نو پدی باره کښې هیڅ شک ونکړو. مسیح ستاسو لپاره یوه کامله نمونه ده. مسیح په خپله وینا کښې چې د " د عیسی مسیح په غره باندې وعظ " په نوم مشهوره ده د مسیحی تګ لاری قوانین ټاکلی دی او بیان کړی دی، چې دغه وینا دمتی په انجیل، پنځم، شپږم او اوم باب کښې موندلی شو.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۳ – هغه مثالي نمونه چې په خپل مسیحی ژوند کښې ئې لری څوک دی؟

الف – د کلیسا پالونکي یا شپانه

ب – عیسیٰ مسیح

ج – ټول مسیحیان

۴ – "د عیسی مسیح په غره باندې وعظ " د انجیل په کومه برخه کښې موندلی کیږی؟

الف ـ دمتی د انجیل په پنځم، شپږم او اوم باب کښې.

ب ـ د مرقوس د انجیل په ۵ ، ۲ او ۷ باب کښې .

ج ـ د یوحنا د انجیل په ۵ ، ۲ او ۷ باب کښې .

**۵** – د "د عیسی مسیح په غره باندې وعظ " کښې عیسیٰ مسیح د څه شی په باره کښې خبری کړیدي ؟

الف – د غرونو په حرکت ورکولو د ایمان لرلو په باره کښې

ب – د اورشلیم ( بیت القدس ) د شاو خوا غرونو په باره کښې

ج – د مسیحی کړن لارې په باره کښې.

لومړی، عیسیٰ مسیح د نعمتونو برکتونو او دخدای د ځانګړی ډالیو چې د عاجزانو، سوله خوښوونکو، پاک زړه لرونکو او هغو کسانو ته چی په ژوند کښې خدای ته لومړی درجه اهمیت ورکوی، او دی ته تیار دی چې دهغه لپاره ستونزی او کړاونه وګالې، خبری کوی .

مسیح مونږ ته راښیی چې خپلو دښمنانو سره هم مینه وکړو او مرسته ورسره وکړو. او د هغوی لپاره دعا وکړو. هغه کسان موچې نا آرام کړی دی، بخښنه تری وغواړو او عذر ورته وړاندی کړو. او هغه ټولو کسانو سره چې مونږ سره ئی بدسلوک کړی دی، په مهربانی سره چلند وکړو . دمسیح لارښونی د خلکو سره د سلوک په څرنګوالی کښې ډیری بی مثاله ، په زړه پوری او عالی دی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۲- د متی د انجیل پنځم باب ولولی.

۷- ( دوه ځوابونه غوره کړی ). د مسیح د لارښوونو په مطابق باید مونږ:

الف- عاجزه او خاکساره و او سو.

ب- خدای ته په خپل ژوند کښې د هر څه نه لومړی مقام ورکړو.

ج - د خپلو د ښمنانو څخه بدل واخلو

د - په هر کار کښې باید خپل ځان خوشحاله کړو .

۸- ( دوه ځوابونه خوښ کړی ) د متی د انجیل په ۵: ۱۳او۱۴ کښې مسیح ویلی دی چې د خدای ځامن:

الف - د بشر د نسل لپاره د مالګی حیثیت لری.

ب – هیڅکله غلطی تری نه کیږی.

ج – ددنیا رڼاه ده.

د – د زړه ورړونکو ګلانو په څیر دی.

۹- ( دوه ځوابونه خوښ کړی )

دمتی په انجیل ۵: ۲۱-۳۰ کښې عیسیٰ مسیح مونږ د کومو شیانو څخه منع کړي یو؟

الف – جواری او قمار

ب- غصه او انتقام

ج – بدخیالونه او فکرونه او همدارنګه زنا

د- د عشر ( لسم یو ) ورکول .

۱۰- د متی په انجیل ۵: ۴۳-۴۸ کی عیسیٰ مسیح فرمایلی دی:

الف- باید یوائې د هغه کسانو سره مینه او محبت وکړو چې زمونږ ملګری وی او مونږ سره هم مینه کوی (او زمونږ دوستان وی )

ب- باید خپلو دښمنانو سره هم مینه ولرو.

مسیح د خلکو سره سلوک چې په " طلائی او زرین قانون " مشهور دی داسی بیان کړی دی " د نورو سره تل داسی سلوک کوی لکه ښنګه سلوک چې تاسو د ځان د پاره غواړی. " ( متی ۷: ۱۲ )

مونږ ښایې کبرجن، ځان پرست، جنګ او شر خوښوونکی ، او په خلکو نیوکی کوونکی واوسو. خو مناسب نده او هیڅکله باید اجازه ورنکړو چې حتیٰ شهوانی او نفسانی خیالونه او احساسات ، او شرارتی او ناپاکی انګیزی زمونږ په ذهن، زړه او ضمیر کښې ځای ونیسی او ریښی وځغلوي.

زمونږ د ټولو نه لوی شوق او مهم ارمان باید د خدای اراده سرته رسول وی مونږ نشو کولای چې مال او دولت خپل هدف وګڼو او په عین حال کښې دی دخدای خدمت هم وکړو .

خوکه چیری په خپل ژوند کي خدای ته په لومړی مقام کښې ځای ورکړو. هغه به یو داسی ترتیب برابر کړی څو پری زمونږ اړتیاوی پوره شی. سر بیره پردی هغه انعام او مکافات چې زمونږ د خدمتونو لپاره په جنت کښې دی، د تل پاتی مال او دولت سره به یوځای مونږ ته راکړی شی . او زمونږ د خدمتونو قیمت به ادا کړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسوئي باید تر سره کړئ

۱۱- د متی د انجیل شپږم باب ولولۍ .

۱۲- هغه اساسی اصل چې په زرین قانون مشهور دی کوم دی ؟

الف- د قیمتی شیانو لپاره د سرو زرو کار ول .

ب- نورو سره هغه رنګ سلوک کول کومه چې غواړۍ نورئی تاسو سره ترسره کړي او د هغوی څخه ئی طمعه لرۍ .

ج- نورو سره داسی عمل کوی لکه څنګه چې ئی تاسو سره کوي.

۱۳- د متی په انجیل کښې ۲: ۱۹-۲۱ مسیح ویلی دی: مونږ باید خپل شتمنې یا دولت .........

الف- په اسمان کښې جمع کړو، او ذخیره ئی کړو .

ب- په دنیا کښې جمع کړو، او ذخیره ئی کړو .

### څرنګه دغه قوانین عملی او اجرا کیدای شی؟

عیسیٰ مسیح پوهیده، چې هیڅوک به د خدای د مرستی نه بغیر ددی قوانینو په عملی کولو قادر نشی. نو له دی وجی نه یې شاګردانو ته لارښودنه وکړو چې خدای ته دعا وکړو او دهغه نه مرسته وغواړو. مسیح یوه دعا د نمونی په ډول هغوی ته ورکړه چې هغی ته " ربانی دعا " وایو . ( متی ۲: ۹-۱۳ ) ولولۍ .

د ټولو نه مهمه داده چې ستاسو آسمانی پلار خپل سپیڅلی روح رالیږلی دی څو په تاسو کښې ژوند وکړی، او تاسو سره مرسته او دوستی وکړی په راتلونکی درس کښې به د دی موضوع په باره کښې زیات معلومات ترلاسه کړی. پدی مه خفه کیږی چې ولی نشی کولای هغه رنګ چلند او ژوند وکړی کوم چې خدای ئی غواړی. هغه به قدم په قدم تاسو سره مرسته وکړی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۱۴- عیسیٰ مسیح د غره دسر د وعظ په واسطه مونږ ته دا تعلیم راکوی چې خپله دعا باید .........

الف - سپیڅلو خلکو لپاره وکړو.

ب - خپلو نیکو نو ته دعا وکړو.

ج - په مستقیمه توګه خدای ته دعا وکړو.

۱۵- رباني دعا .......

الف - هغه د عا ده چې عیسیٰمسیح دصلیب پر سر کړې ده.

ب - د دعا یو نمونه ده چې د غره د سر په وعظ کښې موندلی کیږی.

ج - د عیسیٰ مسیح دعا ده په ګیتسمنئ باغ کښې.

۱۶- د متی د انجیل اوم باب په غور سره ولولی.

## د بریالیتوب قوانین

د مسیح تعلیمات او لاربنودنی د کامیاب ژوند لپاره یوه نمونه او سمبول دی . زمونږ ژوند یو عمارت یا ودانی جوړښت ته ورته والی لري. زمونږ خیالونه فکرونه، الفاظ او کار نامی دماښی خښتی تشکیلوی . کله چې دغه خښتی دهغه عمارت په بنسټ چې د مسیح تعلیمات دی کیږدو، نو د ښو اخلاقو او نیکو امتیازاتو خاوندان به شو. او د ژوند د راز راز طوفانو په مقابله کښې به تل ترتله برقرار واوسو.

هر څوک چې د مسیح قوانینو ته د پاملرنی نه بغیر په خپل سر او هسي چې یي زړه غواړی، ژوند کوي، نو بریالی به نوی. هغه خپل کور د یو مضبوط بنیاد پرځای، د شګې پرمخ جوړوی.

دا ښکاره خبره ده چې کله طوفان راشی نو دغه کور به نابودوي. که چیری غواړی چې بریالی او کامیاب مسیحیان شی نو د خپل ژوندون ماڼی د مسیح د تعلیماتو پر بنیاد جوړه کړی، او دهغه د قوانینو تابعداری وکړی. نو بیا به روح القدس تاسو سره مرسته او ملګرتیا وکړي.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱۷- هغه څوک چې د مسیح د تعلیماتو تابعداری کوی او هغه په خپل ژوند کښې په کاروړی، دهغه چا په شان دی چې .........

الف - خپل کور په مضبوط ډبرین بنیاد جوړوی.

ب- خپل کور د ځمکی پرمخ په شګو کښې جوړوی.

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړې

۱- (ج) موراوپلار.

۲ - (الف) زمونږ آسمانی پلار.

۳ - (ب) عیسیٰ مسیح

۴- (الف) د متی په انجیل پنځم، شپږم او اوم باب کښې.

۵- (ج) د مسیحی کړنلاری په باره کښې.

۷- (الف) عاجزه او خاکساره و اوسو.

(ب) خدای ته په خپل ژوند کښې د هر څه نه لومړې مقام ورکړو.

۸ - (الف) د بشري نسل لپاره د مالګی حیثیت لری.

(ج) د دنیا نور دی.

۹- (ب) غصه او انتقام

(ج) بد خیالونه او فکرونه او همدارنګه زنا.

۱۰- (ب) باید خپلو دښمنانو سره هم مینه ولرو.

۱۲- (ب) نورو سره هغه رنګ سلوک کول کومه چې غواړې نورئی تاسو سره ترسره کړي او د هغوی څخه ئی طمعه لرې.

۱۳- (الف) په آسمان کښې ئی جمع کړو او ذخیره کړو.

۱۴- (ج) په مستقیمه توګه خدای ته دعا وکړو.

**۱۵**- ( ب) د دعا یوه نمونه ده چې د غره د سرپه موعظې کښې موندلې کیږي.

**۱۷**- (الف ) چې خپل کور په مضبوط ډبرین بنیاد جوړوي.

یاداشت

# ستاسو مؤنس او مددګار

## هغه څه چې پدی لوست کښې به ئې ولولې

- روح القدس تاسو سره مرسته کوی.
- د روح میوی.
- د روح سره تګ او اوسیدل
- د روح القدس قدرت په تاسو کښې.
- د روح القدس ورکړی او ډالی.

## روح القدس تاسو سره مرسته کوي

شاید خپل ځان سره ووایئ : " زه باور نه لرم چې و کولای شم یوښه او مثالی مسیحی ژوندون ولرم. هغه کارونه چې باید سرته ئی ورسوم دومره ډیر دی چې حتی ' ټول می یاد هم ندی. پرته له دی نه چې عملی ئی کړم. په حقیقت کښې دغه مسائل زما لپاره ډیره ستونزمن او د کړاونو څخه ډک دي."

مه نا امیده کیږی. دومره چې تاسوته سخت ښکاری هغومره مشکله نده. ځکه روح القدس ستاسو دمرستی لپاره راغلی دی. مسیحی ژوند د یو موټی وچو قوانینو څخه ندی جوړ شوی چې تاسو د هغی په مراعاتولو مجبور شی او په خپل ټول زور او طاقت، او د زړه په زور او د بدن په مشقت سره کوښښ وکړی څو یوښه سړی در څخه جوړشی. بلکه باید هغه څه چې خدای ستاسو لپاره

سرته رسولی دي هغه قبول کړي او اجازه ورکړی چې روح القدس په تاسو کښې ژوند وکړی او ستاسو لارښود شی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۱- خدای څوک ستاسو د مرستی لپاره رالیږلی دی، څو همیشه تاسو سره وی ؟

الف – کشیش یا دینی لارښود.

ب – شپانه، یا د کلیسا پالونکی

ج – روح القدس.

۲- مسیحی ژوند عبارت دی د ......................

الف - د یو موټی وچو قوانینو د عملی کولو څخه

ب - زیار ویستل او په اوږو د روند بار وړل د پرهیز ګاری او تقویٰ د لاس ته راوړلو لپاره.

ج- د مسیح سره د ورته والي لپاره زیار ویستل.

د- داچې روح القدس ته اجازه ورکړو، کوم قسم چې هغه غواړی په مونږ کښې خپل کارو کړی.

روح القدس کولای شی چې په یو وخت کښې دی په هر ځای کښې وی او هر چا ته ځان رسولی شي. هغه وخت چې عیسیٰ مسیح په دی خاورینه نړی کښې وه، کولی ئی شو چې په یووخت

کښېږ یوازې په یوځای کښېږ و اوسی. خو کله چې آسمان ته پورته شو روح القدس ئی راولیږه ځو ټولو مسیحیانو سره وی. او هغوی سره په مشکلاتو کښېږ مرسته وکړی او لارښونه ئی وکړی. نوې لوظنامه وائی : " او زه به پلار ته خواست وکړم چې تاسو ته بل مددګار درکړی ځوک چې به تاسو سره مدام وی. او هغه به د حق روح وی. دنیا هغه نشی قبلولی. ځکه چې دنیا نه خو هغه وینی او نه ئی پیژنی. خو تاسوئی پیژنی ځکه چې هغه په تاسو کښېږ اوسی او په تاسو کښېږ وی خو مدد ګار یعنی روح القدس چې به پلار زما په نوم راستوی هغه په تاسو ته هر څه ښیِی. او بیا به درته هغه څه رایادوی . کوم چې ما تاسوته وئیلی دی " ( یوحنا ۱۴: ۱۲او ۲۲ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۳- روح القدس رانازل شوي دي ځو ..............

الف- چې همیشه د ټولو مسیحیانو سره وی.

ب- د ځینی مسیحیانو سره وی.

## د روح میوی

دروح القدس راتګ ستاسو ژوند کښېږ ډیری ښی نتیجی منځ ته راوړی چې دغه نتیجی د روح میوه او ثمره نومول کیږی .

روح القدس په لومړیو کښې د نیک کار سرته رسولو شوق درکوی ، او بیا وروسته ستاسو مدد ترسره کوی او تاسوته قوت درکوی څو هغه نیک کار سرته ورسوی.

هغه وخت چې هغه ته اجازه ورکړی چې تاسو ته په هدایت کولو سره ستاسو مرسته وکړی نو مسیحی خوی او خصلت په تاسو کښې هم وده کوی او پوخوالي او کمال ته رسیږی، ستاسو کردار، خبری او فکری طرز به دیوی خوندوری میوی په څیر شی. د کورنی غړی او ملګری به ستاسو د مجلس او خبرو نه خوند اخلی.

خو د هرڅه نه زیات آسمانی پلار به موخوشحاله شی. نوی لوظنامه وائی: "خو د خدای د روح میوه مینه، خوشحالی، سلامتی، زغم، مهربانی، نیکی، ایمانداری، عاجزی او پرهیزګاری ده. د داسی کارونو یو شریعت هم مخالف ندی ". (د ګلتیانو په نوم خط ۵: ۲۲او۲۳)

" دغه شان زما د پلار جلال پدی ښکاره کیږی چې تاسو ښه ډیره میوه ونیسی. او زما مریدان ښکاره شی. " ( یوحنا ۱۵: ۸ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوئ

۴- د روح ثمره اشاره ده هغه.......................................

الف- افرادوته چې د زیری ورکولو په غونډه کښې توبه وباسی.

ب- عالی خصوصاتو ته چې روح القدس ئی زمونږ په اخلاقو کښې منځ ته راوړی.

۵- د ګلتیانو په نوم خط ۲۲:۵او۲۳ له یاده زده کړی.

## د روح سره ټک او اوسیدل

زمونږ طبیعت همیشه دا غواړی چې خپله لاره او کړنلاره دی ولری او په خپله خوښه دی یو کار ترسره کړی. غواړو هغه څه مو چه خوښ وي هغه ته عملی بڼه ورکړو. همدا دلیل دی چې مونږ باید خپل باطنی آواز ته چې د روح القدس څخه دی غوږونیسو. هغه آواز چې مونږ د خدای د ارادی سرته رسولو لپاره تشویقوی. او دهغه لارهم راښیي. مقدس انجیل کښې داسی لولو: " زما مطلب دادی که تاسو د خدای دروح په ښودلی لار روان یی. نو دا جسمانی شوقونه به هیڅکله پوره نکړی. که چیری مونږ د خدای د روح په وسیله ژوندی یو نو دخدای د روح په مطابق ژوند تیرول هم پکار دی " (ګلتیانو په نوم د پولس رسول خط ۵: ۱۲او ۲۵)

نوکه د خدای روح زمونږ د ژوندون چینه وی باید زمونږ ژوند لاربښود هم شی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوۍ

۲-ګلتیانوته په خط ۵: ۱۲ کښې چې وئیل شوي دي :

" جسمانی خواهشات به هیڅکله پوره نکړی،" معنیٰ ئی داده چې ......................

الف- خپلو ارزوګانوته به ونه رسیږۍ.

ب- په ژوند کښې به دنا امیدی سره مخامخ شی .

ج- د خپل نفس په خواهشاتو چې د سرکشه طبیعت څخه سر چینه اخلی، بریالی کیږي.

د خدای روح تاسو ته لارښونه او قوت درکوی مګر آسمانی لاره درته نه وهي. باید پخپله تاسو خپله لار ووهی یعنې حرکت وکړی. او باید د روح القدس سره په مرستې کولو هغه ته اجازه ورکړی چې ستاسو لارښوونه وکړی.ددی اصطلاع معنیٰ "د روح سره تګ او اوسیدل" په مقدس کتاب کښې همدا ده . همدا کار به د مقدس کتاب په لوستلو او دهغې د تعلیماتو په کارولو سره تاسو سرته ورسوی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۷- "د روح سره اوسیدل" او یا د روح سره تګ معنی داده چې

........................................

الف- همیشه دی د نشې او بې خودئ په حالت کښې ژوند وکړو.

ب – په خپلو ورځینو کارونو کښې د روح القدس دلارښونو پیروی وکړو.

## د روح القدس قدرت په تاسو کښې

عیسیٰ پدی پوهیده چې ملګری او پیروان ئی د خدای په خدمت کښې د دوی د انسانی طاقت څخه پورته یو قوی طاقت ته اړتیا لری. په همدی غرض ئی هغوی ته ووئیل: انتظار کوی څو زه تاسو ته خپل سپیڅلی روح راولیږم څو تاسو پری شیرازه شۍ. او په ټوله نړی کښې د عیسیٰ مسیح قدرت موندونکی ګواهان شۍ په نوي لوظنامي کي دا موضوع داسي روښانه شوې ده.

" تر څو چې هغه د هغوی سره ملګری وه نوهغوی ته ئی حکم ورکړو چې د بیت المقدس نه مه وځۍ، او دائی ووئیل : چې تاسو خامخا انتظار وکړی د دی د پاره چې هغه وعده چې زما پلار کړی ده، او ما ئی تاسو ته ذکر کړیدۍ پوره شی. او لکه چې تاسو ته معلومه ده چې یحییٰ به په اوبو بپتسمه ورکوله خو تاسوته به په روح القدس بپتسمه درکړی شی او دابه لږی ورځی پس وی.خو تاسو ته به د روح القدس په نازلیدو طاقت درکړی شي او تاسو به په بیت المقدس کښې او په ټوله یهودیه او سامریه کښې او دی نه آخوا د دنیا تر بله سره زما شاهدان یی " (اعمال د رسولانو ۱: ۴ ، ۵ او۸)

همدارنګه یحییٰ بپتسمه ورکوونکی ووئیل : " زه تاسوته په اوبو بپتسمه درکوم. خوداسی کس راتلونکی دی چې هغه زمانه ډیر طاقتور دی اوزه د هغی د پیزار د تسمی د پرانستلو جوګه هم نه یم هغه به تاسوته په روح القدس او اوربپتسمه درکوی " ( لوقا ۳: ۱۲ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۸- اعمال د رسولانو ۱: ۴-۵ او ۸ دری ځلی ولولی .

۹- یحییٰ بپتسمه ورکوونکی د مسیح په باره کښې ووئیل چې هغه ..................

الف- به په اوبو او د خلکو د توبی دلاری بپتسمه ورکړی.

ب- په روح القدس او اور به بپتسمه ورکړی.

درسولانو دعملونو کتاب د پنطیکاست د ورځی پیښه چې د عیسیٰ مسیح شاګردان پکښې په روح القدس څخه مالامال شوی وه داسی بیانوی.

" د پنطکاست په ورځ هغوی ټول په یوکورکښې ناست وه چې د آسمان څخه د اورلمبو په څیرژبی راکوزی شوی چې د تیزباد په شان آواز ئی کولو او هغوی یی مسحه کړل " او ټول په روح القدس معموره شول او په پردو ژبو ئی خبری شروع کړی څنګه چې روح القدس د خبرو طاقت ورکړو. هغه وخت په بیت المقدس کښې د آسمان لاندی دهر قوم نه راغلی خدای پرست پرهیزګاران اوسیدل. او په حیرانتیا کښې ئی ووئیل : آیا داټول ګلیلیان ندی څه چې

خبری کوی؟......... مونږ د کریت او عربستان یو .خو مونږ ټول په خپلو خپلو ژبو کښې د خدای دلویو لویو کارونو بیان اورو." (اعمال د رسولانو ۲: ۴-۵ ، ۷ او ۱۱)

"خو پطروس دیوولسوتنو سره پاڅیدو او په اوچت اوازئی هغوی ته ووئیل ای یهودیانو ملګرو ! او هغه کسانو چې په بیت المقدس کښې اوسی پدی پوه شی او زما خبره واوری .......... او بیا چې کومو خلکو دا خبری قبولی کړی هغوی ته ئی بپتسمه ورکړه. او په هغه ورځ تقریباً دری زره کسان د هغوی سره شامل شول " (اعمال د رسولانو ۲: ۱۴-او ۴۱)

" کله چې هغوی خپله دعا ختمه کړه نوچې په کوم کور کښې هغوی راغونډ شوی وه. هغه وجړقیدلو او ټول په روح القدس معموره شول او دخدای کلام ئی ښه په زړورتیا بیان کړو" (اعمال د رسولانو ۴: ۳۱)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱۰- په روح القدس تعمید یعنی بپتسمه په کوم نوم مشهوره ده ؟

الف- د مسیح په بدن کښې تعمید (د توبی غوپه)

ب- په اوبو تعمید یا غوپه وهل .

ج- دپینطکاست تجربه

۱۱- په روح القدس د تعمید هدف دادی چې مسیحیان وکولای شی

.................

الف- چې عیسیٰ مسیح باندی په ګواهی ورکولو سره په مؤثری طریقې سره دعا وکړی.

ب- نور د خپل روحانیت داغیزو لاندی راولی.

ج- معجزی ښکاره کړی.

هم هغه قدرت نن هم مسیحیانو په واک کښې ده. د شلمی پیړی په پیل کښې او دهغی نه را په دی خوا تر اوسه پوری څو ملیونه کسان په بیلابیلو کلیساګانو او مختلفو مسیحی ډلو، په توله نړی کښې د پینطکاستی تجربی د تعمید او الهی قدرت څخه ګټه لاس ته راوړی او پری شیرازه شوي دی. نوي لوظنامه وائی:

"پطرس ووئیل: توبه ګارشی. او په تاسو کښې هریو دی د خپلو ګناهونو د معافی لپاره د عیسیٰ مسیح په نوم بپتسمه واخلی او تاسوته به روح القدس وبخښلی شی." خدای وعده تاسو سره، ستاسو د اولاد، او دهغه ټولو سره ده څوک چې لری دی. یعنی د هر چاسره ده چې څوک زمونږ مالک خدای را وبلی" (اعمال د رسولانو ۲: ۳۸-۳۹)

## ستاسو کار

### هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱۲- آیا تاسو هیله من یئ چې د روح القدس قدرت ستاسو په ژوندون کښې ریښنی وکړی ......................

آیا غواړی چې د خدای سوزونکې اور مو په زړونو کښې ځای ونیسی. څووکولای شې د عیسیٰ مسیح په اړه دنورو سره خبری وکړی؟..................................

ایا خوښه موده چې دعاګانی مو قبولی شي؟..................................

دغه ستره او عالی پنطکاستی تجربه هم ستاسو حق او حصه ده. د خدای نه وغواړی چې د روح القدس بپتسمه درکړی .

## دروح القدس ورکړی او ډالی

څرنګه چې مسیح غواړی چې د هغه کلیساګانی د روحانی قدرت څخه معموره شی. روح القدس خپلی مختلفی ورکړی او پیرزوینی په خاصه توګه د کلیسا مختلفو غړوته ورکوی. نو له همدی کبله د کلیسا هر یو غړی په یو ډول نه یو ډول د کلیسا په کار او پراختیا کښې برخه مند او حصه داردی. مقدس کتاب نوي لوظنامه فرمائی : "نعمتونه خوقسما قسم دی خو روح یودی. خو هر چاله د روح القدس ظاهریدل د ټولو خلقو د فائدی لپاره ورکول کیږی. خو داټول تاثیرونه هغه یو روح کوی او چاته ئی چې غواړی هغه ته ئی ورکوی" ( دکورنتیانو په نوم اول خط ۱۲ : ۷،۱۴او۱۱ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوې

۱۳- د روح القدس نعمتونه او ورکړی ....

الف- د لومړنی کلیسا درسولانو د پاره وی .

ب- په خاصه توګه د زیری ورکونکو، او واعظانو لپاره دی.

ج- د ننني کلیسا د غړو لپاره هم دی.

۱۴- دعا وکړی چې د پنطکاست تحریک په ټوله نړی کښې خپور شی.

۱۵- دعا وکړی چې روح القدس ستاسو د کلیسا غړو ته خپلی ورکړی او نعمتونه وروبخښی.

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړی

۱- ج- روح القدس

۲-د- دا چې روح القدس ته اجازه ورکړو کوم قسم چې هغه غواړی په مونږ کښې خپل کاروکړی .

۳- الف- همیشه دټولو مسیحیانو سره وی .

۴-ب- عالی خصوصیاتوته چې روح القدس ئی زمونږ په اخلاقو کښې منځ ته راوړی .

۶-ج- د خپل نفس په خواهشاتو باندی چې د سرکشه طبیعت څخه سرچینه اخلی بریالی شی .

۷-ب- په خپلو ورځینو سر ګرمیو کښې دروح القدس دلارښونو پیروی وکړو

۹-ج- د پنطکاست د ورځی تجربه

۱۱-الف- په مسیح باندی په ګواهی ورکولو سره په موثری لاری دعا وکړی

۱۳-ج- دننی کلیسا دغړو لپاره هم دی .

# د نوی ژوندون رڼا

## هغه څه چې په دی لوست کښې به ئی ولولې

- د نړی رڼا
- ستاسو د ژوندون شمع
- صداقت او امانت داری
- د ژبی سپیڅلتیا او پاکی
- د نورو سره مرسته
- عاقلانه سلوک
- پاکی او صفائی
- عاجزی او خاکساري
- روا او جایزه ګټه ( حلاله مزدوری )
- کورنۍ ښوونه او روزنه

تراوسه پوری زمونږ زیاتی خبری ستاسو دنوی ژوندون په څرنګوالی او د هغی د پراختیا په لارو چارو وې .

په دی درس کښې دنوی ژوند د آغیزو په اړوند چه چارچاپیره اوسیدونکو باندی یې لري ، خبری کوو .

## د نړۍ رڼا !

مقدس کتاب ګناه، غلطی، او د خدای څخه ناخبری تیاره بولي. هر څوک چې د عیسیٰ مسیح په څیر ژغورونکی باندی ایمان نه لري پدی تیاروکښې سرګردانه دی او نه پوهیږی چې د کومی لاری څخه به آسمان (جنت) ته ورسیږی.

مهربانه خدای خپل زوی عیسیٰ مسیح راولیږه څو د نړی لپاره رڼا شی. د یوحنا په انجیل کښې لیکل شوي دي : " عیسیٰ یوځل بیا خلکو ته مخاطب شو او وئی ویل: زه د دنیا نوریم څوک چې ماپسی راځی هغه به په تیاره کښې نه ګرځی بلکه په هغه نور کښې چې ژوندون روښانه کوی." (یوحنا ۸: ۱۲)

څوک چې په عیسیٰ ایمان ولری هغه به په تیاروکښې سرګردان نه وی بلکه روښانه ژوند به ولری ځکه چې عیسیٰ مسیح د دنیا رڼا ده.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۱ ـ یوحنا ۸: ۱۲ په یاد زده کړی.

## ستاسود ژوندون شمع

ستاسو ژوندون د شمعی، څراغ، یا لمپی په څیر دی. هر کله چې عیسیٰ مسیح پکښې ځای ونیسی نو هغی ته رڼا وربخښی.

مقدس کتاب وائی: "د انسان روح د خدای څراغ دی" (متلونه ۲۰: ۲۷)

تاسو د خدای څراغونه یی. د عیسیٰ مسیح رینښتینولی او ښه والی باید ستاسو په عملونو، کارونو او خویونو کی وځلیږی.

" تاسو د عالم لپاره رڼا ئی ............ او تاسو هم دغه رنګ د خلکو په وړاندی رڼا خوره کړی. د دی لپاره چې هر کله چې هغوی ستاسو ښه کارونه و وینی. نو هغوی به ستاسو د پلار چې په آسمان کښې دی لوئی بیان کړی" (متی ۵: ۱۴ او ۱۲)

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۲- ستاسو ژوندون د ټولو خلکو لپاره د رڼا په څیر دی ځکه چې

الف- د همیشه لپاره یو غښتلی شخصیت هستی.

ب- یو متفکر او ژورکتونکی شخصیت هستی.

ج – د مسیح شخصیت او رینښتینولي ستاسو په وسیله ځلانده کیږی.

۳- متلونه ۲۰: ۲۷ په یاد زده کړی.

۴- متی ۵: ۱۴او۱۲ له یاده زده کړی.

خدای تاسو ته دیوی رڼا په څیر چې په تیاره ځای کښې وی ځای درکړی دی، څو ستاسو ژوندون ستاسو د ګردچاپیره خلکو لپاره د

ژغورونکی عیسیٰ مسیح او جنت ته درسیدلو لاروښیی. ډیر خلک ستاسو کړنلاره څاری څو و ګوری چې آیا هغه څه چې د خدای د قدرت په باره کښې وایې ربښتیادی او که نه ! ستاسو د ژوندون ډول او کړنلاره هغوی په دی پوهوی چې په انجیل کې دا قدرت شته چه خلک بدل کړی. تاسو د عیسیٰ مسیح ګواهان هستې . هر څه چې کوې او حتیٰ ډیر هغه څه چې وایې هغه ټول په عیسیٰ مسیح ګواهی او شهادت دی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوې

۵- هغه ژوندون چې د عیسیٰ مسیح د لاربښونو سره سمون لری......

الف- یوه غښتلی ګواهی ده چې نور خلک د انجیل د حقیقت پوهی ته رسوی .

ب- دومره اغیزمنده ګواهی نده. بلکه یوه قوی وینا او موعظه به نور قومونه د عیسیٰ مسیح لوری ته رهبری کړی .

۶- آیا داسی یو کس درته معلوم دی چې دهغه د ژوندون کړنلاره تاسو د عیسیٰ مسیح تابعداری ته هڅولی وي ؟

۷ - آیا غواړی چې د مالک خدای لپاره ځلانده رڼا شی ؟

۸- آیا دی ته تیاریی لکه د خدای د څراغ په شان هرتیاره ځای کښې چې هغه وغواړی هلته لاړشی او خپله رڼا هلته وځلوې؟

۹- دعا وکړی چې خدای تاسو د خلکو د هدایت او دژغورنی لارته یو وسیله وګرځوی .

دا دی ځینی هغه وړانګی تر څیرڼې لاندې نیسو چې ستاسو د ژوندون رڼا انعکاسوی، څو د انجیل حقیقت خلکوته د منلو وړ وګرځوی .

## صداقت او امانت داری

د مسیحی ګواهیو څخه یوه ښه ګواهی ، په خپل معلوم وخت کښې د حسابونو تصفیه کول دی. یو مسیحی شخصیت باید په خپلو ټولو معاملو کښې ریښتونی او د انصاف خاوند وي. او د خپلو قرضونو په ادا کولو کښې دریغ، او ځنډ ونکړی. او هم باید دهغه لوظونو څخه ځان لری وساتی چې دهغی د پوره کولو قدرت نه لری. او باید خوږه ژبه ، او نرمه لهجه ولری. نوي لوظنامه وایی: " د ټولو حق پوره کوه......".

"...... په بل هیڅ شیز کښې هم د چاپور په ځان مه ساتی "
(د رومیانو په نوم خط ۱۳: ۷ او ۸ )

" د بدی په بدله کښې د چاسره بدی مه کوی، کومی خبری چې د هرچا په نظر کښې ښی دی هم هغه کوی "
(د رومیانوپه نوم خط ۱۲: ۱۷)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوئ

۱۰- هغه قرضونه چې نه وی ادا شوی .........

الف- زمونږ د ګواهی اغیزی کمزوری کوی .

ب- او په هغه صورت کښې چې د توبی څخه مخکی اخستل شوی وی کیدای شی ناګهلی ونیول شی او ورنکړی شي.

## د ژبی سپیڅلتیا او پاکی

که چیری د نورو عامو خلکو په څیر ناوړې خبرې وکړو، سپکې او سپوری ووایو، او د دی او هغی په ځان او شان قسمونه وخورو، نو خلک به د خدای د ژغورنی بخښونکی قدرت په اړه څه وائی؟

آیا په دعواوو، غیبت، نیوکو، او دروغوویلو سره کیدای شی چې د خدای لپاره ځلانده رڼا شی؟

ډیرو زیاتو خلکو د مسیحیانو د خبرو د طرز په کتلو سره یې د انجیل په نجات بخښونکی قدرت باور او عقیده پیدا کړې ده.

د ژبی ساتنه او دهغی بندول د انسان د ډیرو مشکلو کارونو څخه ده. یوازی ستاسو دوینا متن خلک د عیسیٰ مسیح لورته نه راجلبوی بلکه ستاسو د خبرو نرمښت، ښکلی انداز او ادا دخلکو په هدایت کښې اغیزمند رول لوبوی. د یعقوب په لیک کې وئیلی شوي دي چه :-

" ځوک چې ځان دینداره ګڼي، او بیا هم خپله ژبه په قابو کښې نه ساتی هغه خپل ځان ته دوکه ورکوی . نو د هغه دینداری باطله ده."

( یعقوب ۱:۲۲ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوئ

۱۱- د خپل ځان نه پوښتنه وکړئ! چې: " آیا د خلکو سره د خبرو په دوران کښې هغوی دخدای د محبت احساس کوی او که زمانه په تکلیف دی؟ "

۱۲- دعا وکړی چې ستاسو د خبرو طرز داسی جوړشی چې د خدای دیو زوی له شان سره ورته والئ ولري .

## دنورو سره مرسته

که په رښتیا خپل ګاونډیا نو سره دخپل ځان په څیر مینه وکړو نو په هر وسیله به ښائی کوښښ وکړو چې هغه کسان چې محتاج وی دهغوی سره مرستی وکړو ددی موضوع تائید لپاره بیا دیعقوب لیک ته مراجعه کوو چې وائی : " ..... زمونږ د خدای او پلار په نزد خالصه او بی عیبه دینداری داده چې دیتیمانو او دکونډو د مصیبت په وخت دهغوی پالنه وکړی او خپل ځان د دنیا نه بی داغه ساتی. " ( یعقوب ۱ : ۲۷ )

نو دپلار خدای په نزد منلی دینداری داده چې کله کونډې او یتیمان په یو تکلیف کښې اخته شی دهغوی مرسته وکړو او خپل ځان د نړی د بدیو او فسادونو څخه لری وساتو.

## ستاسو کار

### هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱۳- آیا د کلیسا د خیریه کارونو د ځانګی دلاری د نادارو او ضرورتمندو خلکو سره مرسته کوی؟

۱۴- هغه خلکو ته چې هره ورځ ورسره مخ کیږی فکر وکړی. آیا داسی یوی لارته مو فکر رسیږی چې دهغی په وسیله وکولای شی د هغوی ستونزی هوارې کړی؟

د خدای څخه وغواړی چې تاسو سره د خیر په دی کار کښې مرسته وکړی.

## عاقلانه سلوک

په نوې لوظنامی‌کښې مونږ ته لارښونه شوې چه: "د هر قسم بدی نه ځان ساتی." (اول تسالونیکایان ۵: ۲۲)

د بی عقلی حرکتونه او کردار په مونږ کښې الهی اغیزی خنثی کوی. دبیلګی په توګه: هغه د ورور ولی محبت چې په ایماندارانو کښې یودبل سره رواج دی، ډیر ښه او اوچت دی، مګر دبی ایمانانو سره پکار ندی چې ډیر نږدی دوستی او راشه درشه ولری. خلک به ستاسو د دی رفتار او کردار په باره کښې څه وائی؟

نو دهوښیارۍ او عقلمندۍ کړنلاره او کردار باید ولرۍ. هر کار چې سرته رسوی باید پکښې یوه په زړه پوری مثالی نمونه اوسۍ، او ستاسو نور دې باید د ډیرو زیاتو وړانګو د ځلید وسره روښانه وځلیږی. په نوی لوظنامې کښې وئیل شوي چه: "چاته موقعه مه ورکوی چې هغه څیز چې ستا دپاره ښه دی ورته بد ووائی." ( رومیان ۱۴: ۱۶ )

" هیڅوک دی ستا ځوانی ته سپک ونه ګوری . بلکه ته د ایمان راوړونکو دپاره په خبرو کولو ،چال چلن، مینه، ایمان او پاکی کښې نمونه جوړ شه. " ( اول تیموتیوس ۴: ۱۲ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوۍ

**۱۵**- تیموتیوس ته په کومو ځایونو کښې پکاروه چې د ایمان راوړونکو لپاره یوه مثالی نمونه شی؟

الف- میلمه پالنه، وینا ،او عمل کښې.

ب- مقدس ژوند ، مینه، زیری ورکولو او خوشحالی کښې.

ج- په خبرو کولو، خوی او خاصیت،مینه، ایمان او پرهیزګاری او سپڅلتیا کښې.

## پاکوالی او صفایی

مسیحیان دښه والی او روغتیا د قوانین په مراعاتو کولو سره دکور، جامی او خپل ځان په پاکوالی کښې مثالی نمونی دی. مګر

پاکی او نظافت دې نه هم ژوره معنی لری. ستاسو بدن د روح القدس عبادتخانه او کور دی . له همدی کبله باید هغه دهر نظره او هراړخه پاک وساتی. لاژم ندی چې په فاسدو او غیر اخلاقی کارونو خپل بدن ستړی او ناروغه کړی.

خپل بدن روغ ، غښتلی او قوی وساتی ځو وکولای شی چې د مالک خدای خدمت پری په ښه توګه ترسره کړی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوۍ

۱۲- ( دوه ځوابونه خوښ کړی ) پاکې ، صفایي او د روغتیا ساتنه ................

الف- د ناداره کس په لپاره کوم اهمیت نه لري.

ب- د بدن د روغتیا لپاره موثر او اغیزمند دی.

ج- په هغه ګواهی کښې چې مونږئی ورکوو خورا تاثیر لري.

دا یو منل شوی حقیقت دی چې سګریت څکول د سږو د کینسر (سرطان) سبب ګرځی او انسان له منځه وړی . همدارنګه الکولی مشروبات او نشه لرونکی مواد روزانه د زرګونو تنو د مړینی سبب ګرځی.

لاژم نده چې په یوه وجه هم خپل ځان پخپله ووژنو. نه په تدریجی ډول او نه په سمدستی ډول، ځکه چې ځان وژنه یعنی د

خدای دکور او د عبادتگاه له منځه وړل دی. نوي لوظنامه د دغه حقیقت په روښانه کولو سره مونږ ته وائی:

" آیا تاسو خبرنه ئی چې تاسو د خدای کور یی، او دخدای روح په تاسو کښې اوسی؟ که څوک د خدای کور برباد کړی نو خدای به هغه برباد کړی، ځکه چې د خدای کور پاک دی او هغه تاسوئی "

( اول کورنتیان ۳: ۱۲-۱۷ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوۍ

۱۷- د مخدره موادو او شرابو استعمال ناروا او مضر بولو او دګناه څخه ډک عمل دی، ځکه چې:

الف- د انسان مال او دولت ضایع کوی.

ب- د هغه بدن ته چې د روح القدس کور او عبادتګاه ده ضرر رسوی.

مقدس کتاب د الکولی مشروباتو استعمال منعه کوی اووایي:

" او په شرابو مستیږی مه، ځکه چې ددی نه بدکاری پیدا کیږی بلکه په پاک روح معموره شی " ( افسیان ۵: ۱۸ )

" آیا تاسو خبرنه یئ، څه چې بدکاران به د خدای د پادشاهی وارثان نه شی؟ ځان مه غولوی. نه به بدکاران، نه به حرامکاران د خدای دپادشاهی وارثان شی، نه بت پرستان، نه زناکاران، نه

عیاش، نه بچه بازان، نه غله او نه حرصناک، نه شرابیان، نه کنځل مار او نه ټګان .او په تاسو کښې ځینی هم دغه شان وه، خو تاسو د مالک عیسیٰ مسیح په نوم او زمونږ د خدای په روح ووینځلی شوی، بلکه پاک شوی، صادق هم شوی“ (اول کورنتیان ۶ : ۹ ـ ۱۱ )

که چیری په دی بدو عادتونو اخته هستی او تاسو ځوروی. د کلیسا پالونکو سره پدی هکله مشوره وکړی. او دهغوی نه داغوښتنه وکړی چې تاسو ته په ګډه دعا وکړی څو د دی عادتونو د شره څخه آزاده شئ او ستاسو بدل شوی او کامیابه ژوندون به دهغه کسانو لپاره ګواهی شی چې تاسو غواړی هغوی د ګناه د بند څخه آزاد او نجات موندونکی و وینی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۱۸- یو مسیحی چې نشی کولای خپل بدعادت پریږدی، باید ...............

الف- کلیسا ته د تګ څخه دې ډډه وکړی.

ب- خپل دغه بدکار او خوی د خلکو د سترګو څخه پټ او په پرده کښې سرته ورسوی .

ج- د کلیسا پالونکو او نورو مسیحیانو څخه دی د دعا غوښتنه وکړی .

## عاجزی او خاکساری

زمونږ ویناوی او حرکتونه باید نرمې وی، او په شرافت او عاجزی بدرګه شی.

عاجزی د تکبر او ځان ښودنی ضد دی. که زمونږ کردار دا ډول وی چې خپل ځان دنورو څخه غووره وګڼو، او نوروته په سپکه سترګه وګورو، نوپه ځای د دی چې هغوی خپل ځان ته راجلب کړو، د مسیحیت څخه به یي شړلو ته اړ کړو.

په دې حقیقت باید پوه شو چې په هیڅ وجه حق نه لرو چې دهغه څه په خاطر چې څه یو، څه کوو اویا څه لرو، مغروره او کبرجن شو.

مونږ د خدای دهغو نعمتونو څخه چه مونږ ته یي راکړئ دی دهیڅ یوه لیاقت نه درلوده. په یاد ولری چې که چیری د خدای رحمت زمونږ په ژوندون کښې نه وای. ممکن مونږ به د نړي بدترین ګناهکاران او شریران وئ.

مغرور او کبرجن سړی همیشه غواړی چې ټول خلک دی باید هغه ته توجه ولری. امکان لری چې دنورو توجه خپل ځان ته په مختلفو طریقو راجلب کړی، لکه د قیمتی نووجاموپه اغوستلو، د جواهرو او زیوراتو په استعمالولو، او یاد بهتری او استعداد به ښکاره کولو سره د خلکو پام د خپل ځان لورته را واړوي. دا امکان لری چې په غیر مروجه جامو په اغوستلو، او هغه حرکتونو او کارونو په کولو سره چې د ادب او کلتور څخه بهر وي یوسړی وغواړی چه د خلکو پاملرنه ځانله راواړوي. مغرور او کبرجن سړی کله داسی حد ته رسیږی چې په خپل روحانی تجربو او خدمتونو

ویاړیږي او ځان پری ښکاره کوی مګر عاجزه او خاکساره خلک داسی نه وی، او دخلکو د توجه راجلبولو ته کومه هیله نه لری.

عاجز او خاکساره مسیحی، د بی لارې کونکی ډولونو او سینګارونو او هر هغه شی څخه چې د خدای زامن تری کرکه کوی او په هغوی ښه نه بریښي ، ځان ژغوری.

په مقدس کتاب کښې یو څه آیتونه موجود دی چې په ځانګړی توګه ښځی عاجزۍ او د ځان ښودنی څخه لیری والی ته رابولي. د ښځو لپاره د ښایست او ښکلا سره مینه یو طبیعی کاردی. خدای هم د ښکلا سره مخالف ندی او برعکس هغه د ټولو مسیحیانو ښکلا غواړی.

زبور ( ۱۴۹: ۴ ) وائی: " خدای ........ مسکینان به خلاصون سره ښایسته کوی." خدای غواړی چې زمونږ ښکلا باطنی ښکلا وی چې د ښایسته خوی او خوشحاله بدن څخه ځلیږی. خدای وائی بهترینه د ښکلاوسیله هغه آرام اوهوسا روح دی چې په مونږ کښې ځای لری ". نوي لوظنامه همدا موضوع روښانه کوی او وایی:

" او ستاسو ډول او سینګار دی ظاهری نه وی .......... بلکه ستاسو د غیر فانی سینګار ډول دی په باطنی انسانیت کښې په حلیمی او د آرامی په روح کښې وی. چې دخدای په نزد ډیر قیمتی دی. " ( اول پطرس ۳:۴ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوئ

۱۹- شرافت او پاکی .........

الف- د مسیح د اخلاقي ځانگرتیاو څخه دی.

ب- یو ډول نفسیاتي عقیده ده .

ج- یو قسم لویی او غرور دی.

## روا او جایزه گټه (حلاله مزدوری)

زمونږ گټه باید دیو جائز کار څخه لاس ته راشی. لاژم ندی چې حرص ددې باعث شی چې مونږ په قمار، فال نیولو، بخت معلومولو، او شرط وهلو او داسی نورو بدو فعلونو لاس پوری کړو. زمونږ کار باید دنورو خلکو ځان او روح ته صدمه ونه رسوی. نوي لوظنامه په ډاگه داموضوع بیانوی او وائی: "ځکه چې د زرو دوستی د هر قسم بدیو بیخ دی چې د هغی په خواهش ځینی د ایمان نه گمراه شول. او خپل زړونه ئی په قسم قسم غمونو غلبیل کړل " (اول تیموتیوس ۶: ۱۰ )

خدای غواړی چې همیشه په کارونو کښې مشغول و او سوو او تنبلی ونکړو.

هغه مسیحیانو چې خپل کارونه ئی پرته دکوم شکایت څخه په ښه طریقه سرته رسولی، پدی په ښه توگه بریالی شوی چې نور خلک د عیسیٰ مسیح لورته رهبری کړی. نوي لوظنامه وائی: "

چاته چې محنت کول منظور نه وی نو هغه دی ونه خوری "
(دوهم تسالو نیکیان ۳: ۱۰)

"او څنګه چې مونږ تاسوته حکم درکړی دی. په قراره اوسی. او په خپل کار کښې مشغول او په خپلو لاسونه د محنت کولو په کسب کښې همت کوی د دی دپاره چې د غیر ایماندارنو سره د سړیتوب سلوک کوی او د هیچا محتاج نشی"
(اول تسالو نیکیان ۴: ۱۱ او ۱۲)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۲۰- مقدس کتاب پدی باوری دی چې که چیری یو کس نه غواړی چې کار وکړی ......

الف- باید رئیس یا ستر مشرشی.

ب- د خوراک حق نه لري باید وئی نه خوری.

۲۱- زمونږ جائزه کار او روزګار ........

الف- دګواهی ورکولو لپاره یو خنډ دی.

ب- د مسیح درښا د ځلیدلو لپاره یوه ښه لاره ده.

## کورنۍ ښوونه او روزنه

ددی موضوع په باره کښې به په وروستی لوست کښې ډیر څه ولولی خو دلته همدا کافی ده چې پری پوه شی چې ستاسو د ګواهی موضوع ستاسو د کورنی ژوند پوری تړاو لری. ډیر زیات خلک د مسیحیانو په کورونو کښې د کورنی جنجالونو او شخړو په لیدلو سره د مسیح او مسیحیت سره بی مینی شوي دي. او له بله طرفه یو زیات شمیر د مسیحیانو په کورونو کښې د صبر، محبت، او د مالک خدای دورکړو خوشحالیو په لیدلو سره په عیسیٰ مسیح باوری شوی دی. او مسیحیت ئی قبول کړی او دخدای د کورنی غړې ګرځیدلی دی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۲۲- په هغه لارو چارو نظر واچوی چې دهغی په وسیله کولای شی د عیسیٰ مسیح رڼا نوروته وځلوی . او دخدای څخه وغواړی چې په هرځای او هر کار کښې ستاسو مرسته وکړی.

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړی

۲-ج- دمسیح شخصیت او ریښتینولی ستاسو په وسیله ځلانده کیږی.

۵-الف- یو غښتلی ګواهی ده چې نور خلک د انجیل د حقیقت پوهی ته رسوی.

۱۰-الف- زمونږ د ګواهی اغیزی کمزوری کوی.

۱۵-ج- په خبروکولو، خوی خاصیت، مینه ایمان، پرهیزګاری او سپڅلتیا کښې.

۱۲- ب- دبدن د روغتیا لپاره موثر او اغیزمند دی.

ج- په هغه ګواهی کښې چې مونږئی ورکوو خورا تاثیر لری.

۱۷- ب- هغه بدن ته چې د روح القدس کور او عبادتخانه ده ضرر رسوی.

۱۸-ج- د کلیسا پالونکو او نورو مسیحیانو څخه دی د دعا غوښتنه وکړی.

۱۹-الف- د مسیح د اخلاقی ځانګړتیا و څخه دی.

۲۰- ب- د خوراک حق نه لري باید وئی نه خوری .

۲۱- ب- د مسیح د رڼا د ځلیدو لپاره یوه ښه لاره ده

# د کورنۍ ماحول

## هغه څه چه پدی لوست کښې به ئې ولولې.

- دعا او د کورنی دغړو د ژوغورنی لپاره فعالیت.
- په کور کښې د ننه د یو مسیحی کړه وړه
- معافی غوښتل
- خوشحاله روحیه
- واده سپیڅلې ده.
- د مسیحی سره واده کول
- ښه پلار او مور
- دخدای په هکله کوچنیانو روزنه او تعلیم
- کورنی مینه او محبت

په حقیقی ډول د مسیحی کورنۍ څخه غټ نعمت نشته. داسی یوه کورنی چې مشر او سریې مسیح دی، او دهغه حضور کور په مینه، سوله او خوشحالی باندی مالامال کوی. داسی یو کور د ګناه او خفګان د طوفانونو څخه د تیښتې او خلاصون لپاره ډیر ښه پناه ځای دی.

که چیری د خدای د کلام دلارښونو سره سم رفتار وکړی ستاسو کور به آسمانی کور ،او د ډال حیثیت ولری

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱- آسمانی کور او یا زمونږ دخوښیوکور هغه کوردی ..............

الف- چې په نوی طرز جوړ شوی، او قیمتی شیان ولري.

ب- چې ډیر میلمانه و لري .

ج- چې دخدای د کلام د لارښونو پیروی وکړي.

## دعا او دکورنی دغړو دژغورنی لپاره فعالیت

د خپلی کورنی د غړو لپاره د ایمان سوال او دعا کوی. او که چیری فوری ژغورنه د هغوی نه درپه سترګو کیږی نومه نا امیده کیږی. بلکه دعا ته دوام ورکړی او باوروکړی چې خدای به ستاسو دعا قبلوي . نوي لوظنامه وائی: "... په مالک عیسیٰ مسیح باندی ایمان راوړه او ته اوستا کورنی به خلاصون وموموی." (اعمال د رسولانو ۱۲: ۳۱ ).

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۳- که چیری ستاسو د دعا او کوشش سره سره هم ستاسو د کورنی غړې توبه نه او باسی .........

الف- دهغوی د خلاصون لپاره خپلې دعا ته دوام ورکړۍ.

ب- نورنو دهغوی په باره کښې سوال او دعا مه کوی.

ج- هره ورځ د کورنی دوګړو او خپلو قومونو لپاره دعا وکړی.

## د یو مسیحی کړه وړه په کور کښې دننه

ښایي په کلیسا کښې ستاسو کړه وړه مسیحی وی. مګر په کور کښې دننه څه ډول مسیحیان هستۍ؟

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۴- دکولو سیانو په نوم خط دریم باب ولولی . او کوشش وکړۍ چې دهغې د تعلیماتو سره سم په خپل کور کښې دننه عمل وکړی.

آیاد ژوند دملګری دکارونو درناوی کوی؟ دخور،ورور او کوچنیانو د مرستی او پلار او مور د سرخندونو په اړه څه احساس لرۍ؟

آیا دنورو خلکو سره په خپل کردار کښې سخت، ناندریزه، او ځان پرسته یی، که بخښونکۍ او مهربانه؟

آیا دا لیوالتیا لری چې د نورو عقایدو ته هم غوږ ونیسی او یا په دې تمه یئ چې ټول خلک دی ستاسو تابعداری وکړی؟ آیا د پلار او مور احترام کوی او د هغوی فرمانبرداره یی؟

آیا کاریګر او فعاله هستئ که لټان او تنبلان؟

آیا په خوشحالی سره د نورو مرسته کوی یا په نیوکو او ناندرو سره؟

کله چې کارونه ستاسو د خو ښی سره سم مخ په وړاندی نه ځی ژر زړه ماتی کیږی او که په پراخه او تاوده زړه او په پوره هڅو خپل کار ته دوام ورکوی؟

آیا نور خلک کولاي شي تاسو سره په آرامۍ ژوندون وکړی؟

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۵- که غواړی چې نیکمرغه کورنی ولری په خپله کمزوری اقرار وکړی او د خدای څخه وغواړی چې مدد درسره وکړی. که چیری دی ته تیار اوسی چې خپله دنده په پوره ډول سرته ورسوی خدای به هم تاسو سره مرسته وکړی.

## معافی غوښتل

مسیح مونږ ته دا تعلیم راکوي چې د هغه کسانو عذر وکړو او بخښنه تری وغواړو چاسره موچې بد سلوک کړئ وي. که چیری داکار سرته و نه رسوو نو د خدای سره به مواړیکی خړی شی. مقدس

انجیل وائی: " که چیری تاسو د قربانی ځای ته څه شی راوړی او درته دریاد شی چې ستاورور په څه خبره درنه خفه دی نو خپله قربانی په هغه ځای پریز ده، لاړ شه اول خپل ورور پخلاکړه، او بیاراشه او خپل نذر وړاندی کړه. " ( متی ۵: ۲۳ او ۲۴ )

داویل چې : معافی غواړم له دی کبله چې تاسره می سختی خبری وکړی ،کوم ساده او آسان کارندی، خو دکورنئ د خوشحاله ساتلو او دغصی او قهر دله منځه وړلو د پاره یوه ښه وسیله ده .

که یو غیر معمولي عادت او کردار لری نو چاره ئی داده چې په هغی اقرار وکړی او د کورنی غړو څخه وغواړی چې دهغی څخه دخلاصون لپاره تاسو ته دعا وکړي . نوي لوظنامه وائی :" نو بیا تاسو په خپلو کښې یوبل ته د خپلو خپلو ګناهونو اقرار وکړی او دیوبل لپاره دعا وغواړی چې شفاومومی. " (یعقوب لیک ۵: ۱۲)

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۶- هغه وخت به نیکمرغه کورنی ولری چې ..........

الف- دهغه کس نه معافی وغواړی چې له تاسو څخه خپه شوی وي.

ب- ټول دې ته اړ کړئ چه له تا سو څخه عذر او معافي وغواړي.

ج- خپل ځان دکور مشر وبولی او وغواړی چې نور ستاسو تابعداری وکړي.

۷- یعقوب ۵: ۱۲ او۱۷ له یاده زده کړی.

## خوشحاله روحیه

په خدای ایمان و لری او حتی په سختیو اوښکیلتیا کښې هم د دعا دقبلولو په خاطر شکریه د شکریه پرځای کړی. مقدس کتاب وائی: " عمجن نشی ځکه چې د خدای خوشحالی ستاسو قوت دی " ( نحمیا ۸: ۱۰ )

اگر که دغصې او سختو عصبي حالاتو کنترول څه اسانه کارنه دی، خو بیا هم لاژم ندی چې خپل کوښښ کول بند کړو او په ټپه ئی ودروو.

هغه کوښښ چې پدی لارې کښې ئی تاسو ترسره کوی ستاسو د هغه محبت څخه ترجمانی کوي کوم چې د عیسیٰ مسیح سره ئی لری، او تاسو سره مرسته کوی څو روحاً پوخوالي او کمال ته ورسیږی. آیا دغه پوخوالي او کمال ته رسیدنه ستاسو په نظر، په کندی سره پرمخ ځي؟ خدای ته ډیره پاملرنه وکړی او خپل ځان ته لږ وګوری نوو به وینی چې څرنګه هغه ستاسو د کورنی ستونزی حلوی. خدای ستاسو مهربانه پلار دی او تل ستاسو په فکر کښې دی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۸- نحمیا ۸: ۱۰ آیت له یاده زده کړی.

## واده سپیڅلې ده

په ځینې اوسنیو ټولنو کښې ښځه او سړی بغیر دواده کولو څخه یو دبل سره یوځای او په ګډه شپې صباکوي.

کله چې یوسړی مسیحی کیږی باید دیو قانوني واده په لټه کښې شي. د دی لپاره چې د دولتی قانون په تابعداری سره سره د عیسیٰ مسیح د سر لوړی سبب هم شي.

که چیری د واده په قوانینو کښې کومه ستونزه لری،د کلیسا پالونکو ته مراجعه وکړی .

د خدای کلام هغه جنسی اړیکی چې د واده او نکاح د دایری څخه بهر وی غندي او هغه محکوموي . خدای هر قسم نا جایزې جنسي اړیکی او یوبل سره معاشقه (جوړیدنه) چې دیو واده شوې کس او یوبل تن ترمنځ سرته رسیږی په سختی سره منعه کوی.

هغه اعتماد چې ښځه او خاوندئی په مسیحی کورنی کښې دیوبل په وینا او کردار لري یوغټ نعمت دی. هغه خدمت چې هغوی ئی په ګډه سره دخدای لپاره سرته رسوی د هغوی کور په آسمانی کور بدلوي. او دغه کور به دبدګومانی، کینی، خیانت او بالاخره د کورنی سپکاوی څخه خالی او پاک وی. او د کورنی د شهرت سبب هم ګرځی. مقدس کتاب د عبرانیانو په نوم خط وائی " واده دی په تاسو ټولو کښې دعزت خبره وګنلی شی، ښځه او خاوند دی دیوبل سره وفادار پاتی شی، ځکه چې خدای به پخپله د حرامکارو او زنا کارو عدالت کوی" (عبرانیان ۱۳: ۴)

" کومی خبری چې د هر چاپه نظر کښې ښی وی هم هغه کوی.....
او په غیرو قومونو کښې خپل چال چلن نیک ساتی ځکه چې په کومو خبرو کښې هغوی تاسو بدکار ګڼی او ستاسو بد وائی،

ستاسو د نیکو کارو په لیدو او دهغو په سبب د ملا حظی په ورځ چې خدای په هغوی نظر وکړی " ( د رومیانو په نوم خط ۱۲ : ۱۷ )او (اول پطرس ۲ : ۱۲ )

## ستاسو کار

### هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۹-د نعمت نه مالامال او نیکمرغه ژوندون څخه برخمند کیدو لپاره باید ......

الف- مخکی له دې نه چې ګډژوندون پیل کړی په رسمی ډول واده وکړی.

ب- دواده نه مخکی خیلی معشوقی سره ژوند وکړی څو پوه شی چې آیا ستاسو مناسبه او لایقه ده او که نه .

ج- مجرد پاتی شی.

۱۰- دعا وکړی څو خدای ستاسو په واده کښې برکت واچوی او د هغه محبت ستاسو د میړه توب او ښځی والی پیوند مضبوط کړي.

دعا وکړی څو په خپلو ویناو، کردار او خیالونو کښې یوبل سره تل یو شان او وفادار پاتی شی. دخدای څخه وغواړی چې تاسو سره مرسته وکړی خویو پربل پوره باور ولری .

## د مسیحی سره واده کول

که چیری مو واده کړی وی او ښځه مو حقیقي مسیحی نه وی نو ستاسو وظیفه او دنده داده چې د هغې لپاره دعا وکړی څو حقیقي مسیحی شی او نجات خپل کړی. او پخپله تاسو هم باید یو وفا دار خاوند پاتې شی ، او اجازه ورکړی چې هغه الهی رڼا چې په تاسو کښې ده ستاسو په ټول کور کښې و ځلیږی.

خوکه چیری مو واده نه وی کړی او مجرد هستی،نوحتماً یو مسیحی انسان غوره کړی. یوازینی د جوړښت او آرامتیا او سکون درلودلو لارهمدا ده.

که چیری غیر مسیحی سره واده وکړی نو په کورنیو ستونزو به اخته شی. او بله داچې پداسی صورت کښې به څرنګه خپل کوچنیان د عیسیٰ مسیح په تعلیماتو برابر وروزی؟

عیسیٰ مسیح خو مود ژغورنکی مالک خدای په صفت منلی دی، اوس که ستاسوجوړه ونه غواړی چې هغې ته خدمت وکړی نو ستاسو د ژوندون تګ لاری به سره بیلی شی. همیشه به پدی فکر کښې اوسی چې آیا خپله جوړه خوشحاله کړی او که عیسیٰ مسیح.

که چیرې حقیقي مسیحیان هستی نو حتماً ستاسو هیله به دا وي چه مالک خوشحاله او راضي وساتی. که غواړی چه دهغه لپاره یو ګټور کس واوسی نو د کلیسا په غونډو کښې ګډون وکړی، د مسیحیانو سره د ناستی پاڅی او ګډ ژوندون څخه ګټه لاس ته راوړی او د کلیسا په کارونو کښې برخه واخلی.

همدارنګه که غواړی چې په کور کښې د دعا پروګرام ولری او د خپل د ژوند د ملګري سره په شریکه د خدای شکر ادا کړی او دهغه خدمت وکړی. هغه جوړه او د ژوند ملګری، چې مسیحی نه

وی او نجات ئی نه وي موندلې نو هغه دی کارونو سره هیڅ قسم علاقه او دلچسپي نه لري. د کلیسا غونډی به د هغی د ستړیا باعث کیږی.

او که چیری تاسو سره کلیسا ته لاړشی نو ستاسو څخه به هم داسی تفریحی او دسیل ځایونو ته د تګ طمعه کوی چې هغه دیو مسیحی دشان سره مناسب نه وی. او یا به داسی حال وی چې ته به په خپله لارځی او هغه به په خپله لاره ځی. د بده مرغه ځینی مسیحیان خپلو ښځولخوا غولیدلی دی او مالک خدای ته ئی شا اړولی ده.

خدای غواړی چې یوه نیکرغه کورنی ولرئ، هغه دانه غواړی چې تاسو هم د ځینو هغه کمزورو مسیحیانو په څیر د ابلیس په دام کښې ولویږی. خدای په ښکاره ډول داخبرداری ورکوی چې بی ایمانو سره واده مه کوی او وائی: " څوک چې په مسیح ایمان نه لری د هغوی سره په جغ کښې مه ځی. د صداقت او نه صداقت په خپلو کښې څه تعلق دی؟ بیادرڼا او تیاری یو بل سره څه کار؟ "
(دوهم کورنتیان ۲ : ۱۴)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی.

۱۱- که یو مسیحی د غیر مسیحی سره واده وکړی ..............
الف- خامخا به د خپلی جوړی د ژغورنی باعث شی.

ب- په هغه صورت کښې چې يو تر بل سره مينه لرى کوم بنديز پرى نشته او منعه نه دى.

ج- د خداى او مالک عيسیٰ مسيح د فرمان او دستور څخه سر غړونه کوى.

## ښه پلار او مور

پلار او مور د خداى پر وړاندې مسؤل دى چې د خپلو بچو ښه پالنه او څارنه وکړى.

پلار چې د کور مشر دى، بايد د کور مادى او روحانى ضرورتونه پوره کړى. مور هم بايد په خپل وار په مهربانۍ سره د خپلو بچو څارنه او پالنه وکړي. د کليسا مسؤليتونه او دندى بايد د دى باعث نشى چې کورنى مسؤليتونه له منځه يوسى. نوي لوظنامه وائى: " که څوک د خپلوانو او خاص د خپلى کورنى خيال نه ساتى نو هغه د خپل ايمان نه منکر، او د بى ايمانى نه هم بد دى." ( د تيموتوس په نوم لومړى خط ۵: ۸ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئى بايد سرته ورسوۍ

۱۲- هغه پلار چه خپلى کورنى ته شاکوى اود زيرى ورکولو او وعظ کار پرمخ بيايى .......

الف- داسى يو شخصيت دى چې خپل ځان ئى د خداى کارته وقف کړى دى.

ب- د هغه ذمه واری څخه اوړی سپکوی کومه چې خدای هغه ته د هغه د کورنی په باره کښې ورپه غاړه کړي ده.

## دخدای په هکله کوچنیانو ته روزنه او تعلیم

که چیری خپلو کوچنیانو ته لار ښودنه وکړې چې خدای سره مینه کوی او دهغه تابعداری اوسی، نو کله چې لوی شی ډیرلږ به د پریشانۍ سبب ګرځي. یعنی په ډیره آسانی سره په خدای او دهغه په خبرو باور کوی او پری ایمان راوړی او خلاصون خپلوی.

د خپل کورنۍ غړی هره ورځ راغونډ کړې ، یو دبل د مشکلاتو د حل لپاره دعا وکړی، او ټول سره یو ځای او په یوآواز دخدای د نعمتونو شکر ادا کړی.

ټول سره یو ځای د کلیسا په غونډو او تعلیمی پروګرامونو کښې ګډون وکړې او خپل کوچنیان وهڅوی چې په کوچنیوالی کښې خپل ځان خدای لپاره وقف کړي.

کله چې سره یو ځای د خدای عبادت ترسره کړی او دهغه خدمت وکړې، مینه او کورنی پیوند مو مضبوط کیږي. انجیل مقدس وائی: "او ای پلارانو! تاسو خپلو بچوته غصه مه ورولی. بلکه د مالک په طریقه هغوی ته تربیت او نصحیت کوی او پرورش ئی کوی" (د افسیانو په نوم خط ۶: ۴)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوې

۱۳- لاندی خالی ځایونه په مناسبو کلیمو ډک کړی .

که چیری یو کس د .......... لپاره او په خاصه توګه ................. لپاره د ضرورتونو دپوره کولو خیال ونکړي دایمان نه منکر او د کافرانو او بی ایمانانو څخه بدتر او وروسته پاتی انسان دی.

۱۴- که چیری تاسو اولادونه لری، د هغوی لپاره دعا وکړی. او دهغوی دروزنی لپاره د خدای څخه مرسته وغواړی.

## کورنی مینه او محبت

" خدای مینه او محبت دی " هر څو مره چې خدای ته په خپل ژوندون کښې ځای ورکړی په هماغه اندازه به خپلی کورنی سره مینه لری، او هر څومره چې ستاسو مینه زیاتیږی. نو نیکمرغه کورنی به هم ولری.

## ستاسوکار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱۵- د خدای څخه غوښتنه وکړی چې ستاسو د کورنی د غړو ترمنځ مینه او محبت پیدا کړی.

۱۶- دکورنتیانو په نوم خط دیارلسم باب ولولی او دعا وکړی، چې خدای تاسو سره مرسته وکړی څو هغه په خپل کور کښې وار په وار عملی کړی.

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړئ

۱-ج- چې دخدای د کلام دلاربنونو پیروی کوی.

۲-الف- خپلی دعاته د هغوی د خلاصون لپاره دوام ورکړی.

۶- الف- دهغه کس نه معافی وغواړئ چې له تاسو څخه خپه شوی وي.

۹-الف- مخکی له دې نه چې ګډ ژوندون پیل کړئ، په رسمی ډول واده وکړی.

۱۱-ج- د خدای او مالک عیسیٰ مسیح د فرمان څخه سرغړونه کوي.

۱۲-ب- دهغه ذمه واری څخه اوړی سپکوي کومه چې خدای هغه ته دهغه د کورنی په باره کښې ورپه غاړه کړې ده.

۱۳- هغه الفاظ چې په خالی ځایو کښې لیکل کیږی دادی :

الف-د خپلو خپلوانو.

ب-د خپل کورنۍ غړو .

# آزادی

## هغه څه چې پدې لوست کې به ئی ولولې

- دګناه څخه آزادی
- دویری او ډار څخه آزادی.
- د غلطیو او سرګردانیو څخه آزادی.
- دموسیٰ د شریعت څخه آزادی.
- د غصې څخه آزادی.
- د ناروغۍ څخه آزادی.
- دآزادۍ راتلونکې یا مستقبل .
- دآزادی دوام او همیشه والی.

پولس رسول د خدای د زامنو آزادی ته د جلال څخه مالامال آزادی وائی. هر څو مره چې د خدای په لار مخکی لاړشې د هغه آزادی څخه چې خدای ئی درکوی په همغه اندازه زیات برخمند کیږی.

## د ګناه څخه آزادی

عیسیٰ مسیح د دی لپاره قربانی، او په سولیۀ شو څو تاسو لره د سرکشیو، سزاګانو، د ګناهونو د قدرت او د هغی د عواقبو او نتائجو څخه آزادی درکړی.

× سرکشی: هغه ( یعنیٰ عیسیٰ مسیح ) ستاسو د ټولو ګناهونو بدنامی او ملامتیا په خپل ځان ومنله او تاسوئی د هغی د شر څخه آزاد کړی.

× سزاګانی: تاسو په مرګ محکوم شوی وۍ، مګر عیسیٰ مسیح ستاسو پرځای مړشو او ستاسو سزا ئی په خپل ځان قبوله کړه ځکه چې د ګناه بدله او سزا چې مرګ وه. نو عیسیٰ مسیح د خپل ژغورونکی په صفت منلو سره مود ګناه د سزا څخه چې په مرګ محکومیدل وو خلاصون وموند.

× د ګناهونو قدرت:- عیسیٰ مسیح پر شیطان بریالی شو او د ګناه هغه قدرت ته چې پر تاسو مسلط شوی وو ماتی ورکړه. نوي لوظنامه دغه موضوع په ډاګه کوی او وائی : " خواوس تاسو د ګناه د غلامی نه آزادیۀ..........ځکه چې کله چې یوسړی مړشی نو د ګناه دقوت نه آزاده شی. همدغه شان تاسو خپل ځانونه د ګناه لپاره مړه وګڼی، او دعیسیٰ مسیح سره په شاملیدو کښې د خدای په نزد ژوندی یی. لنډه داچې، څوک چې د عیسیٰ مسیح سره یووالی لری د هغوی مجرم کیدل نشته. "

( رومیانو ته خط ۶ : ۲۲ او ۷ او ۱۱، ۸ : ۱ )

## ستاسو کار

### هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱- د ګناه، بدلی، او دهغی د قدرت څخه آزاده شوی یيء ځکه چې ...........

الف- عیسیٰ مسیح مو د خپل ژغورونکی مالک په صفت منلی دی.

ب- خیراتونه او نیک نیک کارونه مو ترسره کړیدي.

ج- اراده موکړې ده چې خپله تګ لاره سمه کړی.

× د ګناه وسوسه: د ځینو یوازی په همدی چې خدای ئی ژوندون بدل کړی، بدعادتونه ئی هم له منځه وړل کیږی. مګر ځینی نور باید تکلیف او سختی وګالي او کوښښ وکړی څو مثلاً د سیګرتو، او نورو نشه لرونکو موادو د غلامی څخه آزادشی. دغه کسان دی همیشه په دعا او ایمان کښې دخدای سره وخت تیروی نو خدای به هغوی بریالی کړی. د یوحنا انجیل وائی: "که چیری زوی تاسو آزادوی تاسو په رښتیا آزاد یی." (یوحنا ۸: ۳۶)

د یعقوب په لیک کښې راغلی دی: "... د خدای تابع شی او دابلیس مقابله وکړی نو هغه به درنه وتښتی" (یعقوب ۴: ۷)

که چیری اوس هم د ناوړه عادتونو سره په شخړي او مقابله کښې یاست نو دخپل کوښښ او زیار څخه لاس مه اخلی ، بلکه هغه ته دوام ورکړی.

کله چې شیطان تاسو ته وسوسی اچوی په ایمان او هغه کامیابی باندی تکیه کوی چې عیسیٰ مسیح در بخښلی ده. د خدای په ثنا او صفت پیل وکړی نوډیر ژر به وګوری چې په وسوسه بریالی کیږی. د کلیسا پالونکی هم تاسو ته کولای شی چې دعا وکړی او هغه اغیزمنده واقع شی.

تر څو چې پدی دنیا کښې ژوندکوو نووسوسه به زمونږ پسی ګرځی، او مونږ به لټوی او نا آرامه کوی. خو کله چې آسمان ته ورسیږو د ګناه د هر قسم اغیزی او تړاو څخه به آزاد شو.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۲- یو حنا ۸: ۳۲ او یعقوب ۴: ۷ له یاده زده کړی.

۳- مقدس کتاب پدی عقیده دی چې شیطان ..........

الف- به تاسو ته ماتی درکړی که چیری ورسره مقابله وکړی.

ب- به له تاسو څخه تیښته وکړی که چیری ورسره مقابله وکړی.

ج- ستاسو مقابلی ته هیڅ اهمیت ورنکړي .

×- د ګناه نتایج او عواقب:- په دی دنیا کښې د ګناه او دهغی دناوړو عواقبو او نتائجو لکه تکلیف، درد ، غم او مرګ سره مخ

یی. مګر یوه ورځ به داسی راشی چې خپل همیشني کورته ورشی، چې هلته به د ګناه او دهغی نتیجو کوم تاثیر او اغیزه نه وی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۴- د ري ځوابونه غوره کړی.

د ګناه د کومو برخو څخه کیدای شی چې د عیسیٰ مسیح په وسیله آزاد شوو؟

الف- وسوسه او آزموینښت.

ب- د ګناه ناوړه او سخت بد کارونه.

ج - د ګناه ټولی نتیجی.

د -دګناه قدرت

ه- د ګناه حضوروالئ

و- د ګناه څخه خبردارئ.

## دویری او ډار څخه آزادی

د نورو څخه ویره ستاسو لپاره کومه معنی نه لري ځکه چې ستاسو ژوندون د خدای د څارنی او مراقبت لاندی دی. لکه څنګه چې د خدای کلام وائی چې ستاسو ژوندون د مسیح سره په خدای کښې پوښل شوی او پټ دی، بنایي لازمه وی چې د عیسیٰ مسیح په خاطر تکلیف او کړاو تیر کړی، او حتیٰ چې مړه هم شی، خو هغه به

همیشه تاسو سره وی او ستاسو ملګری په وی. هیڅ یوه پیښه به دهغی د اجازی نه بغیر تاسوته نه پیښیږی.

" ..... که خدای زمونږ په طرف دی نوبیا زمونږ مخالف څوک کیدی شی؟ " ( د رومیانوپه نوم خط ۸: ۱۳)

تاسو د جادوګرو او دجادو د اثر، او بد قسمتی ( بخت ) او د دی په رنګ نورو شیانو څخه کومه ویره مه کوئ. هر کله چی مسیح خپل ملګری بولئ او د خپل ځان ور سره یوځای ګڼئ نو دا لاژمه نده چې په خرافاتی کارونو او جادوګرئ لاس پوری کړئ.

طالع کتل ، ورغوی ته کتل ، او فال نیونه او داسی نور کارونه باید په مسیحی ژوندون کښې مداخلت، ونډه او ځای ونه لري. او په حقیقت کښې به دغه کارونه د عیسیٰ مسیح د تکلیف او نارضایت سبب شی. او بالاخره مونږ به د هغی د مرستی، ساتنی او څارنی څخه بی برخی کړي.

خدای پخپله فرمائیلی دی چې : " زه به هیڅکله هم تاسونه بی پرواکیږم نه،نو ځکه مونږ ډیر په زړه ورتیا سره دا وایو چه ، مالک خدای زما مدد ګاردی، زه به ویره نه کوم، انسان به می څه وکړی؟ "

( د عبرانیانو په نوم لیک ۱۳: ۵ او ۶ )

"...... ځکه چې هغه څوک چې په تاسو کښې دی هغه د هغه چانه ډیر زورور دی چې په دنیا کښې دی " اول یوحنا ۴: ۴ .

یعنی هغه روح چې په تاسو کښې دی هغه د هغه روح نه چې په دی دنیا کښې کار کوی ډیر قوی دی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوۍ

**۵**- دویری څخه د خلاصی بهترینه لار داده چې :

الف- د جادو د طاقت څخه کاروا خلو.

ب- دیو مخه ورسړی د مجسمی یا قبر مخ ته شمعی بلی کړو.

ج- په مالک خدای توکل او اعتبار وکړو .

### د غلطیواو سرګردانۍ څخه آزادی

شیطان په میلونونو کسان ددروغجنو دینونو په دام کښې ښکیل کړی دی.او جنت ته درسیدلو دلاری په باره کښې ورته غلط عقاید ورزده کوی.تردی پوری چې لمر، سپوږمی، ستوری، ډبری ته سجده ږدې او پرستش ئی کوی. او امید لری چې د خوب او الهام او خیال دلاری به حقیقت ته ورسیږی، او هغه به پیدا کړي، د مړو د روحونو لمنی راټینګوی، شمعی او عنبریني پلتی د خپلو هغه خدایانو لپاره بلوی او سوځوي چې په خپله ئی‌خپل ځان لپاره جوړ کړئ او ټاکلی دی. او د قربانی او هغی ته د زیارت کولو لپاره دورتګ په وسیله د هغوی دروحونو څخه غوښتنی او سوالونه کوی.

د خدای کلام – نه انسانی باورنی او عقیدی ـ مونږ ته د آسمان (جنت) حقیقی لاری راښیی. هر کله چې تاسو د خدای کلام لولی نود دی شکونو او غلطیو څخه په امان پاتي کیږئ او په حقیقت پوهیږی.

"او تاسو به په حقیقت پوهه شی او حقیقت به تاسو آزاد کړی." (یوحنا ۸: ۳۲)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۲ـ څرنګه کولای شی چې د د غلطی او شک څخه په امان پاتی شی.

الف- د هغه خوبونو د تعبیر وسیله کوم چې تاسوئی ی وینی.

ب- د هغه عقاید و دمنلو په وسیله چې غیر مسیحیان ئی د جنت په باره کښې لری.

ج- دهغه حقائقو په منلو سره چې په مقدس کتاب کښې بیان شوي دي.

د مقدس کتاب دهغه آیتونو څخه چې په لاندی ډول بیانیږی را معلومیږی چې خدای په کومه اندازه دهغه مجسمی او بتانو مخالف دی کومی چې خلک ئی عبادت او لمانځنه کوی.

اوس موچې خپل ژوندون هغه ته ورکړی دی، نود هغه لارښوونی ستاسو لپاره دبل هر هغه وینا او وعدو څخه چې د شک

او غلطی احتمال ورته سرایت کوی ترجیح او بهتروالی لری. د خدای قوانین او لارښونی تاسو د هغووعدو دبند څخه ازادوی کومی چې موهغه مجسمو او بتانو سره کړی دی. مقدس کتاب وائی " تالره دی زما څخه بغیر نور خدایان نه وی، هیڅ قسم یوبت د حیوان انسان، مرغه او ماهی په شکله ځان ته مه جوړوئ، هغی ته سجده مه کوی او دهغه عبادت مه کوی. ځکه چې زه ابدی شخصیت ستاسو خدای یم، ستاسو غیرتمندخدای! څوک چې ماسره دشمنی وکړی هغوی ته سزاورکوم. د پلرونو د ګناه بدله د اولادو څخه تردریم او څلورم نسل پوری د هغه چاد نسلونو څخه اخلم چې ماسره ئی دښمنی کړي وی. " (خروج ۲۰: ۳-۵)

په یو بل ځای کښې فرمائی :

" ستاسو په منځ کښې داسی یو کس ونه موندلی شی چې خپل ځوی یالور د اورنه تیر کړی او قربانی ئی کړی. او همدارنګه نه فال لیدونکی ،نه غیب ویونکی، نه افسونګر، نه ساحر،نه جوګی، نه د پیریانو څخه پوښتنه کوونکی، نه شرط وهونکی، نه داسی یوکس چې د مړه روحونه را حاضروی او دهغو څخه مشوری غواړی. هر څوک چې دغه کارونه کوی خدای تری نفرت لری. د همدی پلیتیو سبب دی چې خدای دغه قومونه له بیخه راوباسی او دهغوی خدای ولی ستاد مخی څخه لیری کوی. "(تثنیه ۱۸: ۱۱-۱۲)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۷- (دوه ځوابونه خوښ کړی)

مقدس کتاب مونږ د کوموګناهونو، غلطیو او شکونو څخه ویروی؟

الف- د بتانو عبادت.

ب- خدای ته دعا کول.

ج- درخصتی ورځ دارام لپاره ساتل او ځانګړی کول.

د- توبه او ایمان.

ه- دروحونو حاضرول او دهغوی پوری تړلی کارونه غوښتل.

## د موسیٰ د شریعت څخه آزادی

زرګونه کاله د مخه خدای د یهودو سره یوه لوظنامه وتړله. موسیٰ ددغه وعدی مفاد دخدای دلوری تر لاسه کړ او هغه ئی خپل قوم ورکړو.

دغه ذکر شوی لوظنامه په هغه قوانینو اولاږ ښونو مشتمله وه کوم چې د قربانی، سپیڅلوورځو، د عبادت مراسمو، او دخوړو د قوانینو او دودونو پوری اړه لرله .په مجموع کښې دغه قوانین یو تصویر او یوه اشاره وه عیسیٰ مسیح ژوندون ته، او هغه ژغورنی ته چې هغه به ئی دځان سره راوړی. هغه به په پوره معنی یوه عظیمه قربانی وی چې د قوم ګناهونه به پاک کړی، او هم به د موسیٰ د قانون او شریعیت حکمونه په پوره ډول عملی کړي، او ټولو هغه کسانو سره به که یهود وی یا غیر یهود، نوی لوظنامه ورکړی چې هغه د خپل ژغورونکی مالک په صفت ومنی.

لنډه داچې د موسیٰ شریعیت د عیسیٰ مسیح دراتلو پوری د اعتبار او عمل وړوه او دهغی د راتلو نه وروسته مونږ دنوی

لوظنامی په پیروی ګمارل شوي یو، چې باید په ښه توګه ئی عملی کړو.

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۸- ( دری ځوابونه غوره کړی )

هغه آزادی چې د خدای ځامن ئی لري، لاندینی کومی آزادۍ پکښې شاملی دی.

الف- دویری ،ډار، او شرارتی روحونو څخه آزادی.

ب- د درو غجنودینونو څخه آزادی.

ج- د ټولنیزو دندو څخه آزادی.

د- د موسیٰ د شریعیت څخه آزادی.

ه- د خپلو خواهشاتو څخه آزادی

ځینی دشنبی دورځی سپیڅلتیا یو ضروری او لاژمی کار ګڼی او ځینی نور نه پوهیږی چې د دی په اړوند د موسیٰ د شریعیت پیروی وکړی او که نه. باید پوه ه شی چې دکومی ورځی څخه چې مسیح دمړوله منځه راپورته شوي دي مسیحیان په خپلو منځو کښې د یکشنبی په ورځ د عیسیٰ مسیح د مړوڅخه دبیارا پورته

کیدو دورځی په یاد سره راغونډیږی. رسولانو به دغی ورځ ته دمالک خدای ورځ ویله.

مسیحیانو یوه ورځ په هفته کښې دآرام او دخدای کورته د تللو لپاره غوره کړي ده. په هر صورت، د یکشنبی ورځ سپیڅلتیا او دهغی خیال ساتل هیڅ یو قانون او شریعت نه ده ټاکلی، بلکه دهغه محبت او مینی په خاطر چې د عیسیٰ مسیح سره ئی لرو د دغی ورځی درناوی کوو او دآرام ورځ ، او د عبادت فرضیت ئی بولو. مقدس کتاب دنوي لوظنامه زیری وائی: " او دمالک په ورځ یعنی د اتوار ورځ وه، چې روح القدس په ماغلبه وکړه" ( مکاشفه ۱ : ۱۰ )

هغه کسانو چې د موسیٰ د شریعیت پیروی کوله، اجازه ئی نه درلوده چې د هر حیوان او څاروی غوښه وخوری. خونوي لوظنامه داسی اجباری او د زور او لزوم قوانین نه لري. په حقیقت کښې مونږ هم دهغی آزادی څخه برخمند یو، کومه چې خدای انسان ته د موسیٰ د شریعیت نه مخکی ورپه برخه کړی وه. خدای نوح ته ویلی وه. چې وینه به نخوری او همدا قانون او امرپه نوي لوظنامه کښې هم تکرار شوي دي. مگر مونږ کولای شو چې هر قسم غوښه وخورو. مقدس کتاب وائی:

" ټول ژوي (حیوانات)، دهوامرغان، دځمکی خوزنده ځناور او د دریابونو کبان تاسو خوړلی شی، او لکه د شنو وښو په څیر می تاسو ته درکړی دی. مگر غوښه یې دوینی سره چې هغه ژوند دی مه خوری. " ( پیدا ایښت ۹ : ۳ او۴ )

" ځکه چې د خدای هر پیدا کړی ښیزښه دی، او هیڅ خیز د انکار لایق ندی. خو پدی شرط چې د شکر گزاری سره وخوړی شی.

دا د دی دپاره چې هغه د خدای په کلام او دعا پاک شی." (اول تیموتیوس ۴: ۴ او ۵)

ټول هغه شیان چې خدای پیدا کړی ښه دی او لاژم نده چې هر هغه شی په شکر سره منل کیږی هغه دی پلید وشمیرل شی ځکه چې هغه دخدای د کلام او دعا په وسیله پاکیږی.

"هر څه چې د قصابانو په دوکانونو خرڅیږی هغه خوری او د ضمیر په خاطر سوال مه پورته کوی .که څوک غیر ایماندار تاسوته ډوډوی درکړی او تاسوپه تلو راضی یۍ. نو هر څه چې درته وړاندی کیږی هغه خوری او دضمیر دخاطر سوال مه پورته کوۍ." ( دکورنتیانو په نوم لومړی خط ۱۰: ۲۵او۲۷ )

" نو هیڅوک هم د خوراک څښاک یا داختر یادنوی میاشت یادسبت په هکله دی په تاسو الزام ونه لګوی." ( د کولو سیانو په نوم خط ۲: ۱۲ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوۍ

۹- مقدس کتاب تعلیم ورکوی چې مسیحیان.

الف- کولای شی چې هر قسم غوښه وخوری.

ب- کولای شی چې دځینو ژویو او څارویو غوښې وخوری .

ج- بايد هیڅ قسم غوښې ونه خوری .

## د غصې څخه آزادي

آسمانی پلار تاسو سره مینه لری او ستاسو د ژوند ضروریات پوره کوی .په هغه اعتماد او باور وکړی. نوي لوظنامه وائی: " او خپل ټول فکر په هغه واچوی ځکه چې هغه ستاسو خیال لری " (اول پطرس ۵: ۷)

" نو دا اندیښنی مه کوی چې ځه به وخورو یا څه به وڅښو یا څه به واغوندو؟ پدی ټولو ځیزونو پسی نورقومونه زغلی. ځکه چې ستاسو آسمانی پلار پوهیږی چې تاسوته د هر څه حاجت دی. تاسو د هر څه نه اول د خدای د پادشاهی او دهغه دریښتینولی لټون کوی، نونور هر څه به تاسوته پخپله حاصل شی " (متی ۲: ۳۱- ۳۳)

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسوئی سرته ورسوی

۱۰- اول پطرس ۵: ۷ له یاده زده کړی .

۱۱- که چیری په زړه کښې غصه لری، د دعا په ذریعه هغه د مالک خدای مخی ته وړاندی کړی، او نور مه په غصه کیږی بلکه د هغه شکر ادا کوی.

## دناروغی څخه آزادی

عیسیٰ مسیح، سترډاکټر،او ستاسو یوډیر ښه په زړه پوری ملګری دی .

تاسو سره مینه کوی او غواړی چې همیشه دی تاسو روغ اوسې، هغه اوس هم خلکو ته شفا ورکوی. کله چې ناروغه او ناخوښی او خفه اوسی نو دکلیسا دپالونکو او دهغی د مدیره هیئت څخه وغواړی چې تاسو ته دعا وکړی.

"...... او په کومو ناروغو چې هغوی لاس کیږدی هغوی به جوړشی" (مرقس ۱۲: ۱۸)

" که په تاسو کښې څوک بیماروی نو دجماعت (کلیسا) مشران دی راوبلی او دهغه دپاره دی دعا وغواړی او دمالک په نوم دی هغه په تیلو غوړ کړی .او کومه دعا چې به په ایمان سره وغوښتی شی دهغی په وجه به بیماربچ شی، او مالک به هغه پاڅوی، او که هغه ګناهونه کړی وی نو هغه په هم ورته معاف شی." (یعقوب ۵: ۱۴-۱۵)

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱۲- که چیری ناروغه اوسی د کلیسا د مشرانو او پالونکو څخه وغواړی چې ستاسو لپاره دعا وکړی. او یا درپوښ ورکونکو ډلو ته اطلاع ورکړی څو تاسو ته دعا وکړی .

## د آزادی راتلونکې یا مستقبل

اوس د ډیری لوړی آزادی څخه خوند اخلی، مګر کله چې مسیح دنیا ته بیرته راشی، نو د خدای زامن به دهغی په حقیقی معنی

وپوهیږی او هغه وخت به خدای زامنوته آزادی دهغی په حقیقی معنی وروپیژنی .

ستاسو بدن ته به تغیر ورکړی شو د هغی د خپل بدن په شان کامل شی، او تاسو به آسمانی کورته بوځی. او بالاخره عیسیٰ مسیح به دنیا د ګناه او دهغی د ناوړه نتائجو او عواقبو څخه پاکه، او آزاده کړی. د دی موضوع په هکله نوي لوظنامه وائی : " هغه به دهغوی دسترګو ټولی اوښکی وچی کړی. هلته په نه مرګ، نه ویره، نه ژړا او نه درد وی. ځکه چې ړومبی څیزونه تیرشوی دي". ( مکاشفه ۲۱: ۴ )

"ځکه چې مخلوقات د فنا تابع کړی شول نه د هغوی په رضا بلکه د خدای په رضا ، خودائی امید وه چې مخلوقات په یوه ورځ د فنا کیدونه آزاد شی. او د خدای د بچو د جلال په آزادی کښې به شامل شی" ( رومیان ۸: ۲۰-۲۱ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱۳- مکاشفه ۲۱: ۴ څلورځلی ولولی.

## د آزادی دوام او همیشه والی

د مسیح د بیاراتګ او ښکاره کیدو پوری به د شیطان سره په جنګ او شخړو اخته یو. وسوسی او آزمیښتونه به مونږ لټوی او

مونږ پسی به زمونږ کورونو او د پناه ځایونو ته راځی. خو مونږ باید څوک پری نه ږدو چې زمونږ آزادی زمونږ نه واخلی . ځکه چې !

“ مسیح مونږ آزاد اوسیدلو د پاره آزاد کړی یو، نوبیا پری ټینګ اوسی، او بیا غلامان مه جوړیږی.“ ( د ګلتیانو په موم خط **۵**: ۱ ).

همیشه په یادولری چې آزادی او نوی ژوندون ستاسو په هڅي او هاند پورې تړلئ نه دئ. بلکه د عیسیٰ مسیح راتګ او دهغی د قدرت پوری چې په تاسو کښې کار کوی ،تړاو لری. مسیحیت دیوڅو خاصو او معلومو قوانینو عملی کول نه دی بلکه مسیحیت عبارت دی د” مسیح په تاسو کښې د امید او جلال “ څخه. هغه آزادي او نوئ ژوندون مو چه په مسیح کي تر لاسه کړئ دئ، د هغی قدر او قیمت وپیژنی، او دژوندون په ټولو کارونو کښې دهغی څخه ګټه واخلی ،په مقدس کتاب کښې دنوی لوظنامی څخه دا حقیقت راڅلیږی چې وائی څوک چې د مسیح سره یووالی لری د نوی ژوندون خاوند دی. هر هغه څه چې زاړه وه تیر شول او دا دی اوس نوی ژوندون شروع شوي دي .

“ د دی دپاره که څوک په مسیح کښې وی هغه نوی مخلوق دی زاړه څیزونه تیر شول. وګوری هغه اوس نوی شول.“ ( دوهم کورنتیان **۵**: **۱۷** )

“ زه د مسیح سره په سولی شوی یم، او اوس زه ژوندی نه یم بلکه مسیح په ما کښې ژوندی دی . او زه چې اوس کوم ژوند لرم نو دخدای په زوی په ایمان راوړلو کښې یې‌تیروم چاچې زما سره مینه

کړي ده او خپل ځان یی زما دخاطره ورکړو.“
( د ګلتیانو په نوم لیک ۲: ۲۰ )

## ستاسو کار

## هغه څه چې تاسوئی باید سرته ورسوی

۱۴- د مسیح دکړنلاری او ژوند ددرلودلو لپاره باید :

الف- قوانین عملی کړو.

ب- اجازه ورکړی چې عیسیٰ مسیح په تاسو کښې ژوند وکړی .

ج- کوښښ او زیار وباسی او د درنو باورنو دستونزو سره مقابله وکړی .

۱۵- دوهم کونتیان ۵: ۱۷ او د ګلیتانو په نوم لیک ۲: ۲۰ په یاد زده کړی .

## خپل ځوابونه مقایسه کړی

۱-الف- عیسیٰ مسیح مودخپل ژغورونکی مالک په صفت منلی دی .

۳- ب- له تاسو نه به وتښتی که چیری ورسره مقابله وکړی .

۴- ب-د ګناه ناوړه او سخت بدکارونه .

د - د ګناه قدرت

و- د ګناه آګاهی او خبرداری او ثرګندوالی .

۵- ج- په مالک خدای توکل او اعتبار وکړو.

۶- ج- د هغه حقایقو په منلو سره چې په مقدس کتاب کښې بیان شوي دي.

۷-الف- بت پرستی.

ه- دروحونو حاضرول او دهغوی پوری تړلی کارونه غوښتل.

۸-الف- دویری او شرارتی روحونو څخه آزادی.

ب- ددرو غجنو دینونو څخه آزادی.

ج- دموسیٰ د شریعیت څخه آزادی.

۹-الف –کولای شی چې هر قسم غوښه وخوری.

۱۴ _ ب _ اجازه ورکړې چه مسیح په تاسو کښې ژوند وکړي.